کندهاري ورونه

لیکوال:

محمد معصوم هوتک

کندهاري ورونه

لیکوال

محمدمعصوم هوتک

د چاپ حقوق په خپرندویه ټولنه اړه لري

د کتاب پېژندنه :

❖ د کتاب نوم	:: کندهاري ورونه
❖ لیکوال	:: محمدمعصوم هوتک
❖ د لیکلو پیل	:: ۲۶ نومبر ۲۰۰۶ع
❖ بشپړېدل	:: ۱۳ مې ۲۰۰۸ع
❖ د لیکلو ځای	:: اوکویل - کاناډا
❖ خپرندوی	:: علامه رشاد خپرندویه ټولنه / کندهار
❖ کمپوز او ډیزاین	:: علامه رشاد کمپیوټر اداره / کندهار
❖ چاپ چاري	:: صحاف نشراتي مؤسسه
❖ چاپکال	:: ۱۳۸۷ ش - ۲۰۰۹ع
❖ چاپشمېر	:: ۱۰۰۰ ټوکه
❖ د خپرونو لړ	:: (۲۷)

اړیکي

m_rohyal2006@hotmail.com
mrohyal@gmail.com

ګرځنده

۰۰۹۳(۰) ۷۰۰۳۲۲۶۰۱۱

بسم الله الرحمن الرحيم

زموږ د تاریخ یوه پاڼه

تاریخ د عبرت لوست دئ، چي له بدو څخه یې باید پند واخیستل سي او ښې خواوي یې تعقیب سي، زموږ هېواد اوږد تاریخ لري، تاریخي پیښي یې هېښوونکي او ویښوونکي دي، زموږ ولس همېشه دغو هېښوونکو پیښو راویښ کړی دئ، ځکه یې نو د هېواد په تاریخ کي د بېلابېلو تاریخي دورو بابونه پرانیستلي دي.

له سدوزو څخه بارکزو ته د پاچهۍ انتقال زموږ د تاریخ ځانګړی څپرکی جوړوي، نو په اصطلاح دغه نوی څپرکی باید د خپل تاریخ یوه نوې دوره وبولو. د دغي دورې واکمنان ټول د سردار پاینده خان اولاده ده، سردار پاینده خان د بېلابېلو مېرمنو څخه یوویشت زامن درلودل، چي ټولو پخپل وخت کي د افغانستان پر بېلابېلو سیمو واکمني کړې، د دغو یوویشتو ورونو څخه پنځه وروڼه د کندهاري سردارانو یا کندهاري وروڼو په نامه په تاریخ کي مشهور دي، دغه پنځه کندهاري سرداران د یوې مور زامن دي، چي د واکمنۍ دوره یې پر کندهار تېره سوې ده.

د کندهاري وروڼو واکمني د بارکزو د لویي پاچهۍ یو ځانګړی جغرافیایي موقعیت تر خپلي ولکې لاندي اداره کاوه، دا چي د دغي ستري پاچهۍ په باب بېلابېل کتابونه لیکل سوي، نو په ضمني توګه د کندهاري وروڼو د واکمنۍ تاریخي پیښي هم ورسره ذکر سوي دي، خو لکه څنګه چي دغه کورنۍ د افغانستان په تاریخ کي د ځانګړي اهمیت لرونکې ده او د کورنۍ ډېرو غړو یې د سیاسي او اداري وړتیا تر څنګ د هېواد د ادب او فرهنګ له پاره نه هېرېدونکي کارونه کړي په هغه ډول نه وه راپېژندل سوې،

دغه تشه زموږ په عمومي تاریخ کي یو ځانګړی کمی و، چي د دغه کمي او تشي د ډکولو له پاره د هېواد تکړه مؤرخ او محقق لیکوال استاد محمد معصوم هوتک د (کندهاري ورونه) په نوم ستاسي په لاس کي مغتنم اثر لیکلی دئ، د کندهاري ورونو په باب د دغه ډول کتاب لیکل به زموږ په عمومي تاریخ کي د یوې ځانګړي او مشهوري کورنۍ او پر افغانستان باندي د دغي کورنۍ د غړو د سیاسي تبارز تر څنګ د هغوی د بېلابېلو علمي او فرهنګي څېړو په راپېژندلو کي د یوه مؤثق مأخذ حیثیت ولري.

د دغه کتاب ځیني برخي په ښکلا مجله کي په پرله پسې ډول خپري سوي دي، خو د یوه کتاب په شکل یې علامه رشاد خپرندویه ټولنه د خپرېدو ویاړ تر لاسه کوي، موږ د ښاغلي استاد محمد معصوم هوتک د دغه مغتنم اثر خپرېده یو ښه فال بولو، او د نورو لیکوالو او پوهانو څخه مو غوښتنه دا ده چي د هوتک صاحب غوندي د افغانستان په تاریخ کي پر دغه ډول سیاسي او ادبي کورنیو باندي کتابونه ولیکي، څو زموږ د تاریخ بېلابېل ګوټونه د دوی د څېړونو په رڼا کي روښانه او د راتلونکي نسل له پاره د عبرت درس وګرځي.

په درنښت

علامه رشاد خپرندویه ټولنه

کندهار – افغانستان



د کتاب لیکوال، محمد معصوم هوتک
په شپېته کلنۍ کې

فهرست

۱. د پیل خبري ۱
۲. حاجي جمال خان ۳
۳. سردار پاینده خان ٦
۴. سردار هارون خان ۱۳
۵. کندهاري سرداران ۱۵
٦. پر کندهار باندي د کندهاري ورورنو ۱۷
۷. پر هرات باندي د کندهاري ورورنو ۲۲
۸. د کندهاري ورورنو سیاسي او ملي دریځ ۲٦
۹. له کندهاري ورورنو سره د سیداحمد ۲۹
۱۰. د کندهاري ورورنو د واکمنۍ زوال ۳۴
۱۱. د کندهاري سردارانو د کورنۍ سیاسي.... ۳۸
۱۲. د سردار پردل خان کورنۍ ۳۸
۱۳. سردار میړ افضل خان ۴۲
۱۴. سردار عبدالوهاب خان (امین المکاتب) .. ۴۴
۱۵. سردار عبدالرحمن خان ۴٦
۱٦. سردار عبدالحبیب خان................ ۴۸
۱۷. د سردار شېردل خان کورنۍ................ ۵۰
۱۸. د سردار کهندل خان کورنۍ................ ۵٦
۱۹. سردار غلام محی الدین خان ٦۰

٢٠. سردار احمد جان خان ٦٠
٢١. سردار هاشم خان ٦٠
٢٢. فرید میوندي ٦٠
٢٣. د سردار رحمدل خان کورنۍ ٦٦
٢٤. بي بي حوا ٧٠
٢٥. سردار غلام محمد خان طرزي ٧٣
٢٦. سردار محمدعلم خان ٩٨
٢٧. علامه محمود طرزي ١٠٢
٢٨. محمود طرزي د سید جمال الدین ١٠٧
٢٩. محمود طرزي او سراج الاخبار ١٠٨
٣٠. د محمود طرزي سیاسي او فرهنګي ١١٢
٣١. محمود طرزي د ژول ورن پر لار ١١٥
٣٢. د محمود طرزي د آثارو بشپړ لیست ١٢٥
٣٣. د احمد احسان بېګ په باب ځو خبري ١٣٣
٣٤. د ژول ورن د آثارو د خپروونکي هتزل ١٣٤
٣٥. په تبعید کي له پښتنو سره اړیکي ١٣٤
٣٦. دوهم بېلتون ١٣٦
٣٧. د محمود طرزي کورنۍ ١٣٨
٣٨. لالا محمد زمان خان طرزي ١٤٦
٣٩. حاجي عبدالخالق ١٥٢
٤٠. ګل محمد خان درانی ١٥٦
٤١. سردار حبیب الله خان طرزي ١٥٩
٤٢. غلام یحیی طرزي ١٦٢
٤٣. سردار محمدامین عندلیب ١٦٤
٤٤. د سردار مهردل خان مشرقي کورنۍ ١٧٠
٤٥. سردار خوشدل خان ١٩١

۴۶. والي شېرعلي خان ۱۹۶
۴۷. سردار شېرپندل خان ۲۰۶
۴۸. سردار خرم دل خان ۲۰۶
۴۹. حکمران محمدرفیق خان ۲۰۶
۵۰. سردار شاه محمد خان ۲۰۷
۵۱. مدیر گل محمد خان مشرقي ۲۰۷
۵۲. د شاغاسیانو کورنۍ ۲۰۹
۵۳. د لویناب شېردل خان کورنۍ ۲۱۰
۵۴. خوشدل خان لویناب ۲۱۶
۵۵. د شاغاسي شېردل خان لونې ۲۲۰
۵۶. علي احمد خان والي ۲۲۳
۵۷. شاغاسي عطاء الله خان ۲۲۹
۵۸. شاغاسي محمدسرور خان ۲۳۰
۵۹. محمدابراهیم خان ۲۳۲
۶۰. وزیر عبدالعزیز خان ۲۳۳
۶۱. عبدالحکیم خان ۲۳۴
۶۲. شاغاسي محمود خان یاور ۲۳۵
۶۳. محمدافضل خان شېردل ۲۳۷
۶۴. د سرېو نومونه ۲۴۷
۶۵. د ځایو نومونه ۲۶۴

د عکسونو فهرست

۱. سردار پاینده خان ۱۲
۲. سردار پردل خان ۴۱
۳. سردار شېردل خان ۵۵
۴. سردار کهندل خان ۵۹
۵. د بي بي حوا مسجد ۷۱
٦. سردار غلام محمد خان (طرزي افغان) ۷٦
۷. د سردار غلام محمد خان د دېوان لومړی مخ ۹۰
۸. د سردار غلام محمد خان د دېوان د سریزې لومړی.. ۹۱
۹. محمود طرزي ۱۰٦
۱۰. د سراج الاخبار د دوهم کال نهمه ګڼه ۱۱۰
۱۱. محمود طرزي ۱۱۱
۱۲. محمود طرزي د خپلې کورنۍ د غړو سره ۱۱۴
۱۳. ژول ورن ۱۱٦
۱۴. محمود طرزي د امیر امان الله خان په کابینه کې ... ۱۱۹
۱۵. محمود بېګ طرزي او سردار عنایت الله خان ۱۲۴
۱٦. محمود طرزي د میسور کنفرانس د غړو سره ۱۲۹
۱۷. محمود طرزي او اسماء رسمیه ۱۴۲
۱۸. صالح افندي او ادیب خان ۱۴۳
۱۹. خیریه (د سردار عنایت الله خان مېرمن) ۱۴۴
۲۰. ملکه ثریا (د امیر امان الله خان مېرمن) ۱۴۴

۲۱. عبدالوهاب طرزي (د محمود طرزي زوی) ۱۴۴
۲۲. حاجي عبدالخالق ۱۵۳
۲۳. سردار حبیب الله طرزي ۱۶۰
۲۴. غلام یحیی طرزي ۱۶۳
۲۵. سناتور سردار عبدالله جان طرزي ۱۶۸
۲۶. سردار مهردل خان مشرقي ۱۷۱
۲۷. د سردار مهردل خان مشرقي د دېوان عکس ۱۷۹
۲۸. د شرح بیتین د خطي نسخې لومړی مخ ۱۸۳
۲۹. لویناب شېردل خان ۲۱۵
۳۰. شاغاسي خوشدل خان لویناب ۲۱۹
۳۱. علیا حضرت سرور سلطانه ۲۲۲
۳۲. علیا حضرت سرور سلطانه او لونې ۲۲۲
۳۳. والي علي احمد خان ۲۲۸
۳۴. شاغاسي محمدسرور خان (بابا)................... ۲۳۱
۳۵. وزیر عبدالعزیز خان........................... ۲۳۴
۳۶. شاغاسي محمود خان یاور ۲۳۶
۳۷. محمد یوسف شېردل، حاجي عبدالصمد خان ۲۳۸

د پېيل خبري

د تاريخ هغه لوستونکي به ښايي د (کندهاري وروڼو) يا (کندهاري سردارانو) له اصطلاح سره زيات مخامخ سوي وي، چي په نونسمه پېړۍ کي يې د افغانستان د حالاتو د مطالعې وخت موندلی وي. دا هغه وخت دئ چي پر افغانستان باندي د سدوزيو او بارکزيو د دوو متنفذو کورنيو ترمنځ خونړۍ جګړې رواني وې او په نتيجه کي يې د قدرت واګي له سدوزو څخه د بارکزو لاس ته ورغلې. د بارکزو دغه نوې واکمنه سوې کورنۍ د سردار پاينده خان له لسو ماندينو څخه د پاته سوو زامنو کورنۍ وه. د سردار پاينده خان د زامنو په دغه پراخه کورنۍ کي پنځه تنه له يوې موره وه. دا پنځه تنه، چي د (کندهاريو وروڼو) يا (کندهاريو سردارانو) په نامه يادېدل، له پردل خان، شېردل خان، کهندل خان، مهردل خان او رحمدل خان څخه عبارت وه. زما دغه اوسنۍ څېړنه د همدې وروڼو په باب ده. ما ته د (کندهاري وروڼو) په باب د مطالعې په ترڅ کي څرګنده سوې ده، چي د دې کورنۍ زيات شمېر غړو، په تېره بيا د مهردل خان مشرقي او رحمدل خان اولادې د هيواد په سياسي مقدراتو کي پر خپل رول سربېره، په ادبي او فرهنګي برخه کي هم د ستايني وړ نقش لوبولی دئ او همدې نقش زه د دې کتاب کښلو ته وهڅولم. د دې کورنۍ په باب زموږ مشرانو مؤرخينو ښه پوره اندازه ليکني کړي دي. د بهرنيو ليکوالو او مؤرخينو په آثارو کي هم د دوی په باب يادوني سته او اوسنيو څېړونکو هم پاملرنه ورته کړې ده. زموږ په هيواد کي د وروستيو څولسيزو په بهير کي، چي افغانانو د خپل تاريخ او فرهنګ په باب قلم چلولی دئ، د حجم په لحاظ يې په تېرو څو پېړيو کي ساری نه ليدل کېږي. خورا ډېر کتابونه پر خورا زياتو موضوعګانو باندي په دواړو رسمي ژبو (پښتو او پارسي) ليکل سوي دي، چي دا د خوشالۍ خبره ده. خو پر څنګ يې له دې ترخه واقعيت څخه هم انکار نه سي کېدلای چي د دې ليکنو زياتره برخه د جګړې د وخت د هيجاني او احساساتي قضاوتو تر اغېزې لاندي راغلې ده. موږ د هيواد په سياسي تاريخ کي د شاملو اشخاصو په باب قضاوت د مطلق (ښه) او مطلق (بد) يا مطلق (تاييد) او مطلق (ترديد) له زاويې څخه کړی دئ. يو څوک چي مو تر سترګو بد ايسېدلی يا بل چا راته بد ايسولی دئ، د هغه پر ښو کارو مو هم سترګي پټې کړي دي. څوک چي مو بيا د خپل قضاوت په ترازو کي دروند موندلی

دئ، د هغه نیمګړتیاوي مو بیا هیري کړي او وربخښلي دي. د (کندهاري ورونو) سیاسي رول چي هر راز و، ښه و، که بد، هغه د تاریخ په کتابو کي په تفصیل سره بیان سوی او ما یې هم پخپله همدې لیکنه کي یوه اندازه جاج اخیستی دئ. خو له دې واقعیت څخه هیڅوک انکار نه سي کولای چي په دې کورنۍ کي د سردار مهردل خان مشرقي غوندي عارف شاعر، د سردار غلام محمد خان طرزي غوندي کثیرالابعاد شخصیت او د پارسي ژبې د ویاړ وړ شاعر، د علامه محمود طرزي په شان پر افغانیت مین سیاستمدار، لیکوال، شاعر، ژورنالیست، ... تېر سوي دي چي د افغاني تاریخ او فرهنګ ویاړلي شخصیتونه دي.

ما هڅه کړې ده چي د دغي کورنۍ فرهنګي او سیاسي شخصیتونه خپلو وطنوالو ته د خپلي مطالعې په حدودو کي ور وپېژنم. دا کتاب یوه ضمیمه هم لري او هغه د شاغاسیانو کورنۍ ده. د دې کورنۍ سیاسي کردار هم د (کندهاري ورونو) د عروج له زمانې څخه راشروع سوی دئ ځکه نو ما د کتاب یوه برخه ورته ځانګړې کړې ده. په دې برخه کي زما محترم دوست ښاغلي محمدیوسف شېردل د خپلو خانداني شجرو او روایتو په باب معلومات راسره شریک کړي دي چي د زړه له کومي کور ودانۍ ورته وایم. دغه راز ښاغلي فرید میوندي هم د ډېري کوروداني مستحق دئ چي د خپلي کورنۍ تفصیلي شجرې یې را لېږلي دي.

زه فکرکوم چي په پښتو ژبه به دا لومړی کتاب وي، چي د دې دواړو کورنیو په باب پکښې تفصیلي بیان موندل کېدلای سي او هیله لرم چي زما دا لیکنه له ښاغلو لوستونکو سره د افغانستان دتاریخ پر هغه دوره باندي په پوهېدلو کي مرسته وکړي چي د ځینو اړخونو له مخي له ننۍ دورې سره ورته والی لري. له لوستونکو څخه هیله من یم چي د نیمګړتیاوو او تېروتنو په برخه کي مي پخپلو مشورو باندي وغځوي.

د دغه کتاب یوه برخه په ښکلا مجله کي چاپ سوې ده. زه د ښکلا مجلې چلوونکو ته د دغه اثر د خپرولو او د یو شمېر عکسونو د برابرولو له امله د زړه له کومي کور ودانۍ وایم د بشپړ کتاب د چاپ او ایډیټ په کار کي د علامه رشاد خپرندویي ټولني او په سر سره ګران مطیع الله جان روهیال ډېري خوارۍ کښلي دي. زه یې د احسان ممنون یم. د زلمیو په زړونو کي دي د کتاب لوستلو او خپرولو مینه همېشه وي.

محمدمعصوم هوتک
اوکویل - کاناډا
۱۳ مې ۲۰۰۸ع

حاجي جمال خان

د يوولسمي هجري پېړۍ په پای کي د هلمند د تاريخي سيمي د نادعلي په کلي کي د بارکزيو د قبيلې يو د روند مشر د خپل قام مشرتوب پر غاړه درلود، چي حاجي جمال خان نومېدی او په اولس کي وروسته په حاجي جمال نيکه مشهور سو. د حاجي جمال نيکه د مشرتوب زمانه د کندهار په ښار کي د ملي قايد حاجي ميرويس نيکه په لاس د يوه ملي حکومت د تاسيس له نېټې سره برابره ده[1].

د حاجي جمال خان پلار حاجي يوسف (توپچي باشي) نومېدی او د هغه محمد نيکه له اولادې څخه و، چي د محمدزو د قبيلې مورث اعلی بلل سوی دئ. د دغه محمد نيکه قبر د کندهار په ارغسان کي دئ[2]. د حاجي جمال خان د زېږېدو کال مؤرخينو ۱۰۹۸ هـ ق = ۱٦٨٦ع ګڼلی دئ او مړينه يې د ستر ټولواک لوی احمدشاه بابا (۱۱٦۰ - ۱۱۸٦هـ ق) تر وفات دوه کاله وړاندي يعني په ۱۱۸۴هـ ق = ۱۷۷۰ع کال کي پېښه ده. د مړيني پر وخت يې عمر په قمري حساب ۸٦ کاله و، چي په ميلادي محاسبه کي ۸۴ کاله

---

(۱) حبيبي، شل مقالې، ۵۳/۴ مخ.

(۲) په تواريخ خورشيد جهان ۱۸۳مخ، چاپ ۱۸۹۴ ع کي يې حاجي جمال خان د حاجي يوسف زوی د يارو لمسی او يارو يې محمدزی، نورالدين زی بارکزی بللی دئ. ښاغلي کاکاخېل په پښتانه د تاريخ په رڼا کښې هم د خورشيد جهان شجره نقل کړېده. ښاغلي عزيزالدين وکيلي پوپلزي په درة الزمان ۲۴۲ مخ کي بېله دې چي ماخذ وښيي حاجي جمال خان د يوسف خان زوی د سرور خان لمسی د يعقوب خان کړوسی د اختيار خان کوسی او د محمد نيکه کودی بللی دئ. په اماني عصر کي د ايران سفير او مؤرخ سيد مهدي فرخ په تاريخ سياسي افغانستان، ص ۲۱۵ چاپ ۱۳۷۱ ش کي حاجي جمال خان ابن حاجي محمد يوسف خان ابن محمد سرور خان ابن محمد يعقوب خان ابن اختيار خان ابن محمد بللی دئ، چي دا شجره او د ښاغلي عزيزالدين خان وکيلي په قلم ليکلې سوې شجره يو شان ده.

کېږي. د حاجي جمال خان نیکه قبر د کندهار د احمدشاهي ښار جنوب ته د ذاکر د کلي په جنوب لوېدیځ کي د یوه کوچني غرګي په لمن کي واقع دئ.

حاجي جمال خان له هغو څورلسو تنو ابدالي مشرانو څخه و، چي افشار نادر ورته د مشرتوب په سترګه کتلي وه. کله چي د شیر سرخ په جرګه کي د نوي افغانستان د زعامت پر سر باندي خبري کېدلې، حاجي جمال خان نیکه لومړی شخص و، چي د احمد خان (وروسته احمدشاه بابا) زعامت یې ومانه او د بیعت لاس یې ورکړ. د ده په پیروۍ د جرګې نورو برخه والو هم ځوان احمد خان د خپل مشر په توګه ومانه.

حاجي جمال خان نیکه دوې ښځي کړي وې. یوه یې بارکزۍ او بله یې غلجۍ وه. له دې دوو ښځو څخه یې څلور زامن او یوه لور پاته سول[۳]. زامن یې هارون خان، پاینده خان، رحیمداد خان او بهادر خان نومېدل. په دوی کي رحیمداد خان ته د پلار تر مړیني وروسته د قوم مشري ورسېده خو د دې ستر کار له پاره یې وړتیا نه درلوده ځکه نو د قوم د مشرتوب بګړۍ د ده پل سکه ورور پاینده خان ته ورسېدله. بهادر خان فقیرمشربه سړی و له دنیایي چاروسره یې جوړه نه وه. د هارون خان او پاینده خان په باب به په وروستیو پاڼو کي وړغېږو.

حاجي جمال خان یو وروور درلود، چي زبیر خان نومېدی.

---

(۳) وګ : www.۴dw.net/royalark/Afghanistan/barak/.com دانټرنیټ په دغه پاڼه کي د حاجي جمال خان نیکه د مړیني کال ۱۷۷۲ع ښوول سوی دئ چي د تامل وړ دئ.

د حاجي جمال خان شجره

- **محمد نیکه**
  - حاجي یوسف (توپچي باشي)
    - **حاجي جمال خان**
      - هارون خان* (مور: بارکزۍ)
        - امیرالدین خان
        - شهنواز خان
      - پاینده خان** (مور: غلجۍ)
      - رحیمداد خان (مور: غلجۍ)
        - عبدالامین خان
        - عبدالمجید خان
        - عبدالکبیر خان
        - عبدالسلیم خان
        - عبدالحکیم خان
        - عبدالحمید خان
        - عبدالله خان
        - عبدالواحد خان (د پېښور والي ۱۸۰۲ع)
        - بي بي حوا (د سردار رحمدل خان مېرمن)
        - لور (د سدوزي تیمورشاه مېرمن)
      - بهادر خان (حاجي درویش) (مور: بارکزۍ)
        - سردار محمد رحیم خان**** (امین الملک)
      - لور***

---

* په ځینو ماخذو کي د حاجي جمال خان په زامنو کي د هارون خان پر ځای (عبدالحبیب خان سخي) راغلی دئ.

** د سردار پاینده خان د اولادو شجري به پر خپل ځای ولولئ.

*** د سردار پاینده خان سکه خور او په سدوزي تیمورشاه واده وه.

**** یوه ښځه یې کشمیرۍ (بي بي کرمۍ) او بله یې د امیر دوست محمد خان کونډه وه.

سردار پاینده خان

د حاجي جمال خان نیکه څلور زامن پاته سول : هارون خان او بهادر خان مشهور په حاجي درویش له یوې مور (بارکزۍ) او سردار رحیمداد خان او سردار پاینده خان له بلي مور (غلجۍ) څخه ول[1].

سردار پاینده خان د پلار د مرګ پر وخت په یوه روایت د اتو کالو او په بل روایت د دوولسو کالو و او د خپل مشر سکه ورور تر سرپرستۍ لاندي لوی سو. شپاړس کلن و، چي د تیمورشاه له خوا د سردارۍ په خطاب وغتېول سو او وروسته یې د خپلو خدمتونو په چوټ له نامه سره د سر فراز خان لقب هم زیات سو.

سردار پاینده خان په هغه ډله کي شامل و، چي د شاه زمان سدوزي د رانسکورولو په نیامت جوړه سوې وه. د دې ډلي د جوړېدو او د هغې د وروستي سرنوشت تفصیلي بیان د تاریخ په کتابو کي داسي راغلی دئ.
شاه زمان سدوزي تخت ته له رسېدو سره سم په سلطنتي لوړ رتبه کسانو کي ځیني مهم بدلونونه راوستل او د هغو په لړ کي یې کامران خېل سدوزی رحمت الله خان د معتمدالدوله او وفادار خان په لقب وغتاوه او په دربار کي یې د ډېر قدرت څښتن کړ، چي په پای کي د خپل فطري استعداد له امله د (وزارت او کل مختاریت) رتبې ته ورسېد.

رحمت الله خان د دربار له اراکینو سره د هغوی له شان سره برابره وضعه نه کوله، تر دې اندازې چي سردار پاینده خان ته لا هم په سپکه کتل

---

[1] علامه حبیبي، شل مقالې، ۴ برخه ۵۲ مخ. په سراج التواریخ ۲/۲ مخ او درة الزمان ۲۴۰ مخ کي د حاجي جمال خان زامن په دې ډول ښوول سوي دي: سردار پاینده خان، عبدالحبیب خان، حاجي درویش خان او سردار رحیمدادخان. تواریخ خورشید جهان ۱۸۳ مخ، پښتانه د تاریخ په رڼا کښې ۱۲۷۴ مخ او موهن لال ۶۰ مخ کي د علامه حبیبي د روایت ملاتړ سته او سردار پاینده خان، سردار رحیمدادخان، هارون خان او بهادر خان یې د حاجي جمال خان په زامنو کي راوړي دي. ما (هوتک) وروستی روایت را نقل کړی دئ.

کېدله. دې حالت د دربار نور مخور په اندېښنه کي واچول او د يوې چارې په لټه کي سول. تر غور او فکر وروسته يې يوه غونډه راوبلله چي په هغې کي سردار پاينده خان (سرفرازخان)، اسلام خان ضبط بيګي، حکمت خان سرکاني، د مير هزارخان الکوزي زوی محمدعظيم خان، امير اصلان خان، جوانشير جعفرعلي خان، خواجه سراء يوسف علي خان، منشي ميرزا شريف خان، نورمحمدخان بابړ او نورو برخه اخيستې وه. دا غونډه د هندوستاني ميا غلام محمد په خانقاه کي جوړه سوې وه. د غونډې برخه والو پر قرآن باندي لاسونه کښېښوول او وېې لوړل چي رحمت الله خان به وژني او شاه زمان به له تخته ليري کوي او پرځای به يې شهزاده شجاع الملک پاچا کوي.

وايي چي دې غونډې د خپلو عملياتو له پاره هغه ورځ ټاکلې وه، چي په هغې کي رحمت الله خان د کندهار ښار د تورو غرو ته[۲] د ښکار په نيت وتی. د رحمت الله خان د وژلو وظيفه محمد عظيم خان الکوزي ته ورکړه سوې وه.

د دې غونډې يوه برخه وال ميرزا شريف خان منشي له خپلو ملګرو سره خيانت وکړ او د غونډې ټول حال يې رحمت الله خان سدوزي ته ورساوه. رحمت الله خان د ښکار نيت فسخ کړ او په هماغه ورځ يې شاه زمان هم د توطيې په جريان ټکي په ټکي خبر کړ. شاه زمان د غونډې برخه وال د کټني په پلمه دربار ته ور وغوښتل او د ټولو سرونه يې ورپرې کړل.

دې پېښي که سمدلاسه د رحمت الله خان او شاه زمان سر او پاچهي ته نجات ورکړ، خو په حقيقت کي يې د سدوزو پاچهي خورا ډېره تکاني کړه او په پای کي يې د احمدشاه بابا په لاس جوړه سوې واکمني د بارکزو قبيلې ته ورانتقال کړه[۳]. د شاه زمان د پاچهي د وخت دا ستره پېښه په ۱۲۱۴ هـ ق کال (۱۷۹۹ع) کي واقع سوه.

سردار پاينده خان، چي د همدې ډلي له نورو غړو سره يو ځای د شاه زمان په حکم ووژل سو، د مرګ پر وخت اته دېرش کلن و. د ده مړی يې په ذاکر شريف کي د حاجي جمال خان نيکه په هديره کي ښخ کړی دئ او د قبر

---

[۲] دا غرونه د کندهار د احمدشاهي ښار شمال ته پراته دي. د غرو دا لړۍ د بابا صاحب له کوتل څخه شروع او مخ پر ختيځ غځېدلې ده.

[۳] وګ: تاريخ سلطاني – ۱۶۸مخ، سراج التواريخ ۸۳/۱ مخ.

د شنختي يو دوه بيته يې، چي په هغه کي د ده د وژلو تاريخي ماده هم سته، د تاريخ سلطاني مولف رانقل کړي دي او سراج التواريخ هم اخيستي دي:

زپا فتاد چو بـــــر خاک سرفراز جهان
بلـــند ناله و افـــغان شـــد از هـــمه افـغان
زعقل سـال وفاتش چــــو باز پرسيدم
جواب داد که قل هم شهادت الرحمن[۴]

زموږ د عصر مؤرخ عزيزالدين وکيلي پوپلزايي د دغي پېښي کال له دې امله ۱۲۱۳هـ ق بللی دئ، چي په همدې کال رحمت الله خان د وزارت مقام ته ټاکل سوی و. ښاغلي وکيلي د رحمت الله خان د ټاکل کېدو کال له هغه مهر څخه معلوم کړی دئ، چي له ده سره يې کاپي خوندي ده[۵]. دغه راز يې د همدې کتاب په ۲۴۲ مخ کي د سردار پاينده خان د مړيني قطعه د نوموړي سردار د يوه معاصر شاعر له خولې ؟ راوړې ده او په هغه کي د مرګ کال (شهيد اکبر و پاينده سرفراز آمد) بللی دئ، چي ابجدي ارزښت يې ۱۲۱۳ کېږي. د شاعر نوم په دې روايت کي ښوول سوی نه دئ او د شعر سکښت او مضمون ما ته نوی ښکاري (والله اعلم بالصواب). علامه حبيبي مرحوم دغه پېښه د ۱۲۱۳ هـ ق کال = ۱۷۹۸ع په لړ کي راوړې ده[٦]. علامه رشاد رحمه الله د کندهار په يادانښتو کي د دغي پېښي کال دَ ۱۲۱۳هـ ق کال اواخر بللي دي او په حاشيه کې ورته کښلي دي، چي: "د پاينده خان د وژلو نېټه زموږ په آثارو کي تفاوتونه لري". بل ځای يې دغه کال ۱۲۱۳ يا ۱۲۱۴هـ ق بللی دئ. ما چي د علامه مرحوم د کندهار يادانښتونه ترتيبول، د ۱۲۱۳هـ

[۴] تاريخي ماده (قل هم شهادت الرحمن) ده چي ابجدي ارزښت يې ۱۲۱۴ کېږي. بايد ووايم چي دغه دوه بيتونه په تاريخ سلطاني کي سم ثبت سوي نه دي او د (الرحمن) کلمات يې د (الرحمان) په شکل کښلي دي، چي په دې توګه د تاريخي مادې ابجدي ارزښت ۱۲۱۵ کوي او دا کال د سردار پاينده خان د مړيني کال نه دئ. ما پورتني دوه بيتونه له سراج التواريخ (د ۱۳۷۲ ش کال چاپ) څخه رانقل کړل.په دې چاپ کي يې په حاشيه کي نوموړي باريکی ته اشاره کړې ده خو دلته يې بيا د ۱۲۱۵ پر ځای ۱۳۱۵ کښلي دي، چي چاپي تېروتنه يې بولم.

[۵] وګ: درة الزمان – ۱۳۳ مخ.

[٦] حبيبي، عبدالحی (پوهاند)، د افغانستان پېښليک ۱/۱۷۲ مخ، ۱۳۵۳ ش.

ق کال پر ځای مي ۱۳۱۳ سهواً رانقل کړی دئ چي باید سم سي.
سردار پاینده خان لس ودونه کړي وه. لومړی ښځه یې محمدزۍ (نصرت خېله)، دوهمه یې بارکزۍ (ملک دین زۍ)، دریمه یې کوهستانۍ، څلرمه یې نصرت خېله، پنځمه یې هوتکه (ایدوخېله)، شپږمه یې الکوزۍ، اوومه یې زینت بېګمه (د موسی خان جوانشیر قزلباش لور)، اتمه یې تاجکه، نهمه یې سیاه پوشه نورستانۍ او لسمه یې هزاره وه. موهن لال لیکي چي د وزیر فتح خان، تیمور قلیخان او محمدعظیم خان مور نصرت خېله وه. د نواب اسدخان، نواب صمد خان او نواب طره باز خان مور بارکزۍ وه. د عطامحمد خان، یارمحمد خان، سلطان محمد خان او پیرمحمد خان مور الکوزۍ وه. د پردل خان، شیردل خان، کهندل خان، مهردل خان او رحمدل خان مور ایدوخېله هوتکه وه. د دوست محمد خان او امیرمحمدخان مور د سیاه منصور له خاندانه وه او پارسۍ وه. وایي دغه پارسۍ قزلباشه د سردار پاینده خان ګرانه ماینه وه[۷] او له هغو څخه یې یوویشت یا په بل روایت پنځه ویشت زامن او څلور لوڼي پاته سول چي د افغانستان په تاریخ کي یې د یادوني وړ مثبت او منفي رولونه ولوبول. د ده په زامنو کي د وزیر فتح خان او امیر دوست محمد خان نقش تر نورو وروڼو زیات و. امیر دوست محمد خان د ټول افغانستان پر واکمنۍ باندي بریالی سو او د معاصر افغانستان په تاریخ کي د (امیر کبیر) په نامه یاد سوی دئ.
د ټولو زامنو نومونه یې دا دي:

- وزیر فتح خان (۱۱۹۲- ۱۲۳۴هـ ق) د غزني په علي لالا زیارت کي ښخ.
- نواب اسد خان (تولد ۱۱۹۲ هـ ق).
- تیمور قلیخان (۱۱۹۵- ۱۲۳۸هـ ق)، د لغمان د مهترلام بابا په زیارت کي ښخ.
- نواب عبدالجبار خان (۱۱۹۷- ۱۲۷۰هـ ق) د کابل په عاشقان و عارفان کي ښخ.
- سردار محمدعظیم خان (۱۲۰۰- ۱۲۳۸هـ ق) د کابل په عاشقان و عارفان کي ښخ.

---

[۷] وګ: موهن‌لال، زندګی امیر دوست‌محمد خان، د دوکتور هاشمیان ترجمه، ۷۰-۷۳ مخونه.

- سردار پردل خان (۱۲۰۰– ۱۲۴۵ھ ق) د کندهار په حضرتجي بابا زيارت کې ښخ.
- نواب عبدالصمد خان (۱۲۰۰ - ۱۲۴۴ھ ق) په ګندمک، کې ښخ.
- سردار عطامحمد خان (۱۲۰۰ - ۱۲۳۹ھ ق) د پېښور د شيخ حبيب صاحب په زيارت کې ښخ.
- سردار شيردل خان (۱۲۰۱– ۱۲۴۲ھ ق) د کندهار د حضرتجي بابا په زيارت کې ښخ.
- سردار يارمحمد خان (۱۲۰۵ - ۱۲۴۴ھ ق) د پېښور د شيخ حبيب صاحب په زيارت کې ښخ.
- امير دوست محمدخان (۱۲۰۷ - ۱۲۷۹ھ ق) د هرات د خواجه عبدالله انصاري صاحب په زيارت کې ښخ.
- سردار کهندل خان (۱۲۰۸ - ۱۲۷۱ھ ق) د کندهار د حضرتجي بابا په زيارت کې ښخ.
- سردار امير محمدخان (۱۲۰۹ - ۱۲۵۰ھ ق) د کابل په عاشقان و عارفان کې ښخ.
- سردار طره باز خان (تولد۱۲۱۰ھ ق) د لغمان د مهترلام بابا په زيارت کې ښخ.
- سردار سلطان محمد خان (۱۲۱۰ - ۱۲۷۸ھ ق) د کابل په مرنجان غونډۍ کې ښخ.
- سردار رحمدل خان (۱۲۱۱ - ۱۲۷۵ھ ق) د نجف په وادی السلام کې ښخ[۸].
- سردار سعيدمحمد خان (۱۲۱۲ - ۱۲۷۷ھ ق) د کندهار په حضرتجي بابا زيارت کې ښخ.
- سردار مهردل خان (۱۲۱۲ - ۱۲۷۱ھ ق) د کندهار په حضرتجي بابا زيارت کې ښخ.
- سردار جمعه خان (۱۲۱۲ - ۱۲۸۸ھ ق) د کندهار په ميوند کې د

[۸] په ځينو مأخذو کې د سردار رحمدل خان د مړيني کال د ۱۲۷۸ھ ق کال د شوال مياشت ده (وګ: د همدې اثر ٦٩ مخ).

خواجه حسن میوندي زیارت ته نژدې ښخ.

- سردار پیرمحمد خان (۱۲۱۴ - ۱۲۸۸ه ق) د کابل په ملا فیروز کلا کې ښخ[۹].

په ځینو ماخذو کې پر پورتنیو زامنو سربېره دا نومونه هم زیات سوي دي:

- سردار محمدزمان خان
- سردار محمدزمرخان؟
- سردار حیدرخان
- سردار اسلم خان (په کوچنیوالي کې مړ سو)
- سردار خیرالله خان

لوڼې یې:

- وفابیگم، په سدوزي شاه شجاع واده وه.
- بله لور یې د سردار رحیمداد خان زوی عبدالامین خان (توپچي باشي) ته ناسته وه.
- دریمه لور یې د عبدالرسول خان نومي مېرمن وه.
- او څلرمه لور یې د سدوخان نومي مېرمن وه[۱۰].

میر غلام محمد غبار لیکي، چې د سردار پاینده خان د یوویشتو زامنو زوزات په یوه نیمه پېړۍ کې نژدې اوو زرو تنو ته ورسېدل[۱۱].

د پاینده خان تر وژل کېدو وروسته یې زوی فتح خان د خپلو اکا زامنو عبدالسلام خان، عبدالواحد خان، محمدرحیم خان امین الملک او دوو تنو نورو ملگرو سره له کندهاره گرشک ته وتښتېد. د سردار پاینده خان د کورنۍ کوم غړي چې په کندهار کې پاته سول، په دونه خوارۍ کې یې ژوند کاوه، چې وایي د احمدشاه بابا د زیارت پر شاوخوا به یې گدایي کوله[۱۲].

---

[۹] سراج التواریخ.
[۱۰] وایي دې ښځې خپل مېړه د کابل په شوربازار کې وواژه.
[۱۱] وگ: افغانستان درمسیرتاریخ-۵۰۹مخ.
[۱۲] وگ: موهن لال - پارسي ترجمه، ۷۲ مخ.

سردار پاینده خان

سردار هارون خان

سردار هارون خان د حاجي جمال خان زوی او د کندهاري سردارانو اکا (تره) و، چي د ۱۱۵۰ هـ ق (۱۷۳۷ع) په شاوخوا کي زېږېدلی او ژوند يې تر ۱۲۰۰هـ ق (۱۷۸٦ع) پوري يقيني دئ. کله چې د حاجي جمال خان نيکه تر مړيني وروسته د بارکزيو مشرتوب سردار پاينده خان ته ورسېد، سردار هارون خان يې د ګرشک د حکمران په توګه وټاکه. د سردار هارون خان زياتره ژوند په ګرشک کي په حکمرانۍ تېرسوی دئ، خو په کابل، کشمير، سنده او هرات کي يې هم وخت تېر کړی دئ. د حاجي جمال خان په کورنۍ کي لومړنی شاعر همدا هارون خان دئ. ده د فارسي شعر يو بشپړ ديوان پرې ايښی دئ، چي وايي ۴۵۰۰ بيته دئ. په شعر کې د حافظ، سعدي، صائب، جامي او نورو استادانو پيروي کړې ده.

دلته به يې د کلام د نمونې په توګه هغه غزله راوړو، چي زما په ګومان د شيرازي حافظ د

اگر آن ترک شـــیرازی بکف آرد دل ما را
بخال هندویش بخشم سمرقند و بخارا را

اغېزه پرېرته ده :

چو آرم در خیال خـــــود شب آن لبهای میگون را
بجـــای باده نـــوشم تاسحرگه ساغـــر خون را

شــــود خورشید تا از شــــرم در ابر سیه پنهان
مه من ! دور کن از چـــــهره یکره زلف شبگون را
روی ای ســـــروقامت تا بسیر بوستان روزی
بخاک تیره بنشانی زشـــــوخی سرو مـــوزون را
شبی گــــر بگذرد در دل، خیال بـــرق رخسارت
چراغـــــــان از شرار آه سازم سقف گـــردون را

بروز عید قــــربان میکنم قــــربان ترا گفتی
"سرت گردم" مده از دست خویش این روز میمون را
زاحــــوال رقیبان یک بیک از ناز پرسیدی
نمی پرسی چـــرا؟ ای سنگدل احوال "هـارون" را

د سردار هارون خان دوه زامن پاته سوي دي، چي سرورخان او امردین خان نومېدل[۱].

---

[۱] د سردار هارون خان په باب علامه حبیبي یوه مبسوطه مقاله کښلې ده، چي زما معلومات د همدې لیکنې لنډیز دئ. وګ: شل مقالې ۴ برخه ۵۴ – ۶۰ مخونه.

کندهاري سرداران

د سردار پاینده خان په زامنو کي پنځه وروڼه پردل خان، شېردل خان، کهندل خان، مهردل خان او رحمدل خان له یوې موره وه او په تاریخ کي د (کندهاري وروڼو) یا (کندهاري سردارانو) په نامه یاد سوي دي. د دوی په باب ویل سوي دي:

ما پنج برداران که از یک پشتیم
در دست زمانه همچو پنج انگشتیم
چون فرد شویم در نظرها علمیم
چون جمع شویم بر دهانها مشتیم[۱]

لکه په تېر بحث کي چي موولوستل د کندهاریو وروڼو مور ایدوخېله هوتکه وه[۲]، د هغې ورور خداینظر خان د کندهاري سردارانو په وخت کي د یوه متنفذ مشر په توګه پېژندل سوی و[۳]. ارواښاد کهزاد یې د سردار شېردل خان د (معاون) په توګه نوم اخلي[۴].

فیض محمد کاتب هزاره په سراج التواریخ ۱/ ۱۴۸مخ کي خداینظر خان په قوم سهاک بللی دئ. د دې تېروتني د توضیح له پاره زه مجبور یم، لږ څه مخکینۍ پېښې بیان کړم.

کله چي د سردار محمدعظیم خان تر مړیني وروسته (۱۲۳۸ه ق = ۱۸۲۳ع) د سردار پاینده خان زامنو د خپل دغه متوفي ورور د پاته سوي ثروت پر سر د هغه وخت د افغانستان له هر کونج څخه مخ و کابل ته ونیو او په کابل کي یې د سردار محمدعظیم خان بدبخت زوی سردار حبیب الله

---

(۱) دا رباعي وار دواره د سراج الاخبار د لومړي کال په یوه ګڼه کي چاپ سوې ده.

(۲) وګ: موهن لال – پارسي ترجمه، ۷۱مخ، حبیبي – جنبش مشروطیت، ۱۰۸مخ، ۱۳۷۷ش.

(۳) وګ: سل بګړي یو پوړنی، د لیکوالکي اثر، ۲۱۴ مخ.

(۴) کهزاد، احمدعلی – بلاحصار کابل و پیش آمدهای تاریخی، ص ۴۱۸، چاپ ۱۳۸۳ ش.

خان ته د سر په کاسه کي اوبه ورکړې او په پای کي يې د خپل پلار له ثروت څخه يو سر دوه غوړه نامېنده وايست، نو د سردار پاينده خان زامنو پخپل منځ کي يو وار بيا جوړه وکړه او د دې جوړې په ترڅ کي يې پر پخواني تړون باندي نوې کتنه وکړه، چي په هغو کي يې د (خورد کابل) او (بيک سمند[۵]) سيمي د کندهاري سردارانو ماما خداينظر خان ته په جاګير کي ورکړلې. خداينظرخان په دغو سيمو کي کلاوي جوړې کړې او خپله خور (د کندهاري سردارانو مور) او د کورنۍ نور غړي يې ورولېږدول. دی به پخپله کله کله د جايداد د سرپرستۍ له پاره له کندهار څخه ورتلی خو زيات وخت به يې له خپلو خوريانو سره په کندهار کي تېراوه. په خورد کابل کي د خداينظر خان د کلاوو او کورونو ستنه والي د سراج التواريخ مؤلف ته د خداينظر خان د سهاک توب نظريه ورکړې ده، چي يوه تېروتنه ده.

خداينظرخان ماما په هغو جګړو کي چي کندهاري سردارانو د سدوزي شاه شجاع د لښکر په وړاندي د کندهار په ښار کي وکړې، له خپلي قطعې سره، چي دوه توپه هم پکښې وه، د کندهار ښار په لوېديځ کي د (کوه نګار) په غره کي مورچل نيولی و[٦].

د نګار غر د کندهار د ړنړ د اوسني چوک په شمال لوېديځ کي پروت دئ او د کندهار ښار د چينلو د اوبو زېرمه د دغه غره پر سر ودانه سوې ده.

---

[۵] د کابل له ښار څخه د جلال آباد پر لور چي څوک د تره خېلو سيمي ته ورسېږي، يوه فرعي لار مخ پر جنوب ځني جلا کېږي. پر دغه لار چي تر حسين خېلو څوک تېر سی، د خورد کابل سيمه مخي ته راځي. دا سيمه له کابل ښار څخه تقريباً پنځلس ميله واټن لري. تر خورد کابل وروسته د لوګر تېک شروع کېږي.

د مغولو په لښکرکښيو (شپاړسمه پېړۍ) کي له کابله څخه جلال آباد ته د تلوراتلو لار له همدې خورد کابل څخه تېرېدله تر بتخاک او جګدلک وروسته جلال آباد ته رسېدله. د افغان – انګليس د لومړۍ جګړې (۱۸۳۸ – ۱۸۴۲ع) پر مهال انګرېزانو له همدې لارې څخه کار اخيست. خو د افغان – انګليس د دوهمي جګړې پر وخت (۱۸۷۸ – ۱۸۸۰ع) جنرال رابرټس د (لته بند) کوتل لار غوره کړه. دا لار د خورد کابل په شمال کي تېره سوې لږ لنډه ده. د (بيک سمند) سيمي موقعيت نه رامعلومېږي (هوتک).

[٦] سراج الاخبار، ۱۷۱/۱ مخ.

پر کندهار باندي

د کندهاري ورونو د واکمنۍ پیل

د سدوزي شاه زمان په امر د بارکزیو د مشر سردار پاینده خان (وفادار خان) وژني (۱۲۱۳ یا ۱۲۱۴هـ ق) د بارکزیو سیاسي فعالیتونه سره منسجم او پیاوړي کړل او وزیر فتح خان ته یې د افغانستان په سیاسي مقدراتو کې د لاس درلودلو پراخه زمینه برابره کړه. د ده د تدبیر او زړه ورتیا له برکته شاه محمود سدوزی د پاچهۍ تخت ته ورسېدی (۱۲۱۵هـ ق = ۱۸۰۰ع)[1]. خو د شاه محمود سدوزي د زوی شاهزاده کامران په لاس په هرات کې د نوموړي مدبر وزیر ړندېدلو (۱۲۳۳هـ ق=۱۸۱۷ع) د وزیر فتح خان شل ورونه دونه وخښمول چې خپلې قبیلې ته یې د پاچهۍ له لېږدولو پرته په بل هیڅ راز جبران غاړه نه ایستله.

کله چې شاه محمود سدوزی له خپل زوی کامران سره یو ځای د کابل له واکمنۍ څخه د سردار دوست محمدخان د لیري کولو په نیامت له کندهاره د دېرش زره کسیز لښکر په ملګرتیا مخ پر کابل وخوځېد (۱۲۳۴ ق) په سترګو ړوند سوی وزیر فتح خان یې هم له ځان سره بوت او غزني ته نزدې یې د نورو درانیو سردارانو په ملتیا په خورا بېرحمۍ سره وواژه او په دې ډول یې د خپل تخت لړزاندي پایې نوري هم ولړزولې. په دغه وخت کې د سردار دوست محمدخان لښکر هم له شاه محمود سره د مقابلې په نیت له کابله راووت او په کلای قاضي

---

[1] دا نېټه ما له (تاریخ مختصر افغانستان - چاپ ۱۳۶۸ ش، ص ۲۷۵) څخه اخیستې ده، خو د افغانستان پېښلیک نومي کتاب کې بیا د شاه محمود لومړی وار پاچهي د ۱۲۱۶هـ ق=۱۸۰۱ع کال په پېښو کې راغلې ده.

کې د مقابلې او جنګي خدعې په مرسته[۲] شاه محمود سدوزی او زوی یې د جګړې له میدانه وتلو ته مجبور کړل او هغوی د فراه له لارې ایران ته وتښتېدل.

شاه محمود سدوزی او زوی یې شهزاده کامران چې له کندهاره د کابل پر لور خوځېدل، د کندهار حکومت یې نائب ګل محمدخان پوپلزي ته وسپاره[۳]. له کندهار څخه د شاه محمود د وتلو خبر چې سردار شېردل خان، سردار کهندل خان او سردار پردل خان ته ورسېد، په تلوار یې د خپل قوم له لښکرو سره پر کندهار ښار برید وکړ. نائب ګل محمد خان ځان په ښار کې کلابند کړ. څرنګه چې یې په ځان کې د مقاومت بیچ نه لیدی، ځکه یې سردارانو ته خبر ورکړ، چې په کابل کې د جګړې د سرنوشت تر معلومېدو پورې له وینو تویولو څخه ډډه وکړي. که د کابل په جګړه کې شاه محمود مغلوب سو، دی به هم کندهار بې لړز و ړوزه ورتسلیم کړي او که شاه غلبه ومونده، سرداران یې بیله هغه د مقابلې توان نه لري.

سردار شېردل خان او ورونو یې په ښکاره دا وړاندیز ومانه او نائب ګل محمدخان یې په خپل وړاندیز باندې مصروف وساته، غافل یې کړ او په پټه یې د ښار کلا ته د ورختلو له پاره د زینو ایښوولو انتظامات برابر کړل. څو شپې وروسته یې د ښار د کلا ټولو برجانو ته خپلې لښکرې ور ورسولې او کلا ته یې زینې کښېښوولې. لومړنی سړی چې د نورزو په شاه برج کې پر

---

[۲] دا جنګي خدعه داسې وه چې دوست محمد خان د عطامحمد له خوا، چې په دغه وخت کې له ده سره بندي او په سترګو ړوند سوی و، شهزاده کامران ته یو جعلي لیک وکیښ او په هغه کې یې د نوموړي عطامحمد خان له خولې شهزاده ته خبر ورکړ، چې د لښکر ټولو سردارانو یې له دوست محمد خان سره په پټه تار اچولی دئ او غواړي چې نن شپه شهزاده او پلار یې شاه محمود سدوزی مړه کاندي. شهزاده او پلار ته چې یې دا لیک ورسېد، په هغه ګړی د جګړې له میدانه وتښتېدل.

[۳] نائب ګل محمد خان د اسلام خان زوی د محراب خان لمسی او د سهراب خان کړوسی و (وګ: احمد شاهي کندهار، د لیکونکي اثر، ۲۴/۱ مخ).

زینه باندي کلا ته ورواووښت، د ملا بازار بارکزي زوی میرداد خان و[۴]. ده د ښار دروازه خپلو ملګرو ته خلاصه کړه، ښار ته د سردارانو لښکر ورننوت او پر ښار یې قبضه ولګوله. نائب ګل محمد خان له ښاره وتښتېد او د بوري او دهلې له لاري له مات سوي شاه محمود سدوزي او شهزاده کامران سره یو ځای سو او لکه په تېرو کړښو کي چي مو ولوستل، ایران ته یې پناه ورووړه.

هسي خو وزیرفتح خان پخپل ژوند کي لا د شاه محمود سدوزي د دوهمي پاچهۍ پر مهال (۱۲۲۵هـ ق =۱۸۱۱ع) خپل ورونه د پاچهي قلمرو د ځینو ولایتو د حاکمانو په توګه شامل کړي ول[۵] خو پر کندهار ښار باندي د کندهاري سردارانو منظمه او بشپړه واکمني له همدې وخته (۱۲۳۴هـ ق =۱۸۱۸ع) شروع کېږي. د کندهار په نیولو سره د افغانستان د هماغه وخت د سیاسي قلمرو مهم ښارونه پېښور، دېره جات، کابل او کندهار د وژل سوي وزیر فتح خان د ورونو تر واک لاندي سول. هرات لا په دغه وخت کي د شاه محمود سدوزي د لښکرو په لاس کي و.

د کندهار د حکومت واګي په دغه وخت کي د سردار شېردل خان په لاس کي وې. ده هغو کسانو ته چي د ښار په نیولو کي یې زړه ورتیا ښوولې وه، انعامونه او دولتي منصبونه ورکړل او په دې لړ کي یې میرداد خان بارکزي ته د نوموړي د زړه ورتوب او جلادت له امله د ایشک اقاسۍ

---

[۴] وګورئ : کتاب مستطاب سراج التواریخ، جلد اول، ص ۱۰۲، چاپ مطبعه حروفی دارالسلطنه کابل، ۱۳۳۱ - ۱۳۳۳ هـ ق، دغه راز سراج التواریخ، جلد اول، ص ۱۴۱، چاپ ۱۳۷۲ش، موسسه تحقیقات و انتشارات بلخ، تهران.
کاندید اکادمیسن محمداعظم سیستانی پخپل اثر (دو نابغه سیاسی نظامی افغانستان، ص ۶۵، چاپ ۱۳۷۱ش) کي د سراج التواریخ د ۱۰۲/۱ مخ په حواله د میرداد خان د پلار نوم (ملابزرګ) لیکلی دئ، چي په غالب ګومان به یې د(ملابازار) نوم په ناسمه توګه لوستلی وي او یا به یې د سراج التواریخ د مؤلف ثبت ناسم ګڼلی وي. ما د سراج التواریخ د لومړي چاپ (۱۰۲مخ) بیا وکوت او راته څرګنده سوه، چي د ملا بازار نوم همداسي راغلی دئ. زما د دې کتاب په پای کي به هم تاسي ولولئ چي د دې کورنۍ مشران نیکه ګان ملا بازارخان او ملا ګلزارخان نومېدل. د هغوی شجرې ما پر کتبي آثارو سربېره د دې کورنۍ د غړو له خولې ثبت کړي دي او د ملا بازار نوم همداسي صحیح دئ.
[۵] سراج ۱۱۳/۱ مخ، چاپ ۱۳۷۲ ش.

منصب ورکړ[٦]. دې واکمنۍ تر ۱۲۵۵ هـ ق پورې دوام وکړ او په دې یوویشتو کلونو کې سردار شېردل خان، سردار پردل خان او سردار کهندل خان د کندهار حکومت چلاوه. په همدې کال د صفرې په میاشت کې د انګرېزانو لښکرې له سدوزي شاه شجاع سره یو ځای پر کندهار راوبهېدلې. کندهار یې له کندهاري سردارانو څخه ونیو او سردار کهندل خان له خپلو وروڼو او نورې کورنۍ سره ایران ته پناه یووړه. د نوای معارک مؤلف لیکي، چې وزیر محمداکبرخان د انګرېزانو تر ماتولو وروسته ایران ته د کندهاري سردارانو په نامه لیک ولېږه او له هغوی څخه یې وغوښتل چې کندهار ته راستانه سي (۲۷۰مخ). تر دې وړاندې هم سردار کهندل خان څو واره د پارس له پاچا څخه وطن د تلو اجازه غوښتې وه خو هغه نه غوښتل چې له انګرېزانو سره دایران اړیکې خرابې کړي. کله چې انګرېزان له افغانستانه ووتل، د پارس پاچا هم د سردار کهندل خان له تګ سره موافقه وکړه. سید مهدي فرخ په دې باب کښلي دي:

ترجمه:

"... کله چې هندوستان ته د انګرېزي لښکرو بېرته ستنېدل بشپړ سول، د ایران دولت د کرمان حاکم او د سیستان حکومت ته امر وکړ، چې سرداران (کندهاري وروڼه – م. هـ) له لازم قوت سره کندهار ته واستوي او پر حکومت یې کښېنوي. د کرمان والي عباسقلي خان له سردارانو سره سل ماري اوښان له لازمو لاربښوونو سره یو ځای روان کړل او د محمدرضاخان زوی لطفعلیخان یې ورسره ملګری کړ. سردارانو د ایراني ځواک په مرسته کندهار ونیو ... او سردار کهندل خان خپل زوی سلطانعلي خان له سوغاتو سره یو ځای تهران ته واستاوه، چې د ۱۲۷۰هـ ق کال د محرم پر نونسمه = ۲۳ اکتوبر ۱۸۵۴ع تهران ته ورسېد. د ایران دولت ورته هرکلي ووایه او میرزا رضاخان کردستانی یې، چې د دارالفنون په مدرسه کې یې تحصیل کړی و، د کندهار د لښکرو د روزني له پاره د ښوونکي په توګه له سلطانعلي خان سره کندهار ته ولېږه او یو زر توپکه او څلور زره تومنه یې هم

---

[٦] سراج ۱۴۱/۱ مخ. میر دادخان بارکزی د لویناب شیردل خان پلار و. د دې کورنۍ په باب د همدې لیکنې په پای کې مختصر بیان ولولئ.

ورکړل[۷]".

انګرېزان چې له کندهاره وتل، د دغه ولایت حکومتي چارې یې شهزاده صفدرجنګ او عطامحمدخان بامیزي ته پرېښوولې، کندهاري سرداران چې له ایرانه کندهار ته راورسېدل، شهزاده صفدر جنګ مقابلې ته ځان چمتو کړ. سردارانو د مصلحت له مخې روغې جوړې ته آمادګي وښووله او له شهزاده صفدرجنګ او عطامحمد خان بامیزي سره یې په ګډه حکومت جوړ کړ. خو ډېر ژر یې خپله شهزاده بندي کړ[۸] او د کندهار حکومت بیرته د سردار کهندل خان لاس ته ورغی (۱۲۵۸هـ ق کال د میانې میاشت)[۹]. پر کندهار باندې د کندهاري سردارانو دې واکمنۍ تر ۱۲۷۱ هـ ق تر پایه (۵۴ – ۱۸۵۵ع) پورې دوام وکړ. په دغه کال سردار کهندل خان او سردار مهردل خان دواړه مړه سول او د سردار رحمدل خان او د کهندل خان د زامنو تر منځ جګړې پیل سوې، چې په نتیجه کې امیر دوست محمدخان د دوی ټولو لاس د کندهار له حکومته وکیښ او د کندهار حکومت یې خپل زوی سردار غلام حیدر خان ته وسپاره او په دې ډول د کندهاري ورونو د واکمنۍ په زوال سره د افغانستان تمامیت یو وار بیا تأمین سو.

---

[۷] سید مهدی فرخ، تاریخ سیاسی افغانستان، ص ۲۱۳ – ۲۱۴، چاپ حوت ۱۳۷۱ ش.

[۸] نوای معارک، ۲۷۲مخ.

[۹] وګ : رشاد، عبدالشکور (علامه پوهاند)، د کندهار یادابښتونه ۲/۱۶۳مخ.

پر هرات باندي
د کندهاري ورونو د واکمنۍ هڅي

د ۱۲۳۸ هـ ق کال په څلرمه خور کي شهزاده کامران خپل زوی شهزاده جهانګیر په هرات کي خپل جانشین وټاکه (فبروري ۱۸۲۳ع) او وکیل خان (د شهزاده جهانګیر ماما) او مهولي خان یې د مرستندویانو په توګه ورسره پرېښوول او پخپله یې د کندهار د نیولو په نیت مخ پر فراه ونیو. فراه ته تر رسېدو وروسته یې د لښکر په راغونډولو پیل وکړ[1]. کندهاري سردارانو ته له فراه څخه د ګلزار خان بامیزي له خوا، چي له شهزاده کامران سره یې جوړه نه وه، حال ورکړه سو، چي شهزاده د کندهار د نیولو اراده لري او مخکي له دې چي کار تر کار تېر سي، باید مخه یې ونیوله سي[2].

سردارانو د دې خبر په اورېدو سره خپل قوتونه راغونډ کړل. سردار مهردل خان او نائب ګل محمدخان یې په کندهار کي پرېښوول او پاته نور درې ورونه، سردار کهندل خان، سردار پردل خان او سردار شېردل خان له دریو زرو سپرو او یو نیم زر پلي لښکر او اوو توپونو سره مخ پر فراه وخوځېدل. د دوی بل ورور سردار رحمدل خان په دغه وخت کي د سنده په ښکارپور کي د واکمنۍ پر ګدۍ ناست و. په دغه لښکر کي نور مخور خانان لکه عبدالله خان اڅکزی، نائب ملا مومن غلجی، رمضان خان هوتک، هوت خان غلجی، یونس خان بارکزی، تاج محمد خان بارکزی، میرزا احمدخان عمله باشي[3]، حاجي خان کاکړ او ماما خداینظر خان هم ملګري ول. کله چي دا لښکر د خورمالک سیمي ته ورسېد، شهزاده کامران له فراه څخه پښې سپکي کړې او هرات ته یې مخ ونیو.

---

(۱) د فراه سیمه تل د هرات او کندهار د واکمنانو تر منځ متنازع فیه سیمه وه.

(۲) نوای معارک، ۸۰ مخ.

(۳) د ده په نامه د کندهار د احمدشاهي ښار په شمال لوېدیځ کي د باباولي صاحب تر کوتل لاندي یوه کلاچه سته.

په فراه کي یې خپل بل زوی شهزاده سلطانعلي پرېښوو. سلطانعلي هم د کندهاري سردارانو له منظم لښکر سره په ځان کي د مقابلې بيچ ونه ليد او له فراه څخه وتښتېد. سردارانو ته فراه بې ټکه و پو په لاس ورغله او دې سوبې په ځان دومره مغروره کړل، چي د سردار شېردل خان په ټينګار یې د هرات د نيولو اراده وکړه. د نوای معارک ليکوال چي په دغه لښکر کښي کي شامل سړی و، ليکي چي کهندل خان او پردل خان د هرات له نيولو سره مخالف ول او غوښتل یې چي يوازي په فراه باندي اکتفاء وکړي خو سردار شېردل خان غوښتل د هرات په نيولو سره له شهزاده کامران څخه د خپل مشر ورور وزير فتح خان د ړندولو او وژلو غچ واخلي.

شهزاده کامران چي له فراه څخه هرات ته ورسېد، د هرات خلکو، چي زياتره یې د ده د پلار، سدوزي شاه محمود له خوا ګومارل سوي مشران او (د هرات امراء) ول[۴]، د ده زوی شهزاده جهانګير له واکه ليري کړی او کامران ته یې ليک ولېږه چي لومړی بايد له کندهاري سردارانو سره، چي د هرات د نيولو په نيت را روان دي، خپل حساب تصفيه کړې، بيا به د هرات په باب خبري کوو. کامران ته یې هرات ته د ننوتلو اجازه ورنه کړه.

کندهاري سرداران چي مير داود[۵] ته ورسېدل، شهزاده کامران ورته د خپل وکيل شمان اخندزاده په لاس د روغي جوړي پيغام واستاوه، چي پکښې ليکل سوي وه: "له دې وروسته به فراه د سردارانو په واک کي پرېږدي او يو لک روپۍ به د (نعلبندی)[٦] په توګه هم ورکوي، په دې شرط که سرداران د هرات له نيولو څخه تېر سي او بېرته کندهار ته ستانه سي".

---

[۴] نوای معارک، ۸٦ مخ.

[۵] مير داود د هرات – کندهار پر لار د هرات له خوا څخه لومړی رباط دئ.

[٦] نعلبندي يا نعل بها هغو پيسو ته ويل کېږي، چي بېګانه يا يرغلګرو لښکرو ته د بېرته ستنېدلو په عوض کي د ځايي خلکو له خوا ورکول کېږي. په حقيقت کي نعلبندي يا نعل بها يو راز رشوت باج دئ چي مقامي يا د سيمي اصلي اوسېدونکي یې د پرديو لښکرو له خوا پر ځان مني. نعلبندی ته ځايي خلک هغه وخت غاړه ايږدي، چي يا یې له يرغلګرو سره مقابله په وس پوره نه وي، يا له هغوی سره د جوړي کولو په شرايطو کي دغه شرط (نعلبندي) هم ايښوول سوی وي.

سردارانو دا پیغام ونه مانه او کامران یې د جګړې میدان ته راوباله. کامران په ځان کي د مقابلې توان نه لیده، ځکه یې نو مخ پر (لاش) ونیو او ورسره مل مخور یې له خپلو لښکرو سره د کندهاري سردارانو هر کلي ته ورغلل او د هغوی له خوا ونازول سول.

تر دې پېښو وروسته د هرات له ښار څخه د مشرانو او مخورو یوه ډله له سردارانو سره د خبرو په نیت له ښاره راووته. سردارانو ته یې د روغې جوړې وړاندیزونه وکړل، چې د هغو له مخې به سردار کهندل خان په هرات کي پاتېږي، د هرات مالیات به څلور برخې کېږي، دوې برخې به یې شاه محمود، یوه برخه به یې کهندل خان او یوه برخه به یې د هرات (امراوو) ته ورکول کېږي. سردارانو دا وړیش هم ونه مانه او هغه یې په هرات کي د دننه د پرتو قوتونو د کمزورۍ دلیل وګاڼه. په دغه وخت کي کندهاري سردارانو ته د بنیاد بېګ هزاره له خوا هم د هرات په نیولو کي د ملګرتیا پیغامونه ورسېدل، چې دې کار سرداران د هرات نیولو ته نور هم وهڅول. هغوی د هرات ښار کلابند کړ. دې کلابندۍ څلوېښت پنځوس ورځې دوام وکړ او په دې موده کي به په ښار کي دننه د پرتو قوتونو او کندهاري سردارانو تر منځ تر ښار دباندې جنګونه کېدل. سردارانو د هرات له شاوخوا کلیو څخه د څلورو لکو روپو په شاوخوا کي مالیه ټوله کړه او د کندهار خزانې ته یې نقل کړه. د قوتونو د دې زور ازمویلو په ترځ کي سردارانو ته له کندهاره خبر ورسېد، چې سمندرخان بامیزي د کندهار ښار کلابند کړی او ممکنه ده نائب ګل محمد خان هم د هغه په مرسته دننه په ښار کي فعالیت پیل کړي. سردارانو ته چې له یوې خوا د هرات ښار په نیولو کي ستونزې پېښې وې او له بلې خوا یې د کندهار واکمنۍ ته خطر مخامخ سو، په ډېره بېړه یې د هرات کلابندي ماته کړه (۲۵ ذی الحجه ۱۲۳۸هـ ق = ۱۲سپتمبر ۱۸۲۳م) او ځانونه یې کندهار ته ورسول. په دې ډول د کندهاري سردارانو په زړو کي د هرات د نیولو ارمان پاته سو.

سرداران د هرات له لوري څخه خپل قلمرو ته د ګواښ کمولو او د هرات د سمسوري سیمي د تر لاسه کولو په خاطر او په غالب ګومان د پارس د واکمنانو په ټونګ په ۱۸۵۰م کال کي د وزیر یارمحمدخان پر خلاف هم را پورته سول. د مهردل خان زوی شېرعلیخان تر (لاش) پوري

ورسېد او د کهندل خان زوی چخانسور ونیو. خو وزیر یارمحمدخان عسکر پر را وخوځول او سردار شېرعلیخان یې له (لاش) څخه وشاړه[۷].

تر دې هلوځلو وروسته د کندهاري سردارانو له زړونو څخه د هرات د نیولو مینه ووتله او په کندهار یې سکَتَه (قناعت) وکړه.

ایراني مؤرخ سیدمهدی فرخ لیکي، چې د وزیر یارمحمدخان الکوزي تر مړیني (د شعبان وروستۍ ورځ ۱۲٦۷ه ق = ۳۰جون ۱۸۵۱ع) وروسته چې د هغه زوی سعیدمحمدخان د هرات واکمن سو، خلک د ده له ناپوهۍ او حماقت څخه تر پزي ورسېدل او سردار کهندل خان یې د هرات نیولو ته ور وباله. کهندل خان تر اسفزار (اوسني شین ډنډ) پوري ور وړاندي سو. خو په دغه وخت کي د ایران د خراسان د واکمن سلطان مراد میرزا حسام السلطنه لښکري د سام خان زعفرانلو په مشرۍ پر هرات راتوی سوې او کهندل خان د هرات تر نیولو تېر سو او بیرته کندهار ته له خپل لښکر سره ولاړ[۸].

[۷] غبار، ۴۰۹ مخ.

[۸] تاریخ سیاسی افغانستان، ۲۲۱مخ، د ۱۳۷۱اش چاپ.

د کندهاري ورونو
سياسي او ملي دريځ

له سدوزو څخه بارکزو ته د پاچهۍ تر انتقال وروسته، کندهاري سرداران د هغه وخت د کندهار د پراخ قلمرو واکمنان سول. د سردارانو د واکمنۍ پر وخت کندهار نهه زره سپاره او شپږ توپه درلودل. د دوی د قلمرو کلني ماليات يو ميليون روپيو ته رسېدل چي د ورونو تر منځ وېشل کېدل[1] د دوی دغه پراخ او حاصلخېزه قلمرو له يوې خوا له هرات څخه د وزير يارمحمدخان له لوري او له بلي خوا له کابل څخه د دوی د خپل ورور امير دوست محمد خان له طرفه تهديدېدی. د انګرېزانو ګوابښ بيا له جنوب څخه ورته متوجه و، ځکه هغوی غوښتل چي پر افغانستان باندي د خپل ګوډاګي يعني سدوزي شاه شجاع واکمني ټينګه کړي. د دې درو ګوابښونو په مقابل کي کندهاري سردارانو نه دومره سياسي درايت درلود، چي د برتانوي او روسي امپراتوريو تر منځ دي د دې منطقې پر سر د ستري لوبې (Great Game) په ماهيت سر خلاص سي او نه يې د خپل پلرني هيواد ملي ګټې تر خپلو شخصي ګټو لومړنۍ ګڼلې، چي د هغو له پاره دي خپل سر او مال نذرانه کړي. ځکه يې نو د سياسي حوادثو له تونديدو سره کله يوې خوا او کله بلي خوا ته ميلان ښوولی دئ خو په نهايت کي يې هر وخت د خپلې واکمنۍ د بقاء په خاطرد پارس او روس دربارو ته پناه وړې ده او له هغوی څخه يې مرسته اخيستې او پر خپل هيواد باندي يې د پارسي لښکرو له را وړاندي کېدو سره مرسته کړې ده. دوی د خپلو نورو ورونو په مقابل کي توري راکښلي وې خو د اروابښاد مير غلام محمد غبار په قول يې د ايران د

---

[1] غبار، ۵۱۴ مخ.

دولت د سر خواست کاوه او ځانونه يې د هغوی (دولتخواهان) بلل[۲]. دوی چې کله واورېدل د انګليسي حکومت استازی الکساندر برنس د دوی له ورور اميردوست محمدخان سره په مذاکره بوخت دئ، د خپل قلمرو د بايللو له وهمه يې ځانونه د پارس په لمن کې واچول او د روس له سفير کينت سيمونيچ سره يې تماس ونيو[۳].

کندهاري سردارانو چې له انګرېزي لښکرو سره کومې جګړې کړې دي، د هغو يو دليل دا کېدلای سي، چې انګرېزانو د دوی د قبيلوي او سياسي رقيب سدوزي شاه شجاع پله نيولې وه او له بلې خوا يې د دوی قلمرو (کندهار) له ګوتو ځيني کيښ.

کندهاري سردارانو د خپل قلمرو پر اوسېدونکو باندې هم چنداني ښهانه نه وه پرې ايښې. قاضي عطاؤالله خان د خپل تاريخ په ۲۳۳ مخ ک (د ۲۰۰۴ ع چاپ) کې د الکساندر برنس له خولې ليکي : د کهندل خان حکومت "... هر دلعزيز بالکل نهٔ دی. ځکه چې هر طرف ته په خلقو باندې زياتی او بې انصافي کيږي ...".

د پښتو ژبې شاعر حاجي جمعه بارکزی، چې په دغه وخت کې ژوندی دئ، د خپل دېوان په ۱۷۴ مخ کې د کهندل خان په باب داسې وايي :

اوس نوبت د کندل خان دئ ——— سره وې نغښت کندهار
ودانۍ يې کړې خرابې ——— عالمونې کړه ناتار
درست وطن يې په حصه کړ ——— سرې واخيست چار برار
دربدره يې مخلوق کړ ——— مال وملک يې کړ سرکار
په وطن کې يې پرې نښوو ——— يو درم و يو دينار
سروبر يې سره وخوړ ——— لا دوی وږي دي نهار
که بانه يې سوه درېوري ——— نور پرېږده ملک و مزار
سرتور سر پښې ييلي دروه ——— ګوره مه ليل و نهار
که دي خپل سر ځني خلاص کړ ——— شکر کاږه په بار بار

---

[۲] غبار، ۵۱۱ مخ.
[۳] غبار، ۵۱٦ مخ.

یو خیرات هم پر ځان وکه ـــ که په پور وي که په دار
نه اثر لري په زړو کي ـــ نه له خدایه څخه ډار
دا عالم به وي خاوند ه ـــ لا تر کومه پوري خوار
نیک و بد یې دواړه خپل دي ـــ ورسره یې خپل کردار
"جمعه" خپل مقصود وغواړه ـــ څه دي کار د وی په کار

که حاجي جمعه بارکزی نن ورځ ژوندی وای، ښایي د حکامو د چور او تالان په باب یې تر دې سخت شعر ویلی وای.

له کندهاري ورونو سره
د سيداحمد بريلوي کتنه

د احمدشاهي امپراتورۍ د زوال په وروستيو کلو کي د پنجاب سکهان د يوه لوی ځواک په توګه په سيمه کي مطرح سول. د دې قوت په سر کي مهاراجه رانجيت سنګهـ ولاړ و[۱]. له رنجيت سنګهـ سره انګرېزی ملاتړ هم موجود و او د افغاني سردارانو خپل منځي مخالفتو يې پر ځواک او ژواک باندي نور هم زياتوب راووست. د افغانستان په سياسي ډګر کي د سردار پاينده خان د زامنو د رول له پرمختګ سره د رنجيت سنګهـ د قواوو په وړاندي د سردارانو موقفونه د هغو ذاتي ګټو له مخي سره اوښتل او رااوښتل، چي هر يوه سردار د ځان له پاره سنجولي وې، او د هغو له پاره يې ويني تويولې. سردارانو د سکهانو له قوت سره د خپل تاج وتخت د ساتلو په حساب چلند کاوه. کله به يې ملاتړ کاوه او کله به يې پر ضد جهاد اعلاناوه. خو په عامه ذهنيت کي د سکهانو د قوت له زياتوب سره نوري اندېښني هم راولاړي سوي وې. د دې اندېښنو شکل مذهبي او ديني عقايدو جوړاوه او محتوی يې د وخت او زمان له غوښتنو سره سمه يو راز و بل راز کېدله. په همدغو مجادلو او مجاهدو کي د هند په لويه وچه کي يو بل قوت راپيدا سو، چي مشري يې د برېلوي سيداحمد پر غاړه وه.

سيداحمد بريلوي په ۱۷۷٦ع کال د هندوستان په بريله کي زېږېدلی

---

[۱] مهاراجه رنجيت سنګهـ (۱۷۸۰– ۱۸۳۹ع) د پنجاب د سکهانو لوی جنرال او مشر و، چي په ۱۷۸۰ ع کال د ننني پاکستان په ګجرانواله کي زېږېدلی او په ۱۸۰۱ع کال د مهاراجه په خطاب وغتېول سو. ده د انګليسانو په ملاتړ ټول پنجاب تر خپلي ولکې لاندي راووست. له سدوزي شاه شجاع څخه يې په درغلۍ سره د کوه نور الماس تر لاسه کړ او د پېښوري سردارانو له کمزورۍ څخه په ګټه اخيستني سره پر پېښور هم واکمني ټينګه کړه (۱۸۱۸ع). رنجيت سنګهـ په ۱۸۳۹ع کال مړ سو.

و. له وړکتوب څخه يې اسلامي جذباتو په ذهن کې ښه پوره ځای نيولی و. په ځواني کې يې د ټونک د والي اميرخان[۲] سره نوکري پيل کړه. د اميرخان په فوج کې يې څه ملګري وموندل او د مسلمانانو د اصلاح کار ته يې ملا وتړله. په ۱۸۲۲ ع کې له خپلو څلورو سوو ملګرو سره د بيت الله شريف زيارت ته ولاړ او څلور کاله وروسته بيرته هندوستان ته راستون سو او په ډهلي کې يې استوګنه غوره کړه. په دغه وخت کې د سکهانو اقتدار زيات سوی و او د پښتنو علاقه او د پېښور مضافات، يې چې په دغه وخت کې د پېښوري سردارانو په واک کې ول، هم تر تهديد لاندي کړي ول. سيداحمد بريلوي د کندهاري سردارانو د ملاتړ په نيامت له خپلو پنځو سوو ملګرو سره د کندهار لورته سفر وکړ[۳]. په دغه وخت کې (۱۲۴۲هـ ق =۱۸۲۷ع) د کندهار واکمني د سردار پردل خان په لاس کې وه او د خپلو نورو ورونو په مرسته يې حکومت کاوه. د کندهار سردارانو له سيد سره په ښکاره سمه وضعه وکړه د هغه درناوی يې وکړ. د ده ډلې ته يې د کندهار د ډنډ اوسني چوک ته نزدې د سردار رحمدل خان په باغ کې ځای ورکړ[۴] او د هغه د تحريک په باب يې د کندهار علماوو ته بلنه ورکړه، چې له سيد سره د جهاد او د نوموړي تحريک د مشروعيت او نورو جزئياتو په باب مباحثه وکړي. د سيد بريلوي هيئت د کندهاري علماوو په لړ کې له علامه فاضل کندهاري (حبواخندزاده) سره هم کتلي وه. علامه له دغه هيئت سره، چې په هغه کې مولوي اسمعيل دهلوي هم شامل و، د کابل سفر وکړ. د

---

[۲] پر هندوستان باندي د مغولو د واکمنۍ په دوران کې ځيني پښتني کورنۍ تر نوابيو پوري رسېدلي وې، چې په هغو کې د نواب اميرخان سالارزي پښتون کورنۍ وه. نواب اميرخان سالارزي د مغولي پاچا محمدشاه کورګاني په زمانه کې د ټونک رياست مشري پر غاړه درلوده. ټونک په منځني هندوستان کې واقع دئ او اوس د راجستان ايالت يوه ضلع ده. نواب اميرخان پر ټونک باندي اتلس کاله رياست وکړ او په ۱۲۵۰هـ ق = ۱۸۳۴ع کال مړ سو. د اميرخان په نوابۍ کې د پښتنو پوهانو ډېر قدر کېدی. (د تفصيل له پاره وګورئ: هيوادمل، زلمی، په هند کې د پښتو ژبې او ادبياتو د ايجاد او ودې پړاوونه – ۴۵۱مخ، دوهم چاپ، ۱۳۷۳هـ ش).

[۳] پښتانه د تاريخ په رڼا کښې، ۹۶۳– ۹۶۴ مخونه.

[۴] ميوند مجله، دريم کال، دريمه ګڼه، ۳۰مخ، د طرزي کهول، د علامه رشاد مرحوم ليکنه.

دې هیئت غړو علامه حبواخندزاده ته دومره اخلاص او عقیدت وموند، چې علامه مرحوم لیکي : "روزی در کابل خدمت مولوی اسمعیل شهید رحمه الله تعالی فقیر را در نماز عصر پیش کرد و در عقب فاتحه خواند[۵]".

د نوای معارک لیکونکی شکارپوري میرزا عطامحمد لیکي، چې د کندهار علماوو د سید د جهاد دعوت د یو رازعداوت په معنا وباله او رد یې کړ. د سید له ډلي سره یې څو ورځې پرله پسې بحثونه وکړل او په پای کې سید د کندهاري سردارانو له ملاتړ څخه نامېنده مخ پر کابل وخوځېد[٦]. پر لاري یې د پرتو قومونو په منځ کې د خپل تحریک تبلیغ وکړ او کابل ته ورسېد. په دغه وخت کې د کابل سرداران پخپلو منځو کې په شخړو اخته ول. سید د هغوی د دغه شرارت د له منځه وړلو هڅه وکړه خو بریالی نه سو او په مات زړه پېښور ته ستون سو[۷]. د پېښور سردار یار محمدخان له سید سره لومړی ملا وتړله خو وروسته یې جګړې ورسره وکړې او په دغو جګړو کې یې خپل سر هم وخوړ.

د سید له تحریک سره عامه ملاتړ موجود و او مشهور ختیځ پوه جیمز دارمستتر په پخپل کتاب (د پښتنو د شعر هار و بهار) د نورالدین مشهوره چاربیته او نوري عوامي غزلي، چې د سید د تحریک په ملاتړ ویلي سوي وې، راغونډې کړي. د دغه کتاب دوهمه غزله د نورالدین مشهوره چاربیته ده، چې د پنجتار د جنګ په باب یې ویلې ده او په دې کسر پیل کېږي:

روان شه یارمحمد سید وباسي له پنجتاره
سید له بری ورکـــړې الهي پروردګاره

د سیداحمد بریلوي د تحریک پر خلاف د هندوستان علماوو هم د دغه تحریک د ځینو افراطي کارونو له امله فتواوي ورکړې، چې سید بهادر شاه ظفرکاکاخېل د دغو فتواوو صادرول د سردار سلطان محمدخان او سکهانو د سازش نتیجه بولي[۸].

---

[۵] شل مقالې – څلورمه برخه، ۱۹۲ مخ.
[٦] نوای معارک، ۱۱۱– ۱۱۲ مخونه، د ۱۳۷۹ ش کال چاپ.
[۷] نوای معارک، ۱۱۲مخ.
[۸] پښتانه د تاریخ په رڼا کښې، ۹۷۳ مخ.

د سراج التواریخ مؤلف فیض محمد کاتب هزاره د سیداحمد بریلوي تحریک د (فتنهٔ سیداحمد و مولوی اسمعیل هندی) تر نامه لاندي راوړی ده. زه (هوتک) نه پوهېږم چي دا به د کاتب هزاره خپل قضاوت و، که به یې د وخت د واکمنو ذهنیت ته انعکاس ورکړی و.

سیداحمد بریلوي د ۱۸۳۱ ع کال د می پر شپږمه د بالاکوټ په سیمه کي له سکهانو سره په جنګ کي شهید سو[۹] او د ده له شهادت سره د تحریک کمبله هم ټوله سوه.

د کندهاري سردارانو د کورنۍ دانشمند غړي سردار غلام محمد خان طرزي د سیداحمد خان بریلوي پر مړینه باندي یوه مرثیه ویلې ده:

سید احمد خان که بود او سید عـــالی نسب
در سخاوت بیعدیل و در شـجاعت بی پدید

از فتوت وزمـروت در جوانمـــــردی و داد
نی کسی مثلش شنیده نی کسی مثلش بدید
بی سبب از دست بیدینی شـهادت یافت وی
این چنین ظلم نـمایان کـس بعالم کم شـنید
طـائر روحش درین دنیای فـــانی تنگ بود
جـــانب گلـــــــزار جنت روح پاک او پرید
هر که آمد در جــــــهان باید چشد جام اجل
خوشدلی آنرا که از دست شهادت می چشید

سال فـــوتش را زپیر عقل دیشب خواسـتم
مصرعی مـوزون روان از هاتف غیبی شـنید

---

[۹] پښتانه د تاریخ په رڼا کښې، ۹۷۱ مخ.
راجه محمد افتخار علی خان په (پټهانون کی تاریخ) ۵۲ مخ کي (د ۱۹۸۴ ع کال چاپ) د سید د شهادت نېټه می ۱۸۳۱ ع بللې ده. سراج التواریخ ۱۵۶/۱ مخ کي د سید د شهادت کال ۱۸۴۹ ع بللی دئ. میر غلام محمد غبار په (افغانستان در مسیرتاریخ، ۵۱۵ مخ) کي د سید د شهادت کال ۱۸۳۱ ع بولي.

ګفت طرزی بهر سال رحلتش برجسته ګو
آه وی ګرديد روز عيد قرباني شهيد
۱۲۴۹ هـ ق

د مقطع وروستي نيم بيتي ته په عدد باندي ۱۲۴۹ کښلي دي، چي له ۳۳ - ۱۸۳۴ع سره سمون لري. ما چي وروستی بيت محاسبه کړ ۱۲۳۹ ځني راوزي. که د (آه) کلمې د سر ممدوده الف دوه چنده سي ۱۲۴۰ ځني راوزي. دا دواړه کلونه د ظفر کاکاخېل، راجه محمد افتخار علي خان او مير غلام محمد غبار له ۱۸۳۱ع سره سر نه خوري ځکه ۱۲۳۹ هـ ق کال له ۲۳ - ۱۸۲۴ ع سره او ۱۲۴۰ هـ ق کال له ۲۴ - ۱۸۲۵ع سره برابر دئ.

د کندهاري ورونو د واکمنۍ زوال

په ۱۲۷۱ هـ ق (۱۸۵۴ع) کال کي لا په کندهار کي له کندهاري سردارانو څخه درې تنه (سردار کهندل خان، سردار مهردل خان او سردار رحمدل خان) ژوندي ول او سردار کهندل خان د واکمنۍ پر ګدۍ ناست او نورو يې واک منلی و. د همدې کال د ځلرمي خور پر ۲۷ مه د جمعې په ورځ (۱۵مارچ ۱۸۵۵ع) سردار مهردل خان مړ سو. د ده ماتم لا سوړ سوی نه و، چي سردار کهندل خان هم د استسقاءپه ناروغۍله دنيا څخه سترګي پټي کړې (سه شنبه اوومه د ذی الحجة الحرام ۱۲۷۱هـ ق = ۲۲ اګست ۱۸۵۵ع). د سردار کهندل خان مړيني د کندهاري سردارانو په کورنۍ کي د بې اتفاقۍ پر اور باندي تېل وپاشل. سردار رحمدل خان، چي د پنځو ورونو وروستی پاته شخص و، د خانداني دود له مخي ځان د واکمنۍ مستحق باله، خو د سردار کهندل خان مشر زوی سردار محمد صديق خان ځان د خپل پلار د واکمنۍ بالاستحقاق وارث ګاڼه. دې مخالفت خبره جګړو ته ورسوله. د سردار محمدصديق خان په پلوي باندي د نوموړي نور ورونه سردار سلطانعلی خان، سردار عبدالله خان، سردار محمدعمرخان او سردار محمدعثمان خان ودرېدل. له سردار رحمدل خان سره د ده خپل زامن سردار محمدعلم خان او سردار غلام محمدخان طرزي، دغه راز د سردار پردل خان زامن هر يوه سردار ميرافضل خان، سردار عبدالرسول خان او سردار عبدالاحد خان، د سردار مهردل خان زامنو هر يوه سردار خوشدل خان،حاجي منوردل خان، سردار شيرعليخان د خپل اکا سردار رحمدل خان پر سيله ودرېدل.

د سردار کهندل خان کور په ارګ کي دننه و، ځکه نو زامنو يې ارګ د ځان له پاره مورچل وټاکه او مقابله يې پيل کړه. د سردار رحمدل خان د ډلي کورونه د ارګ او چارسو په منځ کي واقع وه. دوی له دې خوا پر ارګ باندي بريدونه شروع کړل. څو ورځي يې جګړه وکړه او په دې ترڅ کي له

دواړو خواوو څخه څلور سوه تنه ووژل سول، چي په هغو کي د سردار پردل خان لمسی سردار غلام محمدخان، چي د سردار میر افضل خان زوی و، هم مړ سو[1]. د ښار خلک د دې جګړو له امله په غاو سول. ځکه د دې جګړو له امله د ښار عادي خلکو ته صدمه رسېدله او په ناپامي کي د ښار ډېر بېګناه خلک ووژل سول. وروسته د ښار خلکو سیدان و ملایان پر مرکه کړل، قرآنونه یې یو بل ته شفیع کړل او له دواړو لورو څخه یې وغوښتل، چي له جګړې څخه لاس واخلي. د دې مرکې په حکمیت باندي، په پای کي داسي فیصله وسوه، چي سردار رحمدل خان د کورنۍ مشر دئ باید چي واکمني د ده پر غاړه وي او نور ورپرونه یې باید د کندهار ولایت له مالیاتو څخه د هر یوه له موقف او شان سره سمه برخه ولري. تر ډېرو خبرو او لانجو وروسته د سردار کهندل خان زامنو دا فیصله ومنله. سردار رحمدل خان دوې میاشتي د واکمنۍ پر ګدۍ تېري کړي لا نه وې، چي د مخالفتو اور بیا زور واخیست. ځکه چي د کندهار مالیاتو د سردار کهندل خان د زامنو او د هغو د لښکرو خرڅ نه سوای پوره کولای. دا وار یې له امیر دوست محمد خان څخه وغوښتل چي د دوی جوړه ور وکړي. امیر چي دا غوښتنه له خدایه پر اسمان غوښتله خو خدای پر مځکه ورکړله، په چټکۍ سره یې خپل زوی سردار شېرعلیخان (وروسته امیر شېرعلي خان)، چي په دغه وخت کي د غزني حکمران و، کندهار ته له یو منظم لښکر او څو توپو سره واستاوه او پخپله هم څو ورځي وروسته له کابله مخ پر کندهار ور رهي سو. شېرعلیخان ته د کندهار سردارانو هرکلی ووایه، ده او لښکر ته یې د ښار په شمال لوېدیځ کي ځای ورکړ[2]. سردار شېر علیخان د خپل پلار، امیر دوست محمدخان، تر راتګه پوري، هره ورځ څو څو قطعې عسکر ښار ته‌ ن‍ ‍ه ایستل او مابښام به یې له ښار څخه د راوتلو پر وخت د خپل ملګري لښکر نیمه نیمه برخه د پردل خان د زوی سردار میرافضل خان په کور کي ځای پر ځای کوله او په دې ډول یې آته سوه تنه عسکر او شپږ توپه په ښار کي

---

[1] سراج التواریخ ۲/۳۴ مخ.

[2] وایي دا ځای پخوا د انګرېزانو د لښکر یوه چوڼۍ وه، چي ما ته یې اوس د موقعیت دقیقه څرګندونه ممکنه نه ده، خو غالباً به د ډنډ د اوسني چوک او پیرپایمال په حدودو کي وه؟

ځای پر ځای کړل[۳]. په دغه وخت کي امیر دوست محمد خان هم له خپل لښکر سره کندهار ته راورسېد. په خورا مهارت او تدبیر یې له سردارانو سره خبري پیل کړې او خپل لښکر یې په ارګ کي ځای پر ځای کړ، د ښار د دروازې کیلي یې خپلو باوري خلکو ته ورتسلیم کړې. نور یې د جوړي خپله طرحه کندهاري سردارانو ته وړاندي کړه، چي په هغه کي یې هر سردار ته دهغه له موقف او دریځ سره برابره برخه وټاکله[۴] او کندهار یې د افغانستان د سلطنتي نظام یوه برخه اعلام کړه. په دې جوړه باندي د کهندل خان زامن سردار محمد صدیق خان، سردار محمد عمر خان او سردار محمد عثمان خان راضي نه ول او هغوی د امیر دوست محمد خان حضور ته حاضر نه سول او په پشت رود کي یې خپل مخالفتونه پیل کړل.

د کندهاري سردارانو ځینو ناراضي کسانو د څه مودې له پاره خپل مخالفت او په ځینو وختو کي وسله وال جنګ ته دوام ورکړ، خو په پای کي یې قدرت او پیسې تمامي سوې، ځینو مخ پر ایران ونیو او ځیني د امیر متابعت ته تسلیم سول.

وایي سردار رحمدل خان یوه ورځ خپل ورور امیر دوست محمد خان ته په کندهار کي د ګیلې په ډول وویل: "کلاهی که بر سر داشتیم، به بازیچهٔ طفلانه از سر ما بر زمین افتاده، بشما عرض و التماس کردیم که از کابل تشریف آورده باز بر سر ما بگذارید، و حال بخلاف خیالی که داشتیم، آن کلاه پاره پاره گشته، هرپاره ای ازآن بهرهٔ دیگری شده، علاوه بر آن

---

[۳] سردار میرافضل خان چي د سردار شېرعلیخان (وروسته امیر شېرعلیخان) خسر و، د همدغو همکاریو له امله د امیر شېرعلیخان په پاچهي کي د کندهار د والي په توګه وټاکل سو.

[۴] په دې برخه کي یې سردار رحمدل خان ته پنځه لکه روپۍ، سردار میرافضل خان ته دوه لکه روپۍ، سردار خوشدل خان ته یو لک و اویا زره روپۍ، سردار غلام محی الدین خان ته یو لک و دوولس زره روپۍ، سردار شیرعلیخان (والي شیر علیخان) ته هم یو لک و دوولس زره روپۍ، حاجي منوردل خان ته اویا زره روپۍ د کاله وټاکلې او نورو سردارانو ته یې ټولي دوه لک و شپږ دېرش زره روپۍ کلنۍ معاش وټاکه، چي هر یوه ته به د هغه له رتبې سره سم وېشل کېدې. وګ: سراج التواریخ ۲/۳۷ مخ.

باعث اقامت شما در قندهار نیز گردید[٥]".

امیر دوست محمدخان ورته مسلي وه او زیاته کړې یې وه: "کلاه شما به بازی طفلانه خود شما پاره پاره شده، اگر من در قندهار درنگ نکرده آهنگ مراجعت کابل کنم، البته شما را نیز برادرزادگان ـ چنانچه بود ـ اطاعت نکرده، باز در فتنه باز خواهد گشت[٦]".

دا میر دغه جواب د کندهار سرداران په ځان خبر کړل، خو دا وخت اوبه تر ورخ اوښتي وې او کندهار د دوی له ګوتو وتلی او د کابل د امیر په واک کي و.

امیر دوست محمد خان د کندهار او شاوخوا سیمو د حالاتو تر کابو لاندي راوستلو وروسته خپل زوی سردار غلام حیدرخان د دغه ولایت د واکمن په توګه وټاکه او سردار فتح محمدخان او سردار جلال الدین خان[٧] یې د هغه د مرستندویانو په توګه ورسره پرېښوول او پخپله کابل ته ولاړ. په دې توګه پر کندهار باندي د کندهاري وروڼو تقریباً اته دېرش کلنه واکمني پای ته ورسېدله (۱۲۷۳هـ ق = ١٨٥٦ع) او د ټول افغانستان اداره د کابل د مرکزي دولت لاس ته ورغله.

---

[٥] سراج التواریخ، ۳۷/۲ مخ.

[٦] سراج التواریخ، هماغه ځای.

[٧] سردار جلال الدین خان د وزیر محمد اکبر خان زوی و.

د کندهاري سردارانو

د کورنۍ سیاسي او فرهنګي مخور

د سردار پردل خان کورنۍ

سردار پردل خان په کندهاري سردارانو کې تر ټولو مشر و او پر کندهار باندې د ده د حکومت موده درې کاله وه.

په ۱۲۱٦ هـ ق = ۱۸۰۱ع کال کې چې شاه محمود سدوزی د سردار فتح خان په مرسته د کابل پر تخت کښېنوست، سردار فتح خان یې د (شاه دوست) په لقب خپل وزیر وټاکه. وزیر خپل ورونه د هماغه وخت د افغانستان په پراخ قلمرو کې د حاکمانو په توګه وټاکل. په دغو ټاکنو کې سردار پردل خان ته د کندهار او د هغه د ملحقاتو (له کلات څخه تر بولان او فراه پورې) واکمني ورسپېده چې بل ورور یې سردار مهردل خان هم ورسره شریک و[1]. په ۱۲۳۲ هـ ق = ۱۸۱٦ع کال کې چې هرات د قاجاري لښکرو له خوا کلابند سو، د هغه ښار حاکم حاجي فیروزالدین خپل ورور شاه محمود سدوزي ته د مرستې لاس وغزاوه. د شاه محمود سدوزي له خوا وزیر فتح خان له یوه درانه لښکر (دېرش زره تنه) سره هرات ته ولېږل سو. وزیر فتح خان هرات ته له رسېدو سره سم حاجي فیروزالدین د سلا مشورې له پاره وروغوښت او بندي یې کړ. د هرات چارې یې سره تنظیم کړې او له ایراني لښکرو سره د جګړې په نیت له هرات څخه مخ پر کهسان ورووت[2] له ایراني لښکرو سره یې د خرپ توري ووهلې او له میدانه یې وتښتول. د ایراني لښکرو په دغه تاریخي ماته کې د وزیر فتح خان پر نورو ورونو سربېره سردار پردل خان هم شامل و[3]. قاجاریانو د دغه نظامي

---

[1] حبیبي، تاریخ مختصر افغانستان، ۲۸۰ مخ، ۱۳٦۸ ش چاپ.

[2] کهسان د هرات په شپږ میلۍ کې پروت دئ.

[3] په دغه جګړه کې وزیر فتح خان په خوله کې په ګولۍ وویشتل سو او ټپي یې هرات ته بوت.

سپکاوي د جبران له پاره د شاه محمود زوی شهزاده کامران د فتح خان پر ضد ولمساوه او د دې لمسون په نتیجه کې شهزاده د نومیالي وزیر فتح خان سترګې وکښلې او ړوندې کړ (۱۲۳۴هـ ق = ۱۸۱۸ع). په دغه پېښه کې د وزیر ورونه سردار شېردل خان او سردار کهندل خان له هرات څخه پر وتلو بریالي سول خو سردار پردل خان، چې په دغه ورځ ناروغه و، له آسه ولوېد او د شهزاده کامران لښکرو ونیو. کامران سمدلاسه مخ پر کندهار ونیو او په سترګو ړوند سوی وزیر او سردار پردل خان یې هم له ځان سره ملګري کړل. سردار پردل خان له کامران څخه په څه چل ځان خلاص کړ او ځان یې خپلي پلرنۍ مېني نادعلي ته ورساوه او د نورو وروڼو په ملګرتیا یې په ټول افغانستان کې د انتقام اخیستلو لویه هنګامه پیل کړه. پر کندهار یې لښکر راوخوځاوه او د سردار دوست محمد خان له خوا د شاه محمود سدوزي او زوی یې شهزاده کامران تر ماتولو وړاندي کندهار له نائب ګل محمد خان پوپلزي څخه ونیو.

سردار پردل خان پر سیاسي او نظامي استعداد سربېره د معرفت برخه هم درلوده او علامه محمود طرزي د ده په باب لیکي، چې: "در ظاهر و باطن صاحب معرفت بودند و از مریدان باکمال قطب زمان میان حضرتجی صاحب شمرده میشدند ..."[۴].

پردل خان د پښتو شاعري هم کړې ده. په پښتانه شعراء دوهم ټوک کې د ده په باب داسي لولو: "... پردل خان هم په پاړسو هم په پښتو شعر وایه، دی متدین او متصوف سړی او په ټولو معناوو یو پښتون سردار و. ده چې په پښتو کم (کوم) اشعار ویلي دي، ټوله په ملي لهجه او د پښتو پر خصوصي بحورو او اوزانو سم دي. په ملي شعر کښې یې د پردو د بحورو پېښې نه دي کړي، نو یې اشعار یو خاص ملي خوند هم لري[۵]".

---

[۴] دیوان طرزی صاحب افغان، دیباچه، ۱٦ مخ.

[۵] پښتانه شعراء، دوهم ټوک، ۴۴۴مخ، پښتوټولنه، کابل، ۱۳۲۱ش. د پښتانه شعراء دغه برخه د علامه حبیبي په قلم لیکل سوې ده، چې د کتاب په (د) مخ کې یې یادونه هم سوې ده. اروا ښاد غبار هم په (تاریخ ادبیات، ص۱۵۹) کې د پردل خان د شاعرۍ خبره کړې ده.

په پښتانه شعراء دوهم ټوک او تذکرة الشعراء کي[٦] د سردار پردل خان يوه پښتو بدله ثبت سوې ده:

وې ګورئ د ګل په شان مي ژړ رخسار د يار دئ	عالم يې تمه دار دئ
يو دي بوی د ګلاب راغی	زړه مي په تاب راغی
پروت په بېغمی، وم يو بشر مي په خواب راغی	پر مخ مي سېلاب راغی
وينښ يې کړم له خوبه بيا پيری که انسان راغی	او پر مخ ـ مخ مي باران راغی
پرې خو به يې نه ږدم چي په مينه کي مي يار دئ	عالم يې تمه دار دئ

ښه صفت دي رنګا رنګ کوم	هوا دي د پلنګ کوم
ستا پر تورو زلفو د رقيبه سره جنګ کوم	منګولي به په رنګ کوم
او دا مي پېغور نه دئ که شړی د رپسې لنګ کمه	او ترشاتر شا به نام و ننګ کوم
نې لرم پروا پردل د عشق په تهمت بار دئ	عالم يې تمه دار دئ

سردار پردل خان ته د ساه لنډی ناروغي پېښه سوه او د ۱۲۴۵ هـ ق کال د ذی القعدة الحرام د مياشتي په وروستی ورځ (شنبه) = ۲۴ جون ۱۸۳۷ ع مړ او د حضرتجي بابا په زيارت کي ښخ سو[٧]. د سردار پردل خان له دوو ښځو (يوه بارکزۍ بله غلجۍ) څخه شپږ زامن پاته سول.

---

[٦] تذکرة الشعراء د سراج الدين خان سعيد او مولوي صالح محمد هوتک ګډه ليکنه ده، چي په ۱۳۶۶ ش کال په کابل کي د څېړندوی خدمتګار بختاني په زيار سره چاپ سوې ده.
[٧] سراج التواريخ ۱/۱۵۶ مخ.

سردار پردل خان

سردار میر افضل خان

سردار میرافضل د سردار پردل خان زوی و. مور یې بارکزۍ وه. د ده لور، عایشه د امیر شېرعلیخان ګرانه ماندینه وه امیر ورته په ښه سترګه کتله. د امیر شېر علیخان په پاچهي کي سردار میر افضل خان د کندهار او فراه د والي په توګه مقرر سوی و. ده له امیر شېر علیخان سره د هغه په انګلیسي ضد سیاست کي مرسته کوله. خو د امیر له زامنو سردار یعقوب خان او سردار ایوب خان سره یې جوړه نه وه. ده په لومړي سر کي ښه ډېره زمانه په ایران کي تېره کړې وه. د امیر شېرعلیخان د پاچهۍ په وخت کي د ده په شان عواید هیڅ کوم سردار نه درلودل. لودویک ادمک لیکي، چي د امیر له خوا خورا درانه مواجب ورته مقرر سوي وه. دغه راز یې یوازې د کندهار عایدات دوولس نیم زره روپۍ ول او د فراه له عاید سره پنځوس زرو روپیو ته رسېدل. ادمک زیاتوي چي په ۱۸۸۱ - ۱۸۸۲ع کلونو کي د هندوستان حکومت ورته دوولس زره تومنه ورکړل او ورځخه ویې غوښتل چي په ایران کي پاته سي او هرات ته د ایوب خان مرستي ته ولاړ نه سي.

اروا ښاد غبار لیکي، چي پر کندرهار بالدي د انګرېزانو د دوهم یرغل په دوران کي، چي د سر ډونالډ ستیوارټ په مشرۍ د کوږک او کوټي له لاري د ۱۸۷۸ م کال دنومبر پر ۲۱مه وسو، د کندهار حاکم سردار میرافضل خان و. دی د امیر شېرعلیخان په امر له خپلو قواوو سره د ګرشک او فراه له لاري هرات ته پر شا سو. غبار دا پر شاتګ د امیر شېرعلیخان په غلطیو کي شمېري[(۱)].

سردار میر افضل خان د امیر عبدالرحمن خان په وخت کي، سره له دې چي د فراه د والي په توګه ورسره ژمنه سوې وه، له هیواده د ایران خراسان ته مهاجر سو. وایي چي په سپین ږیرتوب کي یې د احتیاج ژوند تېراوه او د اوقافو په معاش یې ګوزاره کوله. ژوند یې تر ۱۸۸۸ ع پوري

---

(۱) افغانستان در مسیر تاریخ، ۶۱۶مخ.

یقیني دئ[۲].

میر افضل دیرلس ودونه کړي ول او له هغو څخه یې پنځلس زامن او یوولس لوڼي پاته سوې، چي د سردار پردل خان په کورنۍ شجره کي یې نومونه ثبت سوي دي او تاسي به یې هورې ولولئ.

[۲] لودویک ادمک، هو از هو ان افغانستان، ۱۸۸ مخ.

سردار عبدالوهاب خان

(امين المكاتب)

سردار عبدالوهاب خان د سردار مير افضل خان زوی او د سردار پردل خان لمسی و[1]. د ميوند د جګړې پر وخت د سردار ايوب خان له پلويانو څخه و او د نوموړي سردار ايوب خان له خوا د هرات والي ټاکل سوی و. کله چي سردار ايوب خان په کندهار کي د امير عبدالرحمن له لاسه ماته وخوړه (۱۲۹۹هـ ق =۱۸۸۱ع) او مجبور سو ايران ته له خپلو پلويانو سره يو ځای، چي په يوه روايت يې شمېر اتو سوو تنو ته رسېدی او د هرات، فراه، هلمند، کندهار او کابل لويان پکښې ول، پناه ورووړي، سردار عبدالوهاب خان له خپل پلار سره هم په دغه ډله کي اېران ته ولاړ. د سردار مير افضل خان تر مړيني وروسته د پارس قاجاري دولت پر سردار عبدالوهاب خان باندي زور واچاوه چي خپله لور د قاجاريانو د سلطنتي کورنۍ يوه غړي ته په نکاح کړي، خو سردار عبدالوهاب خان دې کار ته غاړه کښېښوولېله او هند ته ولاړ. څه موده يې په کراچي ښار کي تېره کړه او د امير حبيب الله خان د پاچهۍ په سر کي چي د امير عبدالرحمن خان له خوا ټولي فراري سوي کورنۍ بيرته هيواد ته راوغوښتل سوې، سردار عبدالوهاب هم له خپلي کورنۍ سره خپلي پلرنۍ مېني ته راستون سو او د امير له خوا د امين المکاتب په توګه وټاکل سو[2]. دغه دنده يې اووه کاله (۱۹۰۳ـ ۱۹۱۰ع) مخ ته بوتله. په ۱۹۱۰ع کال کي د سرحد د ټاکلو د کمېسيون غړی سو. څه موده وروسته د ترکستان د نائب الحکومه په توګه مزار شريف ته ولاړ او د

---

[1] مور يې له هزاره قام څخه وه.

[2] د تقرر خبر يې د سرج الاخبار د لومړي کال په لومړۍ ګڼه پنځم مخ کي خپور سوی دئ.

امیر حبیب الله د وژلوتر وروسته هورې پاته و[۳].

سردار عبدالوهاب خان درې ودونه کړي وه. یوه مېرمن یې د خپل اکا (تره) سردار عبدالرسول خان لور وه، دوهمه یې ایرانۍ او دریمه یې د فرغانې وه. له دې درو مېرمنو څخه یې نهه زامن او درې لوڼې پاته سوې.

[۳] سیستانی، محمداعظم (کاندید اکاډمیسین)، علامه محمود طرزی، شاه امان الله و روحانیت متنفذ، ۴۳-۴۶ مخونه.

سردار عبدالرحمن خان

نوموړی د سردار عبدالوهاب خان (امین المکاتب) زوی، د سردار میر افضل خان لمسی او د سردار پردل خان کړوسی و. علامه حبیبي يې په جنبش مشروطیت در افغانستان کې یادونه کوي او په منورینو او ترقي غوښتونکو کې شمېري. علامه زیاتوي چې سردار عبدالرحمن خان او ورور يې سردار عبدالحبیب خان د مشروطه غوښتونکو په هغه فرعي ډله کې شامل ول، چې شهزاده امان الله خان هم پکښې غړیتوب درلود ... سردار عبدالرحمن خان د امیر حبیب الله خان (سراج الملة والدین) د پاچهۍ په پای کې په ډهلي کې د افغانستان د سفیر په توګه ټاکل سوی او د امیر امان الله خان په کابینه کې د پوهني وزیر و[1].

سردار عبدالرحمن خان په ۱۲۴۹ ش = ۱۸۳۳ع کال په فراه کې زیږېدلی دئ. کله چې پلار سردار عبدالوهاب خان د میوند له غازي سردار ایوب سره یو ځای ایران ته پناه یووړه، سردار عبدالرحمن خان او ورور يې سردار حبیب خان (عبدالحبیب خان) هم ورسره وو. سردار عبدالرحمن خان څه موده له خپل پلار سره په تهران کې تېره کړه او په دغه وخت کې يې په ایران کې خپل تحصیلات بشپړ کړل. د امیر عبدالرحمن خان تر مړیني وروسته چې له هیواد څخه ایستل سوو کورنیو ته عمومي بخښنه اعلان سوه، سردار عبدالرحمن خان هم له خپل پلار سردار عبدالوهاب خان سره هیواد ته راغی او په شاهي عسکرو کې شامل سو. دلته يې له مشروطه غوښتونکو سره اړیکي ټینګ سول او په ۱۹۰۹ ع کال چې د مشروطه غوښتونکو د لومړي غورځنګ غړي بندیان سول، سردار عبدالرحمن خان او ورور يې سردار عبدالحبیب خان هم د ارګ زندان ته واچول سول. څه موده يې په زندان کې تېره کړه او بیرته خوشي سول. په خوشي کېدو کې يې

[1] حبیبي، جنبش مشروطیت در افغانستان، ۳۷ – ۳۸ مخونه، د ۱۳۷۷ ش چاپ.

خانداني اړيکو مرسته وکړه. د امير امان الله خان په کابينه کې د پوهنې د وزير په توګه وټاکل سو او تر څه موده وزارت وروسته هند ته د سفير په توګه نوي ډهلي ته ولاړ. سردار عبدالرحمن خان له انګرېزانو څخه د خپلواکۍ اخيستلو د جګړې پر مهال د جګړې د متارکې په برخه کې له پېښور څخه تر کابله پوري د پيغامونو رسولو چاره په ښه توګه پرمخ يووړه. د خپلواکۍ تر ګټلو وروسته د بهرنيو چارو په وزارت کې د مامور په توګه وټاکل سو او تر هغه وروسته د فراه او چخانسور د تنظيميه رئيس په صفت مقرر سو. درې کاله يې دغه وظيفه پر مخ ووهله. په سقوي دوره کې يې پر بند سربېره ډېر مالي و ځاني تاوانونه وليدل. د نادرخان د سلطنت په سر کې فراه ته ولاړ او هورې مړ سو (۱۳۱۳ش = ۱۹۳۴ع).

سردار عبدالرحمن خان په اردو او انګرېزي ژبو پوهېدی او په پارسي ژبه يې شعر وايه. وايي چې د شعر دېوان يې هم درلود. د ده د شعر يوه نمونه به د ښاغلي محمدولي ځلمي له کتاب (د استبداد او مطلقيت پر ضد د ځينو افغانانو ملي مبارزې) څخه را نقل کړم. ښاغلي سيستاني پخپل نوي کتاب (محمود طرزی، شاه امان الله و روحانيت متنفذ) کې هم دغه رباعي راوړې ده.

یک چند که زیر خاک شد منزل ما
بینی که چه کوزه ها کنند از گل ما
چون بر لب هر دلبری رسد آن کوزه
بیرون شــــود آرزو هـمه از دل ما

د سردار عبدالرحمن خان پنځه زامن پاته سول : سلطان احمدخان، غلام محمدخان، عبدالله خان، شمس الدين خان او علي احمدخان.

سردار عبدالحبیب خان

د سردار عبدالوهاب خان امین المکاتب دوهم زوی و. مور يې، سکینه بیګم، د سردار عبدالرسول خان لور وه. دی او ورور يې د علامه حبیبي په قول د لومړیو مشروطه غوښتونکو په یوه فرعي جرګه کې شامل وو او شهزاده امان الله خان هم له دې ډلي سره اړیکي درلودل او کله چي امیر حبیب الله د مشروطه غوښتونکو غورځنګ وځپی، سردار عبدالحبیب يې هم په ارګ کي بندي کړ[1]. د امیر امان الله د پاچهی په سر کي د پوهني د وزیر په توګه وټاکه سو. علامه حبیبي لیکي چي په کابل کي د مشروطه غوښتونکو ملګرو وپتېیله چي له دې وروسته به وسله د ځانو سره ګرزوي او ویل به يې : امیر حبیب الله، نه بلکي عبدالحبیب رئیس. دا خبره که څه هم په ټوکو کي سوې وه خو د امیر رپوټچیانو هغه د امیر تر غوږه ور ورسوله او دربار پر مشروطه غوښتونکو باندي راوغورځېد. واینې چي دا پخپله د دربار د دسیسه جوړوونکو له پاره یوه پلمه وه.

---

[1] جنبش مشروطیت، ۳۸مخ، چاپ ۱۳۷۷ش.

د سردار پردل خان د کورنۍ شجره



---

* سردار میرافضل خان له ۱۳ ماندینو څخه پنځلس زامن (محمدنعیم، عبدالله، غلام محمد، عبدالوهاب، عبدالواحد، عبداللطیف، محمداعظم، عبدالرحمن، عبدالحکیم، نوراحمد، فتح الله، عبدالقادر، حبیب الله، امین الله، عبدالحمید، عبدالشکور) او یوولس لوڼي (بي بي نور، رابعه، نوشابه سلطان، رقیه سلطان، امینه، عایشه، فرح سلطان، فاطمه سلطان، سارا، بي بي همدم، بي بي مریم) درلودې. یوه لور (عایشه) یې د امیر شېرعلي خان مېرمن وه.

** په سردار محمدامین خان واده وه. سردار محمدامین خان د امیر عبدالرحمن خان زوی و.

د سردار شېردل خان کورنۍ

سردار شېردل خان په کندهاریو ورونو کي د عمر په لحاظ دوهم ورور دئ، چي په ۱۲۰۱هـ ق کال زيږېدلی او د ۱۲۴۲ هـ ق کال د محرم پر ۲۵مه د جمعې په ورځ د ۴۱ کالو په عمر په کندهارکي مړ سوی او د حضرتجي بابا په هديره کي ښخ دئ. شېردل خان پر کندهار باندي اته کاله حکومت کړی دئ. دی د شاه محمود سدوزي په پاچهي کي په ۱۲۱۶هـ ق =۱۸۰۱ع کال، چي وزير فتح خان خپل ورونه د افغانستان د ولايتو د حاکمانو په توګه وټاکل، د غزني واکمن سو[1].

شهزاده کامران سدوزي چي په هرات کي وزير فتح خان د مېلمستيا په وخت کي ونيو او د سترګو له نعمته يې بې برخي کړ، په دغه مېلمستيا کي سردار پردل خان، سردار شېردل خان او سردار کهندل خان هم حاضر ول. د نوای معارک مؤلف ميرزا عطامحمد ليکي، چي له دغي مېلمستيا څخه کهندل خان وتښتېدی، پردل خان د شهزاده کامران په لاس کښېووت او شېردل خان په خورا مېړانه مقابله وکړه او د عين مقابلې په حالت کې ځان له صحنې وکيښ او ګرشک ته وتښتېدی[2].

وايي هغه وخت چي د سنده ميرانو د کابل واکمن سردار محمدعظيم خان ته د سيد محمدکاظم شاه په لاس سنده ته د ورتګ بلنه ورکړه، سردار محمدعظيم خان او سردار شېردل خان له کابل څخه له خپل ځلوېښت پنځوس زري لښکر سره د کندهار له لاري ښکاپر ته ورسېدل (۱۲۳٦هـ ق =۱۸۲۰ع). سردار محمدعظيم خان د ښکاپر ماليې د سنده له ميرانو څخه راټولي کړې او د ښکاپر حکومت يې سردار شېردل خان ته وسپاره. سردار شېردل خان د ښکاپر د حکومت نيابت ملا مومن خان

---

[1] تاريخ مختصر، ۲۸۰ مخ.

[2] نوای معارک، ۳۱مخ، د ۱۳۷۹ش چاپ.

غلجي ته ورکړ پخپله سردار شېردل خان له سردار محمدعظیم خان سره کندهار ته راستون سو او د کندهار حکومتي چاري یې پخپل لاس کي واخیستې. ملا مومن غلجي په ښکاپر کي اووه اته میاشتي د نیابت چاري په ښه توګه پر مخ بوتلې، د غلو او غدیو ریښې یې وکښلې او کله چي د کندهار له خوا د ښکاپر حکومت سردار رحمدل خان ته وسپارل سو، ملا مومن مخ پر کندهار رهي سو او د نوای معارک مؤلف میرزا عطا محمد یې هم ورسره بوت[۳] وایي چي نائب ملا مومن غلجی او امین الله خان لوګری له وړکتوب څخه د غازي عبدالله خان اڅکزي کلک انډیوالان او وفاداره ملګري ول[۴]. په هغه ډله کي چي غازي محمد اکبر خان له مکناټن سره د خبرو له پاره د ځان ملګرې کړې وه (۲۳ دسمبر ۱۸۴۱ ع) ملا مومن هم شامل و[۵]. دغه خبري د مکناټن په وژلو سره پای ته ورسېدې.

لکه د دې رسالې په سر کي چي مو د (کندهاري وروڼه) په بحث کي په ډېر لنډ ډول کابل ته د سردار شېردل خان سفر ته اشاره کړې ده، دلته به د دې پېښي لړ څه مفصل بیان راوړو.

د سردار پاینده خان زوی سردار محمدعظیم خان په ۱۲۳۸ هـ ق کال = ۱۸۲۲ع مړ سو او د کابل حکومت د ده زلمي زوی سردار حبیب الله خان

---

[۳] نوای معارک ۷٦ مخ. د نوای معارک مؤلف میرزا عطامحمد د سردار شېردل خان په حکومت کي د (مختارکاری) وظیفه درلوده. تر ده وړاندي د سردار شېردل خان مختارکار (عمله باشي) میرزا احمد خان نومېدی. د نوای معارک مؤلف یې د (نجابت اونیک ذاتی) یادونه کوي (۷۸مخ). د کندهار ښار شمال لوېدیځ ته تر باباولي کوتل لاندي د میرزا احمد خان په نامه یوه کلاچه سته چي زموږ تر بحث لاندي د همدې شخص نامه ته منسوبه ده. دا سیمه اوس (۲۰۰۷ع) د ښاروالی یوه ناحیه ده. میرزا عطامحمد په هغه ټول سفر کي له کندهاریو سردارانو سره ملګری و، چي له شهزاده کامران سره د جګړې په نیت له کندهاره مخ پر هرات وروتلي ول (۷۹ مخ). مؤلف وایي چي دا جنګ په ۱۲۳۸هـ ق کي پېښ سو.

[۴] نوای معارک، ۲۱۷ مخ.

[۵] وګ: د علامه رشاد رحمه‌الله نوی چاپ سوی اثر، ملي اتل، غازي وزیر محمد اکبر خان، ۱۸مخ. د دې ډلې نور غړي دا کسان وو: محمدشاه خان بابکرخېل او وروڼه یې دوست محمد خان او خدابخش خان، غلام محی الدین خان، او سردار سلطان احمد خان د محمد عظیم خان زوی.

ته ورسېد. سردار عظیم خان په ټولو ورونو کي بډای و او ویل کېږي، چي په دغه وخت کي د کابل په خزانه کي نهه لکه روپۍ نغدي پرتې وې[٦]. دې خزانې او د سردار محمدعظیم خان نور ثروت ته د ده ورونو له پخوا څخه هم نښتګلي وه او کله چي د ده د مرګ خبر د ورونو تر غوږو ورسېد، ټولو مخ پر کابل ونیو. سردار شېردل خان د هرات کلا بندي پرېښووله او تر څان دمخه یې خپل ورور سردار مهردل ته د کابل د تګ امر وکړ او پخپله هم کابل ته رهي سو. سردار دوست محمد خان چي د سردار محمد عظیم خان په ژوند کي د نوموړي له خوا د کوهستان حاکم سوی و، تر ټولو دمخه کابل ته رسېدلی و. سردار عطا محمدخان له پېښور څخه خپل ورونه سردار یارمحمد خان او سردار سلطان محمد خان کابل ته ولېږل. دوی ټولو په ښکاره له خپل وراره سردار حبیب الله خان سره د خواخوږۍ ادعاوي کولې خو په حقیقت کي یې سترګي هغه ثروت ته نیولي وې، چي له سردار محمدعظیم خان څخه پاته سوی و. دوی ټولو په ګډه سره د سردار شېردل خان په مقابل کي جبهه ونیوله خو په څو جګړو کي سردار شېردل خان بریالی سو او څان یې بالاحصار ته ورساوه. په پای کي سردار شېردل خان هم د جوړې په نیت د خپل مشر ورور نواب عبدالجبار خان کور ته مراجعه وکړه او له هغه څخه یې د جنګ او جګړې د پای ته رسولو له پاره مرسته وغوښته. نواب ټول ورونه راغونډ او په سوله یې راضي کړل او د ورونو تر منځ یو تړون هم لاسلیک سو. په دې تړون کي ویل سوي وه، چي هر سردار به په خپله مقبوضه سیمه قناعت کوي او د نورو ورونو په سیمو کي به لاسوهنه نه کوي[٧] او هر سردار د خپل حکومت سیمي ته روان سو. د کابل

---

[٦] سراج ۱۴۶/۱مخ.

[٧] هغه څلوریځه، چي د دې بحث په سر کي مو ولوستله د نواب عبدالجبار خان په کور کي د سردار شېردل خان له خوا واوروله سوه.

اروانباد احمدعلي کهزاد په (بالاحصار کابل و پیش آمدهای تاریخی، ص ۴۲۳، چاپ ۱۳۸۳ ش) کي لیکي : سردار پردل خان ته چي د خپل ورور سردار محمدعظیم خان میراث په لاس ورغی، د هغه وخت د کندهار (له مقر څخه تر فراه پوري) نهه پر لسمه برخه حاصلخیزي زراعتي مځکي یې په رانیولې.

حکومت د سردار شېردل خان له خوا سردار یارمحمدخان ته وسپارل سو. څه موده وروسته سردار یار محمد خان ته د خپل سکه ورور سردار عطامحمد خان له خوا له پېښور څخه حال راغی او دی یې د خپلي ناروغۍ له اسیته سمدلاسه پېښور ته وغوښت. سردار یارمحمد خان د کابل حکومت سردار سلطان محمد خان ته وسپاره او دی پېښور ته رهي سو. پېښور ته د سردار یارمحمد خان له رسېدلو سره سم سردار عطامحمد مړ سو (۱۲۳۹ق =۱۸۲۳ع) او سردار یار محمدخان د پېښور واکمني د ځان کړه. دوه کاله وروسته سردار شېر دل خان مړ سو او سردار دوست محمد خان له کوهستان څخه مخ پر کابل ور وړاندي سو، کابل یې ونیو. سردار پردل خان چي په دغه وخت کي د کندهار واکمن و، د سردار دوست محمد خان په دغه کار وخښمېد او هغه یې له خپل منځي تړون څخه یوه سرغړونه وبلله. پر کابل یې لښکر کښي وکړه. سردار دوست محمدخان هم له کابل څخه د مقابلې په نیت ور وړاندي سو او دواړه لښکري په مقر کي سره مخامخ سوې. په دغه وخت کي د وبا ډېره سخته ناروغي پېښه سوه. دومره سخته وه چي، دواړه لښکر د خپلو مړو په ښخېدلو نه رسېدل. وایي پنځه پنځه، لس لس مړي به یې په یوه کنده کي اچول او خاوري بې پر اړولې[8]. دې طبیعي بخولي د دواړو لښکرو د مشرانوپر زړو د رحم اوبه تېري کړلې او په سوله راضي سول. د دې سولې په نتیجه کي پر پخواني تړون باندي بیا جوړه وسوه او یو لړ زیاتوني هم پکښې راغلې. تر دغي جوړې وروسته سردار شېردل خان د خپل سکه ورور سردار پردل په ملګرتیا د سردار محمد عظیم خان بې وارثه ثروت پر بوده وو باندي کندهار ته رابار کړ او وایي چي د دغه غیبي خزانې په برکت یې د کندهار د حاصل خېزو مځکو نهه پرلس برخي رانیولې. د نوای معارک مؤلف چي د سردار شېردل خان له معتمدو خلکو څخه و، لیکي چي د سردار محمد عظیم خان نازولی زوی سردار حبیب الله خان به، چي د پلار د برم په وخت کي به یې دوولس زره لښکر تر شا روان و، د خپلو اکاګانو له خوا تر دې ناخوالو وروسته ولایت په ولایت

---

[8] سراج ۱/۱۵۱ مخ.

لالهانده ګرځېدی او په پای کې کار دومره اوجاړ سو، چې ګدايي به يې کوله[۹].
مؤلف وايي چې د کشمیر ثروت ځکه د چاپه ښه نه ورتلی، چې په ظلم باندي را غونډ سوی و. دا ثروت چې د هر چا په کور ننوتلی دئ، پای يې کور هم ورسره وران سوی دئ. د سردار شېردل خان زامن هم وروسته د ليونيو په شان په ټولو ولايتو کي لالهانده او د ګدايي کچکول په غاړه ګرځي[۱۰].

د شېردل خان وفات:

په ۱۲۴۱هـ ق = ۱۸۲۵ ع کال د سندهـ ايالت ميرانو د سردار رحمدل خان پر خلاف بغاوت وکړ. سردار شېردل خان چې خبر سو، سمدلاسه يې لښکر برابر کړ او د سردار رحمدلخان مرستي ته رهي سو. هلته سردار رحمدل خان د سندهـ د ميرانو د لښکرو ډېرښت وبېراوه، د الله داد خان انکيزي زوی نائب سلطان خان يې د خپل نائب په توګه په ښکارپر کي پرېښو او پخپله يې مخ پر کندهار راونيو. ذاکر شريف ته چې راورسېدی، د سردار شېردل خان لښکر هم تر ده وړاندي دغه ځای ته رسېدلی و. سردار رحمدل خان له خپل مشر ورور سردار شېردل خان سره وکتل. سردار شېردل خان ته د خپل ورور رحمدل خان تېښته درنه تمامه سوه خو خپل خښم يې وزغامه ځکه چې کار تر کار تېر و. په همدغه شپه پر سردار شېردل خان باندي تبه راغله. په ټکولې تبه کي يې کندهار ته راووست او له همدې ناروغۍ شخه مړ سو او په حضرتجي بابا کې ښخ کړ (۲۵ محرم ۱۲۴۲ ش جمعه = ۳۰ اګسټ ۱۸۲۶ ع)[۱۱].

د سردار شېردل خان دوه زامن پاته سول:

سردار نورالله خان، چې په کوچنيوالي مړ سو او بل سردار ميراحمد خان. زما (هوتک) سره د سردار شېردل خان د يوازني پاته سوي زوی په باب نور معلومات نسته.

---

[۹] نوای معارک، ۱۰۳مخ.
[۱۰] هماغه اثر، ۱۰۴مخ.
[۱۱] سراج التواريخ، جلد اول، ۱۴۹مخ، چاپ ۱۳۷۲ش، موسسهٔ تحقيقات و انتشارات بلخ. د مړيني د دغي نېټې معادله عيسوي نېټه يو ځای نهمه د اګسټ ۱۸۲۶ ښوول سوېده.

سردار شیر دل خان

د سردار کهندل خان کورنۍ

سردار کهندل خان په کندهاري ورونو کي د سن له مخي دريم ورور و او پر کندهار باندي يې تر نورو ټولو سکه ورونو ډېره موده واکمني کړې وه. دی په ۱۲۰۸ ق = ۱۷۹۳ ع کال زېږېدلی او په ۱۲۷۱ ق کال د لوی اختر د مياشتي پر اوومه =۲۲ اګسټ ۱۸۵۵ع د سه شنبې په ورځ په کندهار کي د استسقاء په ناروغي د ٦۳ کالو په عمر مړ سوی[1] او د حضرتجي بابا په زيارت کي ښخ دئ.

شاه محمود سدوزی چي د سردار فتح خان بارکزي په توره او تدبير د کابل پر تخت دوهم وار کښېنوست (۱۸۱۱ع) او سردار فتح خان د دغه پاچا په دربار کي د شاه دوست په لقب د وزارت مقام وګاټه، نو يې خپل ورونه د سدوزو د امپراتورۍ (د هماغه وخت افغانستان) د بېلابېلو سيمو د حکمرانانو په توګه وټاکل. په دغو ټاکنو کي سردار کهندل خان ته د باميانو حکومت ورسپېدی[2]. دې واکمنۍ يې شپږ کاله دوام موند (۱۸۲۳ ـ ۱۸۲۹ع). د شاه محمود سدوزي په وخت کي د هرات والي حاجي فيروزالدين (د شاه ورور) د قاجاري لښکرو تر تهديد لاندي راغی او له خپل ورور شاه محمود څخه يې مرسته وغوښتله. شاه محمود له کابل څخه وزير فتح خان له ډېرشو زرو عسکرو سره هرات ته ولېږی. په دغه لښکر کي د وزير فتح خان له نورو ورونو پر څنګ سردار کهندل خان هم شامل و. حاجي فيروزالدين پر وزير فتح خان باندي باور نه درلود او هغه يې د هرات

---

[1] د استسقاء په ناروغي کي د ناروغ ګېډه له اوبو ډکېږي او پړسېږي. په هغو پاڼو کي چي په انټرنيټ کي د (Barakzai Dynasty) تر نامه لاندي خپري سوي دي، د سردار کهندل خان مړينه يې هرات ته د تګ په لار کي ښوولې ده او ليکلي يې دي چي د جامي صاحب په زيارت کي ښخ دئ. دا دواړي خبري سهي نه دي.

[2] تاريخ مختصر، ۲۸۰ مخ، د ۱۳٦۸ ش کال چاپ.

ښار ته دننه پرې نښود، خو وزیر هغه د مشورې په نامه له ښاره راوایست او بندي یې کړ. ښار ته یې سردار کهندل خان او سردار دوست محمدخان (وروسته امیردوست محمدخان) ولېږل. سردار کهندل خان او سردار دوست محمد خان د حاجي فیروزالدین خزانې لوټ کړې. په دې لوټ کې د هرات د خلکو عزت ته هم صدمه ورسېده او دا کیسه دومره عامه سوه، چې وزیر فتح خان مجبور سو، ځېل ورور سردار دوست محمد خان ته ایداد ورکړي خو هغه کشمیر ته ځني وتښتېدی. سردار کهندل خان په هرات کې له ځېل ورور وزیر فتح خان سره پاته سو. وزیر فتح خان چې د هرات چارې سره سمبالې کړې، نو یې مخ د ایران د قاجاري لښکر پر لور ونیوی. قاجاري لښکر د هرات په کهسان نومې سیمه کې پروت و[۳] او د لښکر مشري د شهزاده حسن علي میرزا په لاس کې وه. په مقابل کې د افغاني لښکر په لومړۍ لیکه کې پخپله وزیر فتح خان او د هغه کندهاري وروڼه (کهندل خان، شېردل خان او پردل خان) ولاړ وه. په دې جګړه کې سردار کهندل خان ښه د ځرپ توره ووهله او ویل کېږي چې، د ایراني لښکر د ماتې یو عامل هم د سردارکهندل خان د قطعې پر وخت برید و[۴]. په دغه جنګ کې وزیرفتح خان هم په خوله کې د ګولۍ ټپ واخیست.

د شاه محمود زوی شهزاده کامران چې د ایران په ټونګ په یوه میلمستیا کې د وزیر فتح خان سترګې په نامردۍ سره وکښلې، په دغه مېلمستیا کې سردار کهندل خان او دوه وروڼه یې (پردل خان او شېردل خان) هم حاضر ول. کهندل خان د دغې پېښې له ځایه وتښتېدی او ځان یې نادعلي ته، ځېل قوم ته ورساوه او د شاه محمود پر ضد یې د قوم مشران تر ځېل بیرغ لاندي راغونډ کړل او همدا د سدوزي واکمنۍ د ختمولو لومړنۍ هڅې وې، چې وروسته یې له سدوزو څخه و بارکزو ته د پاچهۍ لېږدولو عملیې ته د عمل جامه ور واغوستله.

سردار کهندل خان پر کندهار باندې دوه واره واکمني کړې ده. علامه رشاد رحمة الله علیه لیکلي دي چې:

---

[۳] کهسان د هرات په شپږ میلي واټن کې موقعیت لري.

[۴] هرات، پښتانه او ستره لوبه، ۲۰۹مخ.

"لومړی وار د سردار پردل خان تر مرګ وروسته د ۱۲۴۵هـ ق کال د لوی اختر د میاشتي په لومړۍ هفته کي د کندهار واک د ده سو. دې واري واکمنۍ یې نه کاله و دوې میاشتي پایښت (دوام) وکړ. د ۱۲۵۵هـ ق کال د صفري په لومړۍ هفته (اپریل ۱۸۳۸ع) کي چي د انګرېزانو لښکري د شاه شجاع سدوزي له پاره د پاچهۍ نیولو په پلمه پر کندهار راتوی سوې، سردار کهندل خان له وروڼو سره ایران ته ولاړ. د ۱۲۵۸هـ ق (۱۸۴۳ع) کال د میانۍ په میاشت کي یې بیا کندهار ونیوی او تر مرګه ... پورې دیرلس کاله نور د کندهار واک د ده په لاس کي و[۵]".

کهندل خان درې ودونه کړي ول. لومړۍ مېرمن یې الکوزۍ وه، دوهمه یې پوپلزۍ (د سعدالله خان لور) او دریمه یې قزلباشه وه. له دې درو مېرمنو څخه یې شپږ زامن پاته سول (وګ : د ٦٢ مخ شجره). د ده اولاده په کندهار کي د (میوند په محمدزو) باندي مشهوره ده.

---

[۵] وګ : د حاجي جمعه بارګزي دېوان ته د علامه رشاد سریزه، ۲ مخ، کابل ۱۳٦۰ش. په نقل قول کي د هجري قمري نېټو معادل عیسوي کلونه ما (هوتک) ور اچولي دي.

سردار کهندل خان

سردار غلام محی الدین خان

د کهندل خان زوی و. د خپل پلار له خوا د دهراوت د حاکم په توګه ټاکل سوی و. د میوند په تاریخي جنګ کي د غازي سردار ایوب خان په پلوي ولاړ و. کله چي امیر عبدالرحمن خان د کندهار په جګړه کي غازي ایوب ته ماته ورکړه، سردار غلام محی الدین خان یې کابل ته نظربند بوت او هورې مړ سو. قبر یې په شهدای صالحین کي دئ[1].

سردار احمدجان خان

د سردار غلام محی الدین خان زوی و. د پلار د مړیني پر وخت په کابل کي و. وروسته کندهار ته راغی او د میوند په لوی کاریز کي اوسېدی. په ۱۹۲۴ع کال مړ سو او په میوند کي پخپله هدیره کي (د میوند مانده ته څرمه) ښخ دئ.

سردار محمدهاشم خان

د نادرخان په پاچهي کي د کندهار په (مجلس مشوره) کی وکیل و څکه نو په وکیل محمدهاشم باندي مشهور و. اولاده یې نه ده پاته سوې.

فرید میوندي[1]

فرید میوندي د محمدزمان زوی د سردار عبدالرحمن خان لمسی د سردار احمدجان خان کړوسی د سردار غلام محی الدین خان کوسی او د سردار کهندل خان کودی دئ. د امریکا د متحده ایالاتو په کلیفورنیا کي اوسي. په انجنیري کي تحصیلات بشپړ کړي دي. په فارسي ادب کي یې

---

[1] د کورنۍ روایت یې د فرید میوندي له خولې.

[1] فرید میوندي د خپلي کورنۍ شجرې او هغه عکس چي ویل کېږي، د کهندل خان دئ، ما ته رالېږلی دئ چي کور ودانی ورته وایم.

مطالعه کړې ده او په پښتو ژبه شعر وايي. تر اوسه يې څلور پنځه زره بيته ويلي دي او داسي ښکاري چي د ديوان په لټه کي دئ. دا څلوريځه د ده ده:

بيا مي پـه سر کي ستا د ميني شور و شر وګوره
په بيمار زړه کي مي دا ستا د عشق شرر وګوره
چي تر اکسير يې تأثير ډېر دئ ستا د ميني اشنا
پـــر مين زړه مي ستا د ميني خوږ اثر وګـوره

د سردار کهندل خان د کورنۍ شجره

(د میوند محمدزي)



---

* سردار نورمحمد خان د امیر شېرعلي خان او سردار محمدامین خان تر منځ د کجباز په جگړه کي د امیر شېرعلي خان په لښکرو کي جنگېدی او په همدې جگړه کي مړ سو، (گلشن امارت، ۱۳٦ مخ).


کهندل خان
سردار غلام محی الدین خان
سردار احمد جان خان
سردار عبدالقادر خان
سردار عبدالله خان
محمد بهادر
احمد نادر
محمد نادر
زرین تاجه
قمر سلطانه
جواهر سلطانه
عبدالغني
حیات الله
سارا
میمنه
آمنه
پري
عظیمه
عصمت الله
عبیدالله
سعدالله
شاه ولي



کهندل خان
سردار غلام محی الدین خان
سردار احمد جان خان
سردار حبیب الله خان
مریم
تفسیره
سعادتو
مروارید
سردار عبدالعزیز خان
نعمت الله
رشید جان
محمد طاهر
عبدالاحد
فتح الله
میریالی
شاه محمد
شفیق
نسرینه
پروینه
زرمینه
امان الله
محمد قاسم
احمدشاه
بریالی
تنگیالی





* مرغلره، ملالۍ، شهلا، هما، فرزانه، هیلینا، ګیتا، [redacted].

** پاچاګله، ثمرګله، ګلالۍ، پښتنه، فرحنا، اناهیتا.

د سردار رحمدل خان کورنۍ

سردار رحمدل خان د سردار پاینده خان زوی و، چي په ۱۲۱۱هـ ق کال په کندهار کي زیږېدلی او د سراج التواریخ د مؤلف په قول په ۱۲۷۵ هـ ق کال په رجب کي په تهران کي مړ سوی او د نجف په وادی السلام کي ښخ دئ[۱]. دی په کندهاریو سردارانو کي د عمر په لحاظ څلرم ورور و. پر کندهار باندي د سردارانو د واکمنۍ په سر کي سردار رحمدل خان د ښکاپر د حکومت په چارو کي مصروف و او د میرزا عطامحمد په قول، کله چي شهزاده کامران له هرات څخه د کندهار د نیولو په نیامت لښکر را وخوځاوه او کندهاري سرداران هر یو کهندل خان، پر دل خان او شېر دل خان له نورو مخورو سره د مقابلې په نیت له درو زرو سپرو او یو نیم زر پیاده لښکر په مشرۍ فراه ته ور وړاندي سول، سردار رحمدل خان به د ښکاپر په حکومت کي خپل هوسونه کول[۲].

سردار رحمدل خان تر ۱۲۳۹هـ ق؟پوري په ښکاپر کي و او کله چي سردار شېر دل خان له کابل څخه په ښه زړه او د سردار محمدعظیم خان له ثروت څخه په ډکو لاسو کندهار ته راستون سو، نو یې رحمدل خان هم له ښکاپر څخه کندهار ته راوغوښت. رحمدل خان سم د لاسه مخ پر کندهار را روان سو او عبدالمنصور خان خیرپور یې د خپل نائب په توګه په ښکاپر کي پرېښود. د سردار رحمدل خان تر وتلو څلور میاشتي وروسته د خالصه سنګهـ فوجونه د ښکاپر د نیولو په نیت سره وښورېدل[۳].

شاه شجاع چي د ۱۲۵۰هـ ق کال د محرم الحرام په میاشت = مارچ

---

[۱] په هغه مرثیه کي چي تاسي به یې د همدې بحث په ترخ کي ولولئ، د نوموړي د وفات نېټه د ۱۲۷۸ هـ ق کال د شوال میاشتي نیمایي د یکشنبې ورځي مازیګر ښوولی دئ.

[۲] نوای معارک، ۸۱ مخ.

[۳] نوای معارک، ۱۰۴ مخ.

۱۸۳۴ع کي کندهاري سرداران په ښار کي کلابند کړل، سردارانو له خپل ورور سردار دوست محمد خان څخه مرسته وغوښتله او نوموړی هم له کابل څخه له خپل لښکر سره مخ پر کندهار راوکوچېد. د کلابندۍ په دوپنځوسمه ورځ (سه شنبه ۲۲ صفر ۱۲۵۰ھ ق = جولای ۱۸۳۴ع) کندهاري سرداران له ښاره ووتل او تر کلا دباندي یې د شاه شجاع لښکرو ته کمین ونیو. په دغه وخت کي سردار رحمدل خان له خپلو سپرو او پیاده وو سره د باباولي صاحب د کوتل پر لور ووت او د جلیران، مرغان او ګوندیګان له لاري یې د دښمن د لښکر شا ته څو (کمین) ونیو. په دغه جنګ کي شاه شجاع ماته وکړه او د هرات پر لور وخوځېد. هغې خوا ته یې څه لاس ته ورنغلل او مخ یې پر بلوچستان ونیو او محراب خان بلوڅ ته یې پناه ورووړه. سردارانو له کندهار څخه سردار رحمدل خان له پنځوسوو سپرو سره پسې ولېږی. محراب خان بلوڅ سردار رحمدل خان ته په ننواتو ور ورېاندي سو[۴]. علامه رشاد رحمه الله لیکي چي محراب خان د داروغه ګل محمد په لاس سردار رحمدل خان ته پیغام ولېږی او سردار هم د محراب خان پرده وکړه او بیرته کندهار ته ستون سو[۵]. سلطان محمد پاني د خپل کتاب (کوټه – لنډه تاریخي جایزه) په ۲۹ مخ لیکي : "د محمدزو او سدوزو د اړدوړ په وخت کي پر کوټه د محراب خان بروهي خان کلات له خوا ملک دینار محمد شهي نائب مقرر شوی و او کوټه خان د ځان بللې وه. خو سردار رحمدل خان د سیوی له خوا څخه له څه جنګي سامانه او لښکر سره کوټې ته راغلی او ملک شهي یې د کوټې څخه ویوست او کلا یې په خپله قبضه کي راوستله".

سردار کهندل خان سردار مهردل خان سره له لښکرو د سردار رحمدل خان د امداد له پاره ولېږه. له کوټې بعد یې مستونګ هم قبضه کړ".

سردار رحمدل خان په هغه لښکر کي شامل و، چي د سردار کهندل خان په مشری او د سردار مهردل خان په ملګری کابل ته له امیر دوست محمد خان سره د جنګ په نیت خوځېدلی و. دا جنګ ونه سو او دواړو

---

[۴] سراج التواریخ، ۱/ ۱۷۳–۱۷۴ مخونه.
[۵] د کندهار یادابښتونه ۲/ ۱۶۲ مخ.

خواوو په مقر کي سوله وکړه[٦].

سردار رحمدل خان د کهندل خان تر مړيني وروسته فقط دوې میاشتي د کندهار حکومت وکړ او د کهندل خان له زامنو سره چي په سر کې سردار محمدصدیق خان و، په جګړه اخته سو، ځکه چي نوموړي د دغي واکمنۍ له پاره ځېل ځان مستحق ګاڼه. د دې جګړې په نتیجه کي کندهار د کندهاري سردارانو له لاسه ووت او د کابل د امیر دوست محمد خان په قلمرو کي شامل سو. سردار رحمدل خان له نورو ماښچنو تربرو سره ایران ته بار سو او په تهران کي یې واړول. د ایران شاه هغوی پخپل حمایت کي راوستل او سردار رحمدل خان په ایران کي په یوه روایت تر درو کالو او په بل روایت تر شپږو کالو استوګني وروسته مړ سو.

د ده د زوی سردار غلام محمدخان طرزي د دېوان د قصایدو په ۱۷۷مخ کي یې د مړيني د تاریخ یوه قطعه راغلې ده، چي د دېوان مرتب وايي په یوه بله نسخه کي یې موندلې او د کتاب په پای کي یې ور اچولې ده.

بر چرخ‌ نه چنبر، چیزیست بـــــــهم گـــردان
گه ثور و اسد خوانند، گه قـــــوس وبزمیزان

نی صورت شـان ظاهــــر، نی هیئت شـان حاضر
نی مقصد شـــــان باهـر، برگردش خود حیران
هـــــــــرپای که بر دارند، بر باد دهـد خلـقی
هــــــــر جای که روآرند، صد شـهرکند ویران
سخت است جفای شان، سست است وفای شان
بیش است بلای شـان، بـــــــر جان و دل یاران

[٦] علامه رشاد د تاريخ سياسی افغانستان، ١٦٣ مخ په حواله ليکي چي تر روغي وروسته "سردار رحمدل خان له سردار محمد اکبر خان سره کابل ته ولاړ او له امیر دوست محمدخان سره یې دوستانه لیدنه وکړه". وګ : د کندهار یادابنتونه، ١٦٧/٢مخ. دا مطلب د تاریخ سیاسي افغانستان د دوهم چاپ، ١٣٧١ش په ٢١٨ مخ کي راغلی دئ. خو د سراج التواریخ د ١٣٧٢ ش کال چاپ په ٧/٢ مخ کي ویل سوي دي، چي تر دې سولي وروسته سردار رحمدل خان کندهار ته ولاړ او سردار مهردل خان له سردار غلام حیدر خان او سردار محمد اکبر خان سره کابل ته دامیر دوست محمد خان د لیدو له پاره ولاړل.

گه شاهجهانی را، برتخته نـــــهد تختش
گه مرد فقیری را، بــــــر چرخ کشد ایوان
بر تختهٔ مــــــرگ افگند، در بیکسی وغربت
شاهی که بشان او، شاهـــــان جهان حیران
بر مرد و زن افــــــغان، میکرد زبس رحمت
شد نام شریف او، ســــــردار رحمدل خان
سرخیل هـــــمه افغان، در اصل دُر دُران
از سوی وطن آمد، شـــادان بــــرهٔ ایران
شـــاهنشهٔ ایـــــرانش، ازرتبه وجـــاه او
برصدر نشانیدش، باعــــزت و با صد شان
آخر بد و صد حسرت، از دست اجــــل نوشید
پیمانهٔ مرگی را، کـــــز درد برفتش جان
در وقت وفـــات خود، باشــــاه وصیت کرد
نعشم برسان شـــــاها، درپای شهٔ مردان
از پهلوی دینداری، این رتبه و عـــزت یافت
آسود بران مرقــــــد، از همدمی قـــــرآن
برنیم مــه شوال، در آخـــــــــر یکشنبه
بر ملک فــــــنا زد پا، در مملکت طهران
چون بود بهار جان، در باغ و دل طــــــرزی
جو سال وفـــــات او، "وزباغ بهارجان"

په دېوان کې د مقطع وروستي نیم بیتي ته ۱۲۷۸ لیکل سوي دي او ما چي يې محاسبه وکړه، دغه عدد له (وزباغ بهارجان) څخه لاس ته راځي. لکه تاسي چي وړاندي ولوستل د سراج التواريخ مؤلف د سردار رحمدل خان د مړيني کال رجب ۱۲۷۵ ښوولی دئ[۷]، چي له فبروري ۱۸۵۹ع سره سرخوري او ما د دې کتاب په سر کي هم رانقل کړی دئ.

د سردار رحمدل خان اووه زامن او درې لوڼي پاته سوې.

---

[۷] سراج ۲/۳ مخ جدول.

بي بي حوا

بي بي حوا د سردار رحيمداد خان لور او د حاجي جمال خان نيکه لمسۍ وه، چي په کندهاري سردارانو کي په سردار رحمدل خان واده وه[۱]. سردار رحمدل خان د دې مېرمني د اکا زوی و. سردار محمدعظيم خان (مشهور په حبيب جان)، سردار محمدعلم خان، سردار غلام محمد خان طرزي، محمد سرورخان، سردار غلام حيدرخان، سردار محمد قلي خان او سردار ګل محمدخان د بي بي حوا زامن وه. يوه لور (تاج النساء) يې په سردار تاج محمدخان واده وه. دغه سردار د سردار سلطان محمد خان طلايي د زوی سردار ذکريا خان زوی و.

د دې مېرمني په نامه د کندهار په احمدشاهي ښار کي يوه فرعي کوڅه سته، چي د دغي کوڅې او پخپله د بي بي حوا په باب ما پخپل اثر (احمدشاهي کندهار، ۲ ټوک) کي لږ څه تفصيلي بيان کړی دئ. درانه لوستونکي دې هورې ولولي. په دغه اثر کي زما څخه داخبره پاته سوې وه، چي پخوا په دغه کوڅه کي د بي بي حوا په نامه يو مسجد هم و[۲].

---

[۱] ما (هوتک) په احمدشاهي کندهار دوهم ټوک، ۵۰ مخ کي بي بي حوا د سردار رحمدل خان مېرمن بللې ده خو د ارواښاد سيد قاسم رشتيا د يوې ليکني له امله، چي دغه مېرمن يې د سردار مهردل خان کونډه بللې وه، د خپل روايت په باب شکمن سوی وم. دغه شک اوس ليري سوی دئ او زما نورو څېړنو د دې خبري د يقين پله درنه کړه، چي بي بي حوا په سردار رحمدل خان واده وه. د احمدشاهي کندهار دوهم ټوک که دوهم وار چاپېدی، بايد دغه يادونه پکښې وسي.

[۲] ګران عمر واحديار له کندهاره راته وليکل (می ۲۰۰۸ع) چي دا مسجد اوس هم په همدې نامه پاته دئ او د بي بي حوا کور هم، چي د خرما درخته پکښې ولاړه وه ولاړ دئ او يوه برخه يې د ډاکټر نجيب الله په وخت کي د نوو سړکو د جوړولو پر وخت له منځه تللې ده.



د بي بي حوا مسجد – د عمر واحد يار رالېږنه

د سردار رحمدل خان د کورنۍ شجره



---

* مشهور په حبیب جان.

** د سردار غلام محمد خان طرزي او د هغه د زامنو شجرې به په وروستیو پاڼو کې راسي.

*** په کوچنیوالي کې مړ دئ.

**** نظرمحمد خان په کندهار کې په ۱۳۵٦ هـ ق کې سل کلن مړ سو، (رشاد، میوند مجله، دوهم کال، دریمه گڼه، ۳۰ مخ).

سردار غلام محمد خان طرزي

(طرزي افغان)

سردار غلام محمد خان طرزي د سردار رحمدل خان زوی او د سردار پاینده خان لمسی و، چې په ۱۲۴۵ هـ ق =۱۸۲۹ع کال د کندهار په ښار کې زېږېدلی و. د ده د زېږېدو تاریخي ماده په دې بیت کې ښوول سوې ده:

از باغ بـــهار دل طــلب تاریخش
زیرا که دل از ولادتش یافت نوید [1]

د سردار غلام محمد خان د ځوانۍ زمانه پر کندهار باندې د کهندل خان د حکومت وختونه وه او نوموړي د خپل اکا (کهندل خان) د حکومت په کلونو کې او دغه راز د خپل پلار سردار رحمدل خان د حکومت په شپو ورځو کې زیاتره په علمي او فرهنګي کارو باندې ځان مصروف کړی و. په نظامي فعالیتو کې یې چې مجبور به نه سو، برخه نه اخیستله. ده په هغه جګړه کې، چې د ده د پلار او اکا تر منځ پېښه سوې وه، ښه توره وکړه او له همدې امله یې د پلار له خوا هغه توره د انعام په توګه وګټله، چې وایي د صفوي پاچهانو د زمانې وه او افغاني واکمنانو ته لاس پر لاس رسېدلې وه په دې لړ کې د سردار رحمدل خان ګوتو ته ورغلې وه. سردار غلام محمدخان په هغو جګړو کې هم د کندهار ښار د ساتني وظیفه پر غاړه اخیستې وه، چې د کهندل خان تر مړیني وروسته د ده د زامنو او سردار رحمدل خان تر منځ سوې وې [2]. لکه په تېرو پاڼو کې چې هم تاسي ولوستل، په دغو جګړو کې د کندهار اولس او سردارانو په ګډه امیر دوست محمدخان ته بلنه ورکړه، چې له کابل څخه کندهار ته راسي او د دغو کورنیو اختلافاتو په له منځه

---

[1] په دغه بیت کې "باغ بهار دل" تاریخي ماده ده، چې ابجدي ارزښت یې ۱۲۴۵ کېږي.
[2] دیوان طرزی افغان، ۵مخ.

وړلو کي مرسته وکړي. امیر، چي داسي موقع يې له خدايه غوښته، په ۱۲۷۲هـ ق =۱۸۵٦ع کال کي کندهار ته له لښکرسره راغی او له کندهاري سردارانو څخه يې کندهار واخیست او په دې ډول یې د افغانستان مرکزیت یو وار بیا تأمین کړ. امیر د سردار کهندل خان زامن او دغه راز د سردار رحمدلخان زوی سردار محمدعلم خان او د سردار محمدعظیم خان زوی سردار سلطان احمد خان (مشهور په سرکار) يې له کندهاره وشړل. سردار رحمدلخان هم ایران ته دتګ اراده وکړه او تر تګ دمخه يې خپل زوی سردار غلام محمدخان د خپل وکیل او وصي په توګه وټاکه او د کندهار د جایداد اختیار يې وروسپاره. سردار رحمدل خان چي ایران ته ورسېد، نو يې په تهران کي واړول او په ۱۲۷۵هـ ق کال یا ۱۲۷۸هـ ق کال په هماغه ښارکي مړ او د نجف په وادی السلام کي ښخ سو. دغه وخت د ټول افغانستان اداره د امیر دوست محمدخان په لاس کي وه او ویل کېږي چي سردار غلام محمد خان هم د یوه مخور مشر په توګه له امیر سره کومکونه کول او امیر ورته د (ارجمند دانشمند) لقب ورکړ او د کاله يې ورته یولک و شل زره روپۍ اعزازي تنخواه مقرره کړې وه. د امیر دوست محمدخان په پاچهي کي سردار غلام محمدخان طرزي زیاتره په کابل کي اوسېدی او داسي ښکاري چي امیر هم غوښتل خپل وړېرونه تر خپل نظر لاندي په کابل کي استوګني ته مجبور کړي. سردار غلام محمدخان طرزي په کابل کي د استوګني پر وخت د امیر کبیر دوست محمدخان په مدحه کي خورا درنې قصیدې ویلي دي، چي په دېوان کې خوندي دي. سردار غلام محمد خان له امیرکبیر سره په هغه جګړه کي هم ملګری و، چي د هرات د نیولو په نیامت يې له سردار سلطان احمدخان (د امیرکبیر وراره او زوم) سره کړې وه. د دغې جګړې په ترخ کي د هرات ښار څورلس میاشتي کلابند و او سردار سلطان احمدخان غوښتل چي د روپو او تطمیع په وسیله د امیر د لښکر ځیني مخور سرداران د ځان خوا ته ورواړوي. په دې لړ کي يې سردار غلام محمدخان ته هم په پټه خورا درونډ مبلغ رالېږلی و، چي د سردار له خوا رد سوی و. امیر دوست محمدخان چي په دغه وخت کي د مرګي په خوږ رنځور و، د دې خبر په اورېدو سره يې سردار غلام محمدخان ته ډېري دوعاوي کړي وې. د امیر دوست محمدخان تر مړیني وروسته (سه شنبه

۲۱ ذیحجه ۱۲۷۹ه ق = ۹ جون ۱۸٦۳ ع) چي امیر شېرعلیخان د افغانستان د پاچهۍ پر تخت کښېنوست او تر هغه وروسته بیا امیر محمدافضل خان او امیر محمد اعظم خان پاچهیو ته ورسېدل، د سردار غلام محمدخان عزت او قدر هماغه د پخوا په شان خوندي ساتل سوی و. د امیر شېر علیخان په دوهمه پاچهي کي (۱۲۸۵ه ق = ۱۸٦۸ع) سردار غلام محمد خان د نورو سردارانو په شان له نظره ولوېد او څه موده بندي هم سو، چي وروسته له بنده خوشي او د تقاعدۍ معاش ورته مقرر سو. د امیر شېر علیخان پاچهي پر افغانستان باندي د انګلیسي عسکرو په یرغل سره پای ته ورسېده (۱۲۹٦ه ق = ۱۸۷۹ع) افغان اولس له انګلیسانو سره د جهاد اعلان وکړ. د دې جهاد علمبردار غازي سردار محمدایوب خان و او سردار غلام محمدخان په دغه وخت کي د غازي سردار په خوځښت کي شامل سړی و. د میوند تر تاریخي غزا وروسته سردار عبدالرحمان خان د انګلیسانو په مصلحت په چاریکار کي د افغانستان د امیر په توګه وټاکل سو او لکه څرنګه چي د افغانستان په تاریخ کي د سردارانو دریځونه له یوه اړخه بل اړخ ته اوړي، د همدې دوراندیشۍ له امله سردار غلام محمد خان خپل مشر زوی محمود طرزي چاریکار ته ور ولېږی. امیر په ښکاره ورسره د مهربانۍ وضعه وکړه او سردار غلام محمدخان ته یې د وزارت ورکولو ژمنه هم وکړه، خو په زړه کي یې پټ پلان ورته ساتلی و او کله چي یې د کندهار په پیرپایمال کي د سردار محمدایوب خان لښکر ته ماتې ورکړه، د ده د تحریک پخواني غړي او د کندهاري سردارانو ټول متنفذ شخصیتونه یې له وطنه وشړل او جایدادونه یې ضبط سول.

علامه حبیبي د سید مهدي فرخ د تاریخ سیاسي افغانستان په حواله لیکي: د امیر عبدالرحمان خان جاسوسانو امیر ته خبر ورکړ، چي سردار غلام محمدخان طرزي په یوه مجلس کي یوه هراتي ته ویلي وه، چي : دا دئ سردار محمدایوب خان به له خیره سره بریالی له ایرانه راستون سي. امیر چي په دې جریان خبر سو، د سردار غلام محمد خان طرزي د جایداد د ضبط او له وطن څخه د شړلو امر یې ورکړ او نوموړی هراتي یې د هرات د غوریانو په سرحد کي د ناجوګانو د ونو پر سرو باندي په قفس کي

سردار غلام محمد خان
طرزي افغان

ځنځير تړلی واچاوه او ورته وې ويل: وګوره چي د سردار محمدايوب خان ټولۍ څرنګه له ايرانه راستنيږي[۳]. هراتی په هماغه قفس کي له لوړي مړ سو. په دې لړ کې سردار غلام محمدخان هم درې مياشتي بندي کړ. ده د کندهار په بنديخانه کي هم غوښتل چي امير عبدالرحمن د خپل ادبي استعداد په افسون د مدحييه قصيدو ښکار وګرزوي[۴] خو تور امير د دې سړی نه و، چي ځانته د لستوڼي ماران پرېږدي او په دې لړ کې سردار غلام محمد خان طرزي له وطنه په ډېره ناوړه توګه وشاړه (۱۲۹۹هـ ق = ۱۸۸۲ع) د کندهار جايداد يې ټول ضبط سو. دی يې د خپلي کورنۍ له پنځه دېرشو کسانو سره په پېښين کي انګليسي افسر واټرفيلډ ته تسليم کړ. د نوموړي انګليسي افسر له خوا ورسره نرم چلند وسو او د ده په خوښه يې د کراچي ښار ته د استوګني له پاره په رېل کي واستاوه او د مياشتي يې شپږ سوه کلداري معاش ورته وټاکه. ده په کراچي کي له خپل تربور سردار شېرعليخان قندهاري سره يو ځای درې کاله تېر کړل. په دې دريو کلونو کي يې ځان پخپلو ادبي سرګرميو او ليکنو بوخت ساتلی و. په يوه ليک کي چي د سردار محمد آصف خان او سردار محمد يوسف خان په نامه يې کښلی دئ، ليکي: "... بهر صورت طرزی محزون هم در بيشهٔ کراچی ګرجی نشستګان بيکار نه نشسته ... ګاهی لالی متلالای لوء لوء لالا رابجای آويزهٔ ګوشوار ازبن ګوش شاهدان مضامين رنګين آويزد، لحظهٔ جواهر زواهرومرواريد غلطان آبدار شهوارتجنيس را برای ترصيع ګلو بند کردن نوعروسان عبارات شيرين از دهان صدف ګوهرخيز خامه فرو ريزد..."[۵]
په دې موده کي يې د هندوستان زياترو ښارو، بمبئي، حيدرآباد، دکن،

---

[۳] جنبش مشروطيت در افغانستان، ۱۰۹مخ.

[۴] سردار غلام محمد خان د کندهار په بنديخانه کي د امير عبدالرحمن په تعريف کي يوه اوږده قصيده ويلې ده، چي دوشپېته بيته لري او مطلع يې داسي ده :

هلال عيد چو شد جلوه ګر زچرخ دو رنګ
افـق شـــد از ګل ســـــياره پردهٔ ارژنګ

وګ دېوان طرزی افغان، ۱۳۹مخ

[۵] ديوان، ۷۰۱ مخ.

بنګلور، میسور، مدراس، احمدآباد، ګجرات، اجمیر، اکبرآباد، ډهلي، سرهند، امرتسر، پنډۍ، پېښور او نورو ته سفرونه وکړل او په پای کي ورته په هند کي استوګنه او هغه هم له خپل سیاسي او عقیدتي حریف تربور سردار شېرعلیخان سره یو ځای ژوند کول سخت تمام سول. محمود طرزي لیکي چي په هندوستان کي یې "بعد ازین سیاحت ششماهه به مرأت قلب نوراني شان که متجلی از انوار رحماني بود از زنگ ظلمت تیره روان دولت کافر ننگ و اباء نموده نخواستند که این عمر آخر در تحت حمایت و معاش اهل کفر بسر برند. لاجرم در صدد آن شدند که از هند هجرت نموده بدولت عثماني پناه آرند[٦]".

تر دې وروسته د انګرېزي حکامو په اجازه د خپلي کورنۍ له ټولو غړو سره، چي زلمی محمود طرزي هم پکښې و، په کال ۱۳۰۲ هـ ق = ۱۸۸۵ع کي له کراچي څخه مخ پر بغداد روان سو. شپږ میاشتي یې په بغداد کي تېري کړې او وروسته یې د عراق د والي په سپارښتنه خپله کورنۍ په بغداد کي پرېښووله او خپل مشر زوی محمود طرزي یې د سفر د ملګري او ترجمان په توګه له ځان سره ملګری کړ او د عثماني ترکیې پایتخت استانبول ته یې د سلطان عبدالحمید غازي دربار ته ځان ورساوه. سلطان ته یې درنې قصیدې وویلې او د هغه له خوا ورته د میاشتي دوه زره قرشه تنخواه مقرره او په سوریه (شام) کي د استوګني له پاره یوه اندازه مځکه ورکول سوه. په دغه وخت کي عثماني دربار ورته د (مهمان خاص شاهانه) لقب ورکړی و[٧]. د سردار غلام محمدخان طرزي پر ویزیت کارت باندي، چي په بیروت کي یې ځان ته چاپ کړی و، داسي لیکل سوي وه : مهمان خاص حضرت شهریاری، برادر زادهٔ امیر اسبق افغانستان مرحوم دوست محمدخان، سردار غلام محمد خان طرزی مقیم شام شریف[٨]. سردار غلام محمدخان طرزي دوې میاشتي د دولت د مېلمه په توګه په استانبول

[٦] دیوان طرزی افغان، ۹مخ.

[٧] وګ : محمود طرزي، سیاحتنامهٔ سه قطعهٔ روی زمین در ۲۹ روز، ۱۲مخ.

[٨] وګ : هماغه اثر ۲۰۷مخ. زما د معلوماتو له مخي د یوه افغاني تبعه له پاره به دا لومړنی ویزیت کارت وي.

کي تېري کړې او وروسته سوريې ته ستون سو. خپل زوی محمود طرزي يې په کورنۍ پسې بغداد ته ولېږه او څه موده وروسته يې کورنۍ هم ورسره يو ځای سوه. په ۱۳۰۳ه ق =۱۸۸٦ع کال يې يو وار بيا استانبول ته سفر وکړ او د سلطان عبدالحميد له خوا ونازول سو. د۱۳۰۴ه ق = ۱۸۸۷ع کال په پای کي يې د حج سفر وکړ او د بيت الله شريف په زيارت مشرف سو. د حج فريضې تر ادا کولو وروسته بيرته سوريې ته ولاړ او په ۱۳۰٦ه ق = ۱۸۸۹ع کال يې د (اخلاق حميديه) په نامه يو کتاب وکيښ او د خپل زوی محمود بيګ په لاس يې د عثماني ترکيې سلطان خليفة المسلمين سلطان عبدالحميد ته واستاوه، چي د سلطان له خوا وستايل سو او يو زر قرشه يې د ده د تنخواه ضميمه کړه او ۲۰۰۰ قرشه يې د محمود بيګ د سفرخرڅ په نامه ورکړل[۹].

سردار غلام محمدخان طرزي د ۱۳۱۸ه ق کال د برات پر پنځلسمه د پنجشنبې په ورځ (۲۸ دسمبر۱۹۰۰ع) د سوريې په پايتخت دمشق کي مړ او هورې ښخ سو.

زوی يې محمود طرزي د ده پر مرګ باندي اوږده مرثيه ويلې وه، چي له بده مرغه ضايع سوې او يوه کوچنوټې برخه يې په "پراګنده" کي خپره سوې ده، چي بيان به يې د محمود طرزي د آثارو په برخه کي ولولئ. يو څو بيته يې دا دي :

بعد از ثنا و حمد خداوند لايزال
گويم ترا زقصه احوال پر ملال
چرخ فلک بما سر نيرنگ کرد باز
محروم ساخت ديده زديدار دلنواز
يعنی که بُد مرا پدری مهرپروری
مشفق بُد و رحيم بُد و لطف گستری
هم شاعر و اديب و حکيم و دبير بود
اندر وطن وزير بُد و يا امير بود

....

---

[۹] ديوان طرزي افغان، ۷۰۸ مخ.

در لیله برات و شب جـــمعه از ســنین
بُد یکهزار و سه صد و هجده که شد قرین
با رحمت اله رحیم و کـــریم خــویش
رفت از جـهان بسوی جـنان نعیم خویش

سردار غلام محمدخان طرزي پر خپل هیواد مین سړی و. د پردیو له خوا یې هیڅ راز سپکاوی، حتی د خپلو دښمنانو امیرانو سپکاوی یې لا پر زړه نه سوای اوارولای. دی له وطن څخه په داسي مات زړه وتلی و، چي وروسته یې د ستنېدلو خیال بیخي له ذهنه ایستلی و. ده د عثماني دولت له ناظر عدلیه جودت پاشا سره د خبرو په ترڅ کي ویلي وه، چي "... مخلص شما... از ملک خود هم بصورتی نه برآمده ام که باز خیال رجعت آنرا داشته باشم[۱۰]". سره له دې چي امیر عبدالرحمان خان له ده سره ډېره ناوړه رویه کړې وه خو ده چي به کله له بهرنیانو سره په خبرو کي د افغاني ټولني د سیاست او دربار په باب د خبرو اړتیا احساس کړه، نو به یې ټل هڅه کوله چي د افغاني امیرانو حیثیت ته صدمه ونه رسېږي. ده د عثماني دولت له صدراعظم جواد پاشا سره په استانبول کي خبري کولې او د هغو په ترڅ کي جواد پاشا ورڅخه وپوښتل، چي امیر عبدالرحمن خان ولي دومره ناپوهي وکړه چي خپل خپلوان او دوستان یې له خپلو کورنیو سره یو ځای له وطنه وشړل او ولي یې د هغوی له تجربې او پوهي څخه کار وانه خیست؟ ده ته لکه چي د یوه افغاني امیر په باب د ناپوهۍ کلمې خوند ورنه کړ او پر ټولو هغو ناځوانیو یې ګام کښېښو، چي د همدغه امیر له خوا ورسره سوي وې او په جواب کي یې ورته وویل: "حقیقت اینست که من برای شما بیان میکنم: اولاً اینرا باید دانست که حضرت امیر ما درینخصوص سراسر حق بدست داشت. زیرا هنگامیکه حکومت مستقلۀ افغانستان مضمحل شده دولت انگلیز افغانستانرا ضبط و استیلا نمود رؤسا و بزرگان اقوام افغانیه بر دو فرقه شدند که بعضی از انها طرفداری انگلیزها را پیشه گرفته بوطن و ملت خود غدر و خیانت نمودند، و بعضی برضد آنها حرکت کرده با دشمن وطن بمحاربه ومقاتله قیام ورزیدند. و بعد ازانکه حضرت امیر عبدالرحمان

---

[۱۰] وګ: سیاحتنامه، ۲۲۸ مخ.

خان وطن را از چنگال اجنبی رهایی داده اعلان استقلال امارت افغانستان را نمود گروهی را که طرفداری انگلیزها را کرده غدر و خیانت شان بوطن و ملت ثابت شده بود بسبب این خیانت پر جنایت شان فرار ساخت، و گروهی که بعکس آن بود بسببی که هر یک خود را فاتح یگانهٔ افغانستان میشمردند، و در هر اجراآت حضرت امیر بکبر و نخوت مغرورانهٔ خود مانع می آمدند ازانرو بجز فرار ساختن آنها دگر چارهٔ نبود. و هم چه حاجت ! دولت علیهٔ شما که ششصد ساله یکدولت پرقوت و با شوکت عظیم الشانی میباشد درینوقت حاضر در پیش چشم خود می بینیم که برادر بزرگتر شان محبوس و اکثر شهزاده گان خاندان سلطنت سنیهٔ شان مأسور هستند که اینگونه کارها از امور طبیعی دولت ها دیده میشود[۱۱]". محمود طرزي ليکي چي د حضرت طرزي افغان دې جواب، چي د سلطان عبدالحميد خان سياست ته يې صدمه رسوله، جواد پاشا دومره واسرنګی (تلولی) کړ، چي سم د لاسه يې موضوع بلي خوا ته واړوله او مجلس يې پای ته ورساوه.

سردار غلام محمدخان طرزي د ژوند ډېري سړې او تودې ليدلي وې. که امير عبدالرحمن خان له خپلي کورنۍ سره په ډېره دردوونکې توګه له وطنه وشاړه، خو امير شېرعليخان بيا له عبدالرحمن خان سره د دوستۍ په تور په کابل کي زندان ته واچاوه. طرزي افغان په دغه زندان کي ډېر غمګين اشعار ويلي دي، چي لاندي به يې ولولئ:

جـــهانی در تماشای چـــراغـان عیشـها دارد
دلـــم در کـــنج زندان نالهٔ زنجـیرسـا دارد

دلـم در کـــنج زنـدان روی آسـایش نمی بیند
نظـر در خــــانهٔ تاریک بینائی کجـــا دارد
زبس در کنج غم بشکـست اجزای وجـود من
تنم چـــون حلـقهٔ زنجـیر سرتا پا صـدا دارد
درون بزم زندان هـــر طـرف در پیش روی من
بکف آئینه از شـــمشیر، بهرِ روی مـــا دارد

[۱۱] وګ : سیاحتنامه، ۲۴۷ – ۲۴۸ مخونه.

زبس نیش جفای خار طبعان میخورد بر دل
نفس در سینهٔ تنگم خسک در زیرپا دارد
ازان چون سایه از پهلو بپهلو هم نمیرد کم
که پای رفتنم را دست قدرت در حنا دارد
شدم تابستهٔ زنجیر از غم کرد خو کردم
زمینگیری مرا سرگشته همچون آسیا دارد
زبس در شعلهٔ درد گرفتاری دلم سوزد
دلم چون اخگر سوزنده آتش زیر پا دارد
خدا را غیر آزادی ندارم مطلبی دیگر
بلی هرکس درین عالم بدل یک مدعا دارد
سپهر کینه جو از بس کمان کین کشد بر من
دلم را چاک چاک از تیر بیداد جفا دارد
نه بیند روی جمعیت بحق سینهٔ پاکان
مرا هرکس جدا از پیش یار و آشنا دارد
ز درد و دلخراش دل چه داری شکوهٔ بیجا
دری صبر و تحمل زن که هر دردی دوا دارد
مگو ای دل که در تدبیر خود کردی خطا طرزی
خطا کرد آنکه تقدیر ازل گوید خطا دارد

سردار غلام محمدخان طرزي او سيد جمال الدين افغاني :

سردار غلام محمد طرزي له سيد جمال الدين افغاني سره هم پېژندل او هم يې فوق العاده درناوی ورته درلود. د همدې درناوي نتيجه وه، چې خپل زوی محمود طرزي يې له خپل يوه ليک سره استانبول ته د ده ليدو ته ورواستاوه او تاسي به يې بشپړ بيان د محمود طرزي په برخه کي ولولئ. سردار طرزي افغان سيد جمال الدين ته دوې قصيدې ويلي دي، چي دلته به پر وړغېږو:

نسیم صبح در گلشن وزید از جانب صحرا
عبیر آمیز و عنبر بیز و روح انگیز و روح افزا
طراوت بخش روی گل پریشان ساز بوی گل
موافق همچو خوی گل بطبع مردم دانا

چو بوی لالـــه جان پرور چو عطر گل روان پرور[۱۲]
دمـــــادم گلستان پرور سراسر بوستان پیرا
حبیب ویــــــاور گلشن رقیب و رهـبر گلـشن
خطیب مـــــنبر گلـشن حسیب دفتر صـحرا
ازو طـبع چـــــمن تازه وزو بر روی گل غـازه
ازو در گلشن آوازه و زو در بـــــوستان غــوغا
بطفل غــنچه او دایه بچنگ لالـــــه او مـایه
بـــفرق زاغ او ســـــایه بدوش باغ او کالا
بسـوری رنگ وآب از وی بسـنبل پیچ وتاب از وی
شده سرمست خواب از وی دو چشم نرگـس شـهلا
بطرف باغ کوشیده بگل چـون رنگ جوشـیده[۱۳]
بقد شـــاخ پـوشـیده زغنـچه دیبهٔ دیبا[۱۴]
رخ چون گل عــرق کرده جواهر در طـبق کـرده
قـبای غنـچه شق کـــرده چو جیب لالهٔ حـمرا
بشاخ سرو و تخت گل نشـسته قـمری و بلـبل
یکی در شـیون و غلـغل یکی در ناله وآوا[۱۵]
رخ گل در بـهارسـتان بدانسان کرده کارسـتان
که مانی در نگارسـتان زنـــقش دلکـش زیبا
بجسم لالهٔ نـــعمان چنان از لطف بخـــشد جان
که بر طـــبع خــــردمندان کلام نغز مـــولانا
جـــمال الدین نام آور سخن فـــهم و ســخن پرور
خــــردمند هنر گســتر فلک قدری ملک سـیما
فلاطـون از غــم رویش کـند تب لرزه در کـویش
اشــارات دو ابرویش شـــــفای بوعلی سـینا

---

[۱۲] دیوان: چو بوی گل روان پرور.
[۱۳] غبار: به گل چون رنگ جوشیده
[۱۴] غبار: زغنچه دیبهٔ زیبا
[۱۵] غبار: یکی در چهچه و آوا

ترا طرزی ثنا گوید هزاران مرحبا گوید
بصدق دل دعا گوید چه در سرا چه در ضرا
تویی عالم تو یی عامل تو یی عارف تو یی کامل
تو یی فاضل تو یی باذل تو یی عاقل تو یی دانا
فصاحت را تو سحبانی بلاغت را تو حسانی
عرب را شیرهٔ جانی عجم را دیدهٔ بینا
توئی کشف نکوکاری توئی برهان دینداری
تو ئی فرهنگ هوشیاری تو ئی قاموس استغنا
تو ئی بر سالکان رهبر توئی بر کاملان مهتر
تو ئی بر سروران سرور تو ئی بر خواجه گان مولا
تو شمع بزم ایقانی دلیل راه ایمانی
تو اندر بحر عرفانی درخشان گوهر والا
کدامین قطره آبستی که رشک دُر نابستی
نکوتر ز افتاب هستی چه باشد لوءلوءلالا
نه ماه مصر و شامستی که خورشید تمامستی [16]
قبول خاص و عامستی بجا بلقا و جا بلسا
چه نسبت بابشر داری که صد گیتی هنر داری
چهادر زیر سر داری که سرها داری اندر پا
تو نور افغانستان اخگر تو عود افغانستان مجمر
تو جان افغانستان پیکر تو روح افغانستان اعضا[(۱۷)]
الا تا نوبهار آید درخت گل ببار آید
زخاک مرغزار آید شمیم عنبر سارا
بهار خاطرت خرم مبرا از خزان غم
چو بوی نافه مشکین دم چو بوی غنچه روح افزا
د اروانښاد غبار په ثبت کي دا بیت په پای کي راغلی دئ :

---

[16] غبار : کدامین قطره آبستیکه رشک درنابستی

[(۱۷)] دیوان : تو نور استی جهان اخگر تو عودستی جهان مجمر
تو جانستی جهان پیکر تو روحستی جهان اعضا

نه ماه مصر و شام استی که خورشید تمام استی
تو افـــــغان را نظام استی زرای روشن والا

د سردار غلام محمدخان طرزي په دېوان کي د قصيدې د عنوان برخه لږ څه وراني لري او هغه دا چي د قصيدې د ممدوح نوم (سيد جلال الدين) ليکل سوی دئ، ځکه نو اروانباد پوهاند ډاکټر جاويد په بهر کي په يوه افغاني جريده کي د دې قصيدې د ممدوح په باب شک ښودلی دئ. زما په نظر څرنګه چي د علامه سيد د ژوند د زمانې په شاوخوا کي موږ د "سيدجلال الدين" په نامه داسي شخص، چي په دومره اوصافو دي ستايل سوی وي، نه پېژنو او نه هم اروانباد پوهاند دوکتور جاويد په دې برخه کي نور تفصيلات ورکړي دي ځکه نو زه د (سيد جمال الدين) پر ځای (سيد جلال الدين) د کاتب تېروتنه بولم. د (علامه سيدجمال الدين افغانی در آيينۀ مطبوعات) په ۳۹ مخ کي د مرحوم مولانا خال محمد خسته د (يادی ازرفته ګان، ۱۷۰ مخ) په حواله د نوموړي غلام محمد خان طرزي د يوې بلي قصيدې خبره سوې ده او ما (هوتک) د طرزی د کلياتو د قصايدو د برخي په ۷۱ مخ کي کتلې ده، چي په دې بيت شروع کېږي :

خيال روی تو گر بگذرد مرا به ضمير
دمـد زهر بن مـــــويم هزار بدر منير

په دېوان کي د دغي قصيدې، چي بشپړ متن به يې تاسي وروسته ولولئ، ممدوح هم (سيد جلال الدين) ليکل سوی دئ. مرحوم خسته د دې قصيدې عنوان (مخاطبه با حضرت سيد جمال الدين افغان) راوړی دئ[۱۸]. که دا د کاتب تېروتنه نه وای نو د مولانا خسته غوندي فاضل محقق به ضرور لږ شانته اشاره قدر ورته کړې وای.

په ديوان کي د لومړی قصيدې سرليک داسي دئ : قصيده در مدح سيد جلال الدين که از روم آمده بود، فرموده. د سيد جلال الدين په نامه کي د تېروتني دلايل تاسي وړاندي ولوستل خو دا چي وايي "که از روم آمده بود" په لږ څه نوره څېړنه ارزي. په وروستيو ليکنو کي داسي ښوول کېږي

---

[۱۸] ستوده محمدابراهيم و پهوال عبدالرحمن، علامه سيد جمال الدين افغانی در آيينۀ مطبوعات، ۳۹ مخ، د کابل پوهنتون چاپ، ۱۹۷۷ ع.

چي سردار غلام محمد خان دغه قصيده استانبول ته د خپل زوی محمود طرزي د استولو پر وخت ويلې وه[۱۹]. ما ته د قصيدې له سرليک څخه داسي ښکاري چي دا قصيده په کابل يا هرات کي هغه وخت ويل سوې ده، چي سيد جمال الدين هم دغه ښار ته ورغلی و. موږ ته معلومه ده چي د سيد جمال الدين پلار سيد صفدر د امير دوست محمد خان په پاچهي کي کابل ته غوښتل سوی و. سيد افغاني له خپل پلار سره يو ځای په کابل کي د ادبياتو، عربي ژبي او شرعي علومو تحصيل وکړ. په اتلس کلنۍ کي يې د سفر اراده وکړه او هند ته ولاړ. په هند کي يې تر يو کال و څو مياشتو وروسته د عربي هيوادو د سفر عزم وکړ او مکې مکرمې ته ولاړ. سيد د امير دوست محمد خان د پاچهۍ په پای کي افغانستان ته ستون سو او وايي چي د امير دوست محمدخان له خوا د هرات د کلا بندۍ په وخت کي (۱۸٦۳ع) له دغه امير سره حاضر و[۲۰]. سردار غلام محمد خان طرزي هم د خپل اکا امير دوست محمدخان په لښکر کي د هرات په کلابندي کي حاضر و، چي تاسي يې بيان د همدې ليکني په نورو برخو کي ولوستی. زه ګومان کوم چي د سيدجمال الدين افغان او سردار غلام محمدخان طرزي پيژندګلوي په همدې وختونو کي سره سوې ده. سيد جمال الدين افغان د امير محمد اعظم خان (۱۸٦٦ – ۱۸٦۸ع) په پاچهي کي لا په کابل کي و او د دغه امير له خوا يې زيات قدر کېدی، خو د امير شېرعليخان د دوهم وار پاچهۍ په سر کي له افغانستان څخه بير ته ووت.

سردار غلام محمد خان طرزي خپله دغه غرا قصيده تر ۱۸٦۳ع کال وړاندي په هيواد کي دننه ويلې ده.

سردار غلام محمدخان طرزي يوه بله مخاطبه لري، چي هغه يې هم له سيدجمال الدين سره په غياب کي کړې ده. دی وايي : ستا خيال چي مي هر وخت په ذهن کي راوګرزي، د بدن تر هر ورېښته مي د سپيني سپوږمۍ په شان روڼاوي راووزي. د قصيدې له متن څخه ښکاري چي له افغانستان

[۱۹] وګ : علامه محمود طرزی، شاه امان الله و روحانيت متنفذ، ۱۷مخ.

[۲۰] حکيم مشرق، د قدری قلعچی تاليف، د عبدالواحد نهضت فراهی ترجمه (فارسي)، ۳۲ – ۳۳ مخونه.

ثخه د سيد جمال الدين تر وتلو وروسته ويل سوې ده.

علامه حبيبي ليکي چي سيد جمال الدين د هرات تر فتحي وروسته د امير شېرعليخان د جلوس په مراسمو کي برخه اخيستې وه. (وګ : نسب و زادګاه... ٦۵ مخ).

مخاطبه با سيد جمال الدين[۲۱] در اعطا و منع

خيال روی تو گـــــر بگذرد مرا بضمير
دمد زهربن مــــــويم شرار بدرمنير
ببزم وصـــل زرويت نـــــظر نمی گسلم
زروی ناز بچشـــمم اگـــــر زنی باتير
بياد آن دهن از مـــــن مـــپرس حال دلـــم
بسان غنچه بگلشن نشسته ام دلـــگير
مـــــــرا بخدمت سرکار سيد العـــلما
دو نکته ايست اگـــر بشنوی کنم تقرير
الخ[۲۲]

سردار غلام محمدخان طرزي د کندهاري سردارانو په کورنۍ کي سخاوت، ذکاوت، مېړاني، اخلاق، علم او ادب کي تر ټولو نورو شهزاده ګانو وړاندي و. په تېره بيا د شعر او ادب په برخه يې برلاسي د ده د دېوان له لوستلو ثخه پوره ثرګندېدلای سي. د علم و فضل اوازه يې په ژوند کي لا هم د هندوستان، ايران، عراق او ترکستان ښارو ته رسېدلې وه. د ده د اشعارو ضخيم دېوان په ۱۳۰۹هـ ق = ۱۸۹۱ع کال په کراچي کي چاپ سوی دئ. د خطاطۍ کار يې د نومړي زوی سردار محمدزمان خان سر ته رسولی او دېوان د ده د وراره سردار محمدانور خان په اهتمام د چاپ ګېڼه اغوستې ده. وايي چي دغه دېوان د ښاغلي ننګيالي طرزي په پاملرنه او مالي لګښت په ۱۳۸۲ ش کال په ايران کي بيا چاپ سوی دئ. علامه رشاد رحمة الله عليه د سردار غلام محمدخان طرزي د نورو آثارو يادونه هم کوي او وايي چي د

[۲۱] په ديوان کي کاتب سهواً (سيد جلال الدين) کښلی دئ.

[۲۲] ديوان، د قصايدو برخه، ۷۰ مخ. د سردار غلامحمد خان طرزي په باب ليکنه د ده د دېوان د لومړي چاپ له سريزي او نورو ماخذو ثخه ترتيب سوې ده.

(وقوعات سته) یا (تحفۀ شامي) په نامه يې یو اثر د کابل په ملي آرشیف کي خوندي دئ. دا اثر يې په ۱۳۰۹هـ ق کال کښلی او خطاط يې شیرمحمد نیکورقم نومېږي. دغه راز يې د تاشکند په دولتي کتب خانه کي د سردار غلام محمد خان په لاس د یوه لیکل سوي بیاض یادونه هم کړې ده، چي په هغه کي "د ابوالمعاني بیدل، صائب تبریزي، نورالعین واقف، حکیم همداني، ناصرعلی سرهندي، کمال الدین مسعود، خجندي او سعدي شیرازي د اشعارو منتخبات راټول کړل سوي دي". علامه مرحوم زیاتوي چي سردار غلام محمدخان طرزي ښه خطاط او میناتور و[۲۳]. علامه محمود طرزي د خپل پلار په آثارو کي د (طرز طرزی) په نامه د یوه اثر یادونه کوي او وایي چي په شام کي د دغه اثر یوه نسخه د ده له پلار سره وه چي د میرزا غلام حسین په قلم خطاطي سوې وه[۲۴].

د فارسی ژبي مقتدر شاعر میرزا احمدعلیخان[۲۵] د سردار غلام محمد خان طرزي په باب یوه مدحیه قصیده لري، چي دلته به يې په ګډه ولولو:

فرید عصر و زمـــان خسرو بلند مکان
یگانه داور دوران غـــلام محـــمد خان
بدل قـــوی و بکف باذل و بدست جـــواد
بعقل پیر و بجان کامـــل و ببخت جـــوان
بذهن هندسه خوان و بفهم حکـمت خوان
بطـبع مـــوی شگاف و بنطق عـذب بیان
بعلم و فـــــضل و بلاغت مســـلم آفاق
برتبه فخر جمـیع طــــوائف افـــغان
بطرز شعر چو از شاعـــران ربوده عـنان
درانشده متخلـص بـــطرزی افـــغان

[۲۳] میوند مجله، ۲ کال، ۳ ګڼه ۳۱ مخ.

[۲۴] وګ : سیاحتنامه، ۵۷۹ مخ.

[۲۵] میرزا احمدعلیخان د امیر عبدالرحمان خان په وخت کي په کونړ کي د (سرشته داری) منصب درلود. علامه حبیبي يې د (مرد اداری قلمدستی) په صفت یادوي. (وګ : نسب و زادګاه ... ۷۸ – ۷۹ مخونه).

بلی کلام ملوکست چون ملوک کلام
ربوده زان زمیان گوی سبقت از میدان
برزم و بزم ازو بانظام سیف و قلم
به رای و حرم ازو با دوام شوکت و شان
ولی نعمت عصر او حاتم دهرا
بابر نسبت دستت دهم زهی بهتان
که ابر قطرهٔ آبی دهد ولی گرید
گفت چو بحر درر ریزد وتوئی خندان
بچشم عقل و خرد قندهار چون جسد یست
تو از کمال و هنر در جسد شدی چون جان
درین زمان که بود قحط جود در عالم
عجائب است مرا از غرائب دوران
که گر شهنشه غزنین به پیر فردوسی
نموده وعده به بیتی یک اشرفی احسان
توآن شهی که بدادی درین قصیده مرا
صد اشرفی صله ناکرده وعدهٔ احسان
همیشه تا بود از نثر معتبر دفتر
مدام تا بود از نظم منتظم دیوان
بود بمدح تو مشحون دفاتر ایام
بود بمدح تو (احمد) همیشه مدحت خوان

سردار غلام محمدخان له خپل زوی محمود طرزي سره په فارسي خبري کولې. محمود طرزي ليکي چي استانبول ته د سفر په لار کي يوه فرانسوي موږ ته په ځير ځير کتل ځکه چي "قيافهٔ افغانيهٔ حضرت پدر، قيافت ترکی من وشيوهٔ تکلم لسان فارسی ما نظر و سمع او راجلب کرده بود[۲۶]". خو کله کله چي به يې نه غوښتل د مجلس ناست کسان د دوی په خبرو پوه سي، نو به يې په پښتو خبري کولې[۲۷].

[۲۶] وګ : سیاحتنامه، ۱۱۳مخ.
[۲۷] وګ : د همدې سياحتنامې ۲۰۵ او ۲۲۰ مخونه.


بعون عنایت خالق کون و مکان در زمان سعادت اقتران

دیباچه دیوان سراج
سر عنوان ذکر شمه از احوال
سر دفتر اهل زبان سخن فهم نکته دان
جناب طرزی صاحب افغان طول عمره

به اهتمام محمد انور خان تحریر یافت از قلم محمد امان

د سردار غلام محمد خان طرزي د دیوان لومړی مخ



د سردار غلام محمد خان د دېوان د سريزي لومړۍ مخ

سر دار غلام محمدخان طرزي پر ادبي صنايعو باندي دونه برلاسی و، چي ساری يې پخپل وخت کي ډېر کم موندل کېدی. ادبي صنايع د هغه وخت په ادبي ښېګڼو کي شمېرل کېدل.

د ده په دېوان کي د (رقطا) په صنعت کي د نظم او نثر يوه ټوټه سته، چي په رشتيا سره يې بايد د شاعر په کمالاتو کي وشمېرو. رقطا هغه ادبي صنعت دئ، چي شاعر په نثر يا نظم يو توری منقوط (ټکی لرونکی) او بل غیرمنقوط (بې ټکو) راوړی وي. د نثر مثال يې :

"اخوی من صبح ترنم بلبل باغ رنګ - بوبرقع نويد نسيم تمناي عشرت سير باغ از رخ چمن افګند. قلب کبوتر شهپر غازان مثل باز صبح پريد. شهباز عقاب طغان اباقاخان اتابک خديو زاغان وی منهزم شد. پس توخون می از لب سبوبکشاي از لب اياغ مي عناب رنګ خمخانۀ کش. کی کنم توبه زمی[۲۸]".

د نظم مثال :

چون کنم باغـــم توتوبه زمی
خون می از لـــب سبو بکشا
ايصنم برفګـــن حجاب از رخ
چمنستان رنګ بـــو بکشا
بر خـــم باش ګير پای سبو
می عـــناب رنګ زو بکشا
باخـــم زلف مشکو جانم
بسته شد زلف مشکبو بکشا
(ديوان ٦۹۲ مخ)

يو ليک يې په کابل کي د جانان صاحبزاده مجددی قدس سره په نامه په دوه حرفي صنعت کي کښلی و: "جانانم جانم قربانت حامل نامۀ کاغذ جانانم بدست من حريف ظريف برساند ... الخ". په ټول ليک کي دوه

---

[۲۸] دېوان ٦۹۲ مخ. په دې مثال کي د (ی) توری په ټکي لرونکو تورو کي شمېرل سوی دئ او دليل به غالباً دا وي، چي دا توری که د کلمې په منځ کي راسي، نو بيا ټکي غواړي.

حرفي کلمې استعمال سوي دي[۲۹].

په بل ځای کې ټول لیک په درې حرفي او څلور حرفي کلمو کښلی دئ.

داسي چي د لیک لومړۍ کلمه څلور حرفي او ورپسې درې حرفي وي دا صنعت ډېر سخت دئ او ما يې کوم بل ځای مثالونه نه دي ليدلي :

"مشفق سخن‌فهمم. محنت منع سير گلشن طبع محبت شيم شيشه صفت صهبا غصهٔ کلفت بسر کشيده ... الخ".

د تاریخي قطعو په ويلو کي خو يې مهارت بالکل څرګند و او ما يې د اشخاصو د زېږېدني او مړيني ډېري تاريخي قطعې په همدې کتاب کي را اخيستي دي. د ده په باب به خپلو خبرو ته د هغي تاريخي قطعې په راوړلو سره د پای ټکی کښېږدم، چي په استانبول کي يې د سلطان حميد خان غازي د مسجد جامع د ودانولو پر وخت ويلې وه :

بنای مسجد سلطان زعقل طرزی جست
بخنده گفت که تاریخی زین زیاده مجوی
زاحتساب بر آری چو بی نمازانرا
بنای مسجد عبد الحمیدی غازی گوی

(ديوان ۱۷۴مخ)

دا تاريخي قطعه ارواښاد محمود طرزي پخپله سياحتنامه ۳۴٦مخ کي داسې ثبت کړې ده :

بنای مسجد سلطان زعقل (طرزی) جست
بخنده گفت که تاریخی زین زیاده مجوی
زاحتساب برآری چو (بی نمازان) را
(اساس مسجدی سلطان حمیدی غازی گوی)

حل : د سلطان عبدالحميد د جامع د ودانولو کال د محمود طرزي په سياحتنامه ۳۴٦مخ کي ۱۳۰۳هـ ق ښوول سوی دئ او زياته کړې يې ده، چي دا قطعه يې پخپل ښکلي خط باندي د حاجي علی بيګ پر لاس سلطان عبدالحميد خان ته ورسول او د هغه له خوا ډېره وستايله سوه. محمود طرزي تر رباعي لاندي ورته کښلي دي "عدد بی نمازان چون از عدد مصرع

[۲۹] ديوان، ٦۹۲مخ.

ثاني بر ايد تاريخ مسجد حاصل ميشود". لکه تاسي چي وړاندي ولوستله د دې رباعي دواړه ثبتونه زما د محاسبې له مخي ۱۳۰۳ هـ ق کال نه پوره کوي. بايد حل يې پيدا سي[۳۰].

د دې بحث په پای کي به د سردار غلام محمدخان طرزي د هغو فارسي غزلو څو نمونې رانقل کړو:

د ميرزا عبدالقادر بيدل په پيروي کي:

بگلشن چون زشوخی آن چمن پرواز می آيد
چو بلبل گل ببال غنچه در پرواز می آيد
زشرمش رنگ و بوی گل بپهلو ميخورد هر دم
که در گوش از شکست رنگ و گل آواز می آيد
زرفت و آمد ذوق تماشائيم چه ميپرسی
باستقبالش از خود رفتن من باز می آيد
چو چشم او اشارت کرد سويم با سر مژگان
بشارت سوی دل بر دم که اينک باز می آيد
بروی رنگ گل نگهت چو شبنم آب ميگردد
مگر سوی گلستان آن بهار ناز می آيد
پری در شيشه چون می ميخرد از ديدهٔ مستان
گر از شوخی ببزم ما باين انداز می آيد
ز مرغ دل نيم واقف ولی باز اينقدر دانم
که از بال پر شاهين بگوش آواز می آيد
بطرف گلشن از باغ عدم بر دامن گلچين
بذوق ديدن او ديده چشم باز می آيد
مگر (طرزی) چو بيدل ذوق گرد پای او دارم
که مشت خاک من چون چشم در پرواز می آيد

(ديوان ۳٦۵مخ)

[۳۰] په دغه تاريخي جامع کي د نړۍ د کاتوليکانو مشر پاپ (Pope Benedict XVI) د ۲۰۰٦ ع کال د نومبر پر ۳۰مه ؟ لمونځ وکړ. ما (هوتک) د ۱۳۵۲ ش کال په دوبي کي يوه بشپړه اوونۍ په دغه جامع کي تېره کړې ده.

جناب طرزي له زمانې څخه په فرياد دئ، چي وايي :

ازين زمانهٔ پُر فتنه جای فرياد است
که هر که هر چه کند در محلِ ايراد است
اگر نماز کنی گويدت که صوفی شد
و گر قمار کنی گويدت که نراد است
به بتکده چو روی گويدت که کافر شد
بصومعه چو روی گويدت که شياد است
بدست سبحه چو گيری بيکدگر گويند
که سبحه نيست به ره دام ودانه بنهاد است
چو با سلام روی گويدت که طامع شد
چو بی سلام روی گويدت که شداد است
چو بخششی نکنی بر کسی همی گويد
که اين خسيس عجب داد ممسکی داد است
چو خلعتش بدهی از منافقت صد جا
سحر بخنده بگويد که دست برباد است
چو کهنه پوش شوی از قفا همی گويد
که اين حريف نگر سخت تر زفولاد است
چو پوشی اطلس و ديبا و پرنيان و سمور
بطعن و مضحکه گويد که مسرف افتاد است
خوش آنکسی که زرد و قبول خلق جهان
بسان (طرزی افغان) بکلی آزاد است

(ديوان ۱۴۴مخ)

د قاضي طلامحمدپېښوري[۳۱] دهجوي په راوړلوسره به د جناب

---

[۳۱] مير غلام محمد غبار ليکي، چي قاضي طلامحمد پېښوری د قاضي حسن زوی و. په پارسي ژبه يې شعر وايه او له سردار غلام محمد خان طرزي سره يې مکاتبه درلوده. کله چي سردار طرزي پېښور ته ولاړ او له قاضي سره يې وکتل، خوښ يې نه سو او پورتنۍ هجويه يې ورته وويله. قاضي طلامحمد د هغو قضاتو له ډلي څخه دئ، چي کورنۍ يې له احمدشاهي دورې څخه په پېښور کي ميشته وه او تل يې د افغانستان او د هند ←

طرزي بحث ته د پای ټکی کښېږدم.

قاضی طلا که نام طلا اصل او جس است
در زمـرهٔ کسان کس مضموم ناکس است
هـــر کس که دوستی نبرد با کسی بسر
از ناکسی میان کسان کمتر از خس است
آن نرنما که ماده بــــر آمــد بدوستی
هم ماده هم نر است همانا که گرگس است
رندان بتارپشم جُـل خـــــر نمیـخرند
از روی زر اگــر چه معزز چو اطلس است
اهل کـــمال دین بدو عالـــم نمیدهند
دنیا بدین هر آنکه خرد گول و نارس است
طـــــرزی به بوتهٔ خردش چون گداختم
نی سرب و روی[۳۲] وآهن وارزي[۳۳] نی جس است
بگذر ازین طـــلا که نیرزد بخاک هـم
اوصاف ناکسان چکنی گفتگو بس است
(دیوان ۱۵۲مخ)

******

محمدولي ځلمی په خپل کتاب (د استبداد او مطلقیت په مقابل کي د ځینو افغانانو ملي مبارزې، ۲۴۲مخ) کي لیکي، چي احمد راتب د سردار غلام محمدخان طرزي له لمسیانوڅخه و؟ د پرچم ګوند د مرکزي کمیټې غړې اناهیتا راتبزاد د دغه احمد راتب لورده.

← د نیمي وچي په سیاست کي مرموز رول او په وروسته کي د انګلیسانو په ګټه رول لوبولی دئ. (د تفصیل له پاره وګورئ: افغانستان در مسیر تاریخ، ص ۴۵٦).
علامه حبیبي لیکي، چي "قاضي طلامحمد بن قاضي محمدحسن په پېښور کي لوی عالم او مؤلف او شاعر او خطاط و. دی د فارسي او عربي شعر دېوان لري او د سلوت التحریر او نفحة المسلک او تسلیه العقول مؤلف دئ". (وګ: پېښلیک ۱۸۳مخ).
[۳۲] روی = قلعی.
[۳۳] ارزیز = قلعی (غیاث).

د سردار غلام محمد خان طرزي کورنۍ

سردار پاینده خان

سردار رحمدل خان

سردار غلام محمد خان طرزي*

محمدزمان | عبدالله | گل محمد | همدم | عبدالخالق | محمود بیگ

ساحره محمدامین عندلیب منوره شیرمحمد عایشه خورشید

* سردار غلام محمد خان طرزي شپږ ودونه کړي وه او یوولس زامن او شپږلوڼي یې پاته سوي دي.

سردار محمد علم خان

سردار محمدعلم خان د سردار رحمدلخان زوی او د سردار غلام محمد خان طرزي مشر ورور و.

سردار کهندل خان چي مړ سو (سه شنبه ۷ ذی الحجه ۱۲۷۱ هـ ق = ۲۲ اګسټ ۱۸۵۵ع)، د ده د زامنو او سردار حمدل خان تر منځ د کندهار د واکمنۍ پر سر شخړي شروع سوې. تر یو لړ خونړیو جګړو وروسته یې له امیر دوست محمدخان څخه د مسئلې په حل کي مرسته وغوښته. امیر له دې موقع څخه استفاده وکړه او کندهار ته له لښکرو سره ورننووت او د کندهار اداره یې پخپل لاس کي ونیوله. سردار محمدعلم خان د امیر له دې وضعي څخه د نورو کندهاري سردارانو په شان ماښیجن و او پسه شا یې په امیر پسي خبري کولې. رپوټچیانو دا خبري د امیر تر غوږه ور ورسولې او امیرحکم وکړ، چي سردارمحمدعلم خان او د سردار محمد عظیم خان زوی سردار سلطان احمدخان (مشهور په سرکار) دي له کندهاره وایستل سي. نوموړو سردارانو د پارس قاجاري دولت ته پناه وروړه. په دغه وخت کي د پارس قاجاري دولت په هرات کي تر ماتي وروسته له انګلیسانو سره د هرات پر سر یو تړون لاسلیک کړ (۴ مارچ ۱۸۵۷ ع)، چي د پارس د تړون په نامه یادېږي. تر دغه تړون وروسته یې سردار سلطان احمدخان د واکمن په توګه هرات ته واستاوه[۱]. د تاریخ سلطاني مؤلف وایي چي په دغه حکومت کي یې سردار محمد علم خان، د کهندل خان زوی سردار سلطان علیخان او د وزیر یارمحمد خان زامن هم ور شریک کړل[۲] او د دې پېښي نېټه یې د ۱۲۷۳ هـ ق کال د روژې د میاشتي وروستۍ ورځ = ۲۴ مي

---

[۱] هرات پښتانه، ستره لوبه، ۳۰۲ مخ.

[۲] تاریخ سلطانی، ۲۹۰ مخ.

۱۸۵۷ع ښوولې ده[۳]. سردار محمدعلم خان د سردار سلطان احمدخان په مشرۍ باندې راضي نه و، ځکه یې نو هرات ته له ورتګ څخه ټېټه وکړه او مخ پر تهران رهي سو[۴]. تهران ته د تګ په حال کې د علامه رشاد رحمه الله له خولې په (اسهاک) نومي ځای کې د غلو په لاس شهید سو[۵]. تاریخ سلطاني او سراج التواریخ د دغه ځای نوم (الهاک) ثبت کړی دئ[۶]. له امکانه لیرې نه ده چې د سردارمحمدعلم خان په مرګ کې دې د پارس د دولت لاس شامل وي. سردار غلام محمد خان طرزی د سردار محمدعلم خان وژل د ازبکانو له لاسه بولي او د ده پر مړینه یې یوه قصیده هم ویلې ده، چې وبه یې لولئ:

فغان که باز سپهر از جفا بکین آمد
کمان چرخ پی کینه از کمین آمد
سموم دهر بتاراج بوستان بوزید
زروزگار خزان بهر یاسمین آمد
جهان جود محمد علم که مرتبتش
برای غمزدگان ناصر و معین آمد
به پیش قامت او سرو پای در گل ماند
به پیش عارض او ماه خوشه چین آمد

---

[۳] سراج التواریخ د دې پېښې نېټه د ۱۲۷۳هـ ق کال د شوال د میاشتې ۱۷ مه بللې ده (وګ: سراج ۲/ ۴۱مخ).

[۴] سلطان احمدخان سرکار د سردار محمدعظیم زوی و، چې د امیر دوست محمد خان وراره او زوم و. سردار محمدعظیم خان د امیر دوست محمد خان ورور او د کشمیر حاکم و. نوموړي سلطان احمد خان د ایران د تحت الحمایه په توګه پر هرات باندې واکمني چلوله. امیر دوست محمد خان په ۱۲۷۹هـ ق کال هرات تر یو کال کلابندۍ وروسته ونیو او سلطان احمدخان د همدې کلابندۍ په وخت کې مړ سو (اوایل رمضان ۱۲۷۹هـ ق = فبروري ۱۸٦۳ع – سراج ۷۵/۲ مخ). د ده تر مرګ وروسته یې زوی شهنوازخان هم د امیردوست محمد خان پر خلاف مقاومت وکړ خو په پای کې تسلیم سو.

[۵] وګ: میوند مجله، دویم کال، درېیمه ګڼه، تله – لیندۍ ۱۳۸۲ش، ۳۰ مخ.

[٦] ماته داسې ښکاري چې د میوند مجلې چلوونکو به د علامه مرحوم خپل تلفظ له کسیټ څخه سم استخراج کړی نه وي.

زهمچو او پسری شد جهان پیر عقیم
زهمچو او خلفی دهر دون عنین آمد

بلند مرتبه سردار قندهار که او
زروزگار سزاوار آفرین آمد
بجنگ باتن تنها بسان شیر عرین
بدشت کین پی دفع مخالفین آمد
بعزم قتل وی از هر طرف نموده کمین
سپاه ازبک بیدین زراه کین آمد
عدو چو هاله و او در میانه همچون ماه
عدو چو خاتم و او در میان نگین آمد
بسی بکشت ازآن ناکسان و آخر کار
شهید از ستم قوم ظالمین آمد
تبارک الله ازان شیر بیشهٔ مردی
صد آفرین بروانش که خوش متین آمد
زروزگار جفاکار گشته بود ملول (۷)
بسوی روضهٔ رضوان وحور عین آمد
چو آفتاب بمغرب زمین غروب نمود
بسان گنج بخاک سیه دفین آمد
زعقل سال وفاتش طلب نمودم گفت
که طرزی از چه سبب خاطرت حزین آمد

بگیر از سر هر مصرعی کنون حرفی
که سال فوت محمد علم همین آمد

---

(۷) شاعر په دې مصرع کي د وخت له حالاتو څخه د سردار محمدعلم خان نارضائیتی ته اشاره کوي. دا هغه ټکی دئ، چي د تاریخ سلطانی مؤلف هم بیان کړی دئ او تاسي مخکي ولووست.

وگر زمقطع آن سـال فوت جوئی گوی
زروی زین علم فتح بـر زمـین آمد[۸]
۱۲۷۳

علامه رشاد مرحوم د (افغانستان) نومي کتاب د ایراني مؤلف علی قلی میرزا له خولې روایت کوي، چې سردار محمدعلم خان عالم سړی و. وایي چې ده د افغانستان یوه دقیقه نقشه جوړه کړې وه او په یوه اروپایي ژبه هم پوهېدی، علامه مرحوم د ده په مؤلفاتوکي د (اخلاق نامه، مولود نامه، تحفۀ خلفاء) نومونه اخلي[۹]، خو باید وویل سي چې د علامه مرحوم دغه بیان په هغه شفاهي وینا کي راغلی دئ، چې په کابل کي یې د علامه محمود طرزي د اوبایم تلین په غونډه کي کړې وه او د میوند مجلې د ده وینا په چاپي توګه خپره کړې ده. په راتلل سوي ثبت کي ددغو مؤلفاتو نسبت د سردار محمدعلم خان زوی نظرمحمدخان ته هم کېدلای سي. ما (هوتک) ته اوس د دې موضوع د سپینېدو امکانات نسته . د ارواښاد حاجي عبدالمجید هوتک په کتبخانه کي د قاضي غلام محمد هوتک د یوه اثر (عالمیه، در تعداد علوم) قلمي نسخه وه چې مؤلف د سردار محمدعالم خان په نامه کښلې وه. د دې نسخې کاتب فیض احمد نومېږي او د کتابت کال یې ۱۲۷۱هـ ق دئ.د سردار محمدعلم خان پنځه زامن پاته سول : ګل محمد خان، نظر محمد خان، دادمحمدخان، فتح محمد خان او محمدانورخان. نظر محمد خان یې په سل کلنۍ کي په کندهار کي مړسو[۱۰].

---

[۸]حل : د قصیدې د بیتو د لومړیو مصرعو د سرتوري (ف، س، ج، ب، ز، ب، ب، ب، ع، ب، ت، ز، ج، ز، ب، و) او د دوهمو مصرعو د سر توري (ک، ز، ب، ب، ز، ز، ب، س، ع، ش، ص، ب، ب، ک، ک، ز) دي. د دې ټولو تورو د ابجدي ارزښتو مجموعه ۱۲۷۳ کېږي. دغه راز د مقطع وروستۍ مصرع (زروی زین علم فتح بر زمین آمد) ابجدي ارزښت پدې شرط ۱۲۷۳ کېږي، چې د (آمد) په کلمه کي د سر ممدوده الف پر دوو الفو وشمېرل سي. معمائیون زیاتره وختونه ممدوده الف پر دوو شمېري. سردار محمدعلم خان د ۱۲۷۳هـ ق کال د کوچني اختر پر اوولسمه = ۱۱جون ۱۸۵۷ع شهید سو، (میوند مجله، ۲کال، ۳ګڼه، ۳۰ مخ).

[۹]میوند مجله، هماغه ګڼه.

[۱۰]میوند مجله، هماغه ګڼه.

علامه محمود طرزي

علامه محمود طرزي د سردار غلام محمد خان طرزي قندهاري زوی، د سردار رحمدل خان لمسی او د سردار پاینده خان کړوسی و، چې د ۱۲۸۵ هـ ق کال د ربیع الثانی په لومړۍ نېټه = ۵ سنبله ۱۲۴۷هـ ش = ۲۲ جولای ۱۸٦۸ع په غزني کې زېږېدلی او نوم يې د سلطان محمود غزنوي د زيارت په تبرک، محمود پرايښی و.

چو کرد اختر سعدش طلوع در غزنین
نهاد نام گـــرامیش را پدر محـــمود

دانشمند او شاعر پلار يې د ده د زېږېدلو تاريخي قطعه داسې ويلې ده:

هـــزار شکر که از فضل کـردگار ودود
پدید شد دُری از کان فیض و معدن جـود
زدودمــــان دو عــالی نژاد والاجاه[1]
زخـاندان دو ســـرور بساعت مسـعود
یگانه گوهــــر دریای سروری و جـلال
بهین نـــــقادهٔ شـاهان معدلت آمــود
کشاده شـد برخ دوســتان زمـــــقدم او
هــران دُری که بد از غـش پیشـتر مسدود
بروز غـــــرهٔ مــــاه ربیع الـثانی بود
که آمـــد آن گل نورس ببوســتان شـهود

---

[1] د محمود طرزي مور سلطنت بيگم نومېدله او د شهزاده مودود سدوزي لور وه. عزيزالدين وکيلي وايي چې سلطنت بيگم د شاه محمود سدوزي له اولادې څخه وه (سفرهای غازی امان الله شاه، ۳٦۱ مخ اوله حاشيه) په (زدودمان دو عالی نژاد والاجاه) کې د ده مورګنۍ او پلرګنۍ دواړو ته اشاره سوې ده. سلطنت بيگم په ۱۹۰۸ع کال په کابل کې مړه سوه او د تيمورشاه په ګومبته کې ښخه سوې ده (وګ: د انټرنيټ په پاڼو کې د The Barakzai Dynasty پاڼه د Tarzi برخه).

چو کــــرد اختر سعدش طلوع در غزنین
نـــــهاد نام گرامیش را پدر محـــمود
پی تفحـــص حــــال ولادتش طـــرزی
ســوال کـــــرد زپیر خرد چنین فـــرمود
دو از حساب عدد کم کن و بگو پس ازان
"شگفت نــو گل عــالی زدوحهٔ مقصود"
(دیوان ۱۵۸مخ)[۲]

د محمود طرزي لومړۍ روزنه د ده د دانشمند پلار او د کندهاري سردارانو د کورنۍ د استاد ملا محمداکرم هوتک پر لاس پیل سوه خو دی لا زلمی و، چي پلار او د کورنۍ ۳٦ تنه غړي یې د سردار محمد ایوب خان په استعماري ضد تحریک کي د ګډون یا پلوۍ په تور د امیر عبدالرحمن خاني استبداد قرباني سول او په ډېره بده وضعه د کندهار له لاري برتانوي

---

[۲] حل : په دېوان کي یې ورروستۍ مصرع ته په عدد ۱۲۸۴ کښلي دي، چي یوه حسابي تېروتنه ده. د دې تېروتني له امله ځینو څېړونکو د علامه محمود طرزي د زېږېدو کال څکه ۱۲۸۲هـ ق بللی دئ، چي د معما په حل کي یې له ۱۲۸۴څخه دوه کم کړي دي. خو ما (هوتک) چي دغه تاریخي مصرع (شگفته نو گل عالی زدوحهٔ مقصود) محاسبه کړه، ۱۲۸۷ په لاس راغلل. له دې عدد څخه چي د مقطع د لومړۍ مصرع په حکم دوه تفریق سي، ۱۲۸۵ لاس ته راځي. ۱۲۸۵ هـ ق کال د ۱۸٦۸ع کال د اپریل پر ۲۴ مه پیل کېږي. په دې ډول د ۱۲۸۵هـ ق کال د ربیع الثانی لومړۍ نېټه د ۱۸٦۸ع کال د جولای له ۲۲ سره او هغه بیا د ۱۲۴۷هـ ش کال د زمري له څلرمي یا پنځمي سره برابرېږي (وګ : A comparative Calender د Ahmad Birashk تألیف– هاشمي، عبدالقدوس، تقویم تاریخی، ۱۹٦۵ چاپ کراچی).
کاندید اکادمیسن محمداعظم سیستانی په (علامه محمود طرزی، شاه امان الله و روحانیت متنفذ) ۱٦مخ کي د محمود طرزي د زېږېدو نېټه د ۱۲۴۴هـ ش کال د وږي میاشتي په لومړۍ = د ۱۸٦۵ع کال د اګسټ په ۲۳ مه بللې ده. دا نېټه یې د حبیبي له جنبش مشروطیت څخه اخیستې ده. غبار په تاریخ ادبیات افغانستان ص ۱۰٦ کي د محمود طرزي تولد ۱۲۸۵ق کښلی دئ. محمدولي ځلمي په کندهار مشاهیر، ۲۷۰ مخ کي هم د زېږېدو نېټه ۱۲۸۵هـ ق دربیع الثاني لومړۍ لیکلې ده. په دې ډول د مرحوم غبار، محمدولي ځلمي قولونه زما له محاسبې سره سم دي او همدا د محمود طرزي د زېږېدو نېټه ده.

هند (کوئټې او بیا کراچي) ته وشړل سول (جنوري ۱۸۸۱ع)[۳]. د شړل سوو وطندوستانو په دې کاروان کي ځوان محمود طرزي هم شامل و. دی چي له وطنه وتی، د خپل پلار په مرسته يې په ادب او هنر کي دومره څه زده کړي ول، چي د یوه باذوقه او باسواده زلمي سره ښایېدل. پر فارسي ادبیاتو باندي يې دومره تسلط درلود، چي پخپله يې هم شعر پکښې وایه. محمود طرزي نژدې یو کال له خپلي کورنۍ سره په کوټه کي تېر کړ او وروسته کراچي ته ولاړ. په کراچي کي يې درې کاله تېر کړل (۱۸۸۲ – ۱۸۸۵ع). په دې درو کلونو کي محمود اردو ژبه زده کړه او د هند د نیمي وچي د علماوو له آثارو څخه يې پراخه استفاده وکړه. په ۱۸۸۵ع کال کي له خپلي کورنۍ سره په کښتۍ کي بغداد ته کډه سو. هورې يې تورکي ژبه زده کړه او دومره پکښې وارد سو، چي د عثماني ترکیې له سلطان او د دربار له نورو اراکینو سره يې د خپل پلار د لیدني کتني پر وخت د ترجمان په توګه برخه اخیستله. د محمود طرزي پلار او کورنۍ يې د سلطان عبدالحمید په غوښتنه په ۱۸۸٦ ع کال دمشق ته ولاړل او هورې يې ۱۴ کاله تېر کړل. په دمشق کي څورلس کلني استوګني محمود طرزي ته د عربي ژبي د زده کړي او په نورو علومو کي د مطالعاتو پراخه زمینه برابره کړه. دی د عثماني ترکیې په پراخ قلمرو کي وګرځېدی او د وخت له مشهورو سیاسي او فرهنګي کسانو سره يې علمي اړیکي ټینګ کړل. په ۱۹۰۰ کي يې پلار مړ سو او دی له همدې وخته وطن ته د بیرته ستنېدو په لټه کي سو. یو کال وروسته امیر عبد الرحمن په کابل کي مړ سو (۱ اکتوبر ۱۹۰۱ع = ۱۹ جمادی الثاني ۱۳۱۹هـ ق)[۴] او پر ځای يې امیر حبیب الله خان پر تخت کښېنوست. محمود طرزي له همدې

[۳] جنبش مشروطیت، ۱۰۹مخ. خو محمود طرزي په سیاحتنامهٔ سه قطعهٔ روی زمین جلد اول ۱۰ مخ کي وایي چي دی په ۱۳۰۱ هـ ق کال له وطنه وتلی او په ۱۳۲۲هـ ق کال بیرته راستون سوی دئ. په ۱۳۰۱هـ ق کال کي د ۱۸۸۳ع کال دوې میاشتي او د ۱۸۸۴ع کال تقریباً لس میاشتي شاملي دي.

[۴] په تقویم تاریخي مرتبهٔ عبدالقدوس هاشمي کي يې د امیر عبدالرحمن وفات د ۱۹۰۱ع کال د اګست ١٦مه بللې ده، چي د ۱۳۱۹هـ ق کال د جمادی الاول له لومړۍ نېټې سره سمون خوري او د جمعې ورځ کېږي؟

موقع څخه استفاده وکړه او کابل ته د امیر د فاتحې او نوي امیر ته د مبارکۍ په نیامت راغی. نهه میاشتي یې تېرې کړې. په دې وخت کې امیر حبیب الله خان د خپل پلار د وخت فرار کړه سوي کورنۍ خپل هیواد ته د بیرته را ستنېدو له پاره راوبللې. محمود طرزي ته یې هم هیواد ته د راستنېدو له پاره بلنه ورکړه. دی دمشق ته ولاړ او په ۱۹۰۵ع کال له خپلې ټولې کورنۍ سره بیرته کابل ته راستون سو[۵].

په کابل کې یې د هیواد چوپړ ته ملا وتړله. اته کاله یې سراج الاخبار وچلاوه، په نظم او نثر کې یې تر دېرشو زیات کتابونه تالیف او وژباړل. په سیاست کې یې د مشروطه غوښتونکو ډلې ته لارښوونې وکړې، د ځوان اماني دولت د متفکر مغز په توګه یې د انګرېزي استعمارګرانو او وطني رجعت پسندو دښمني پر سر واخیستله او د اماني دورې په پای کې بیرته په ژړاندو سترګو له وطنه وتلو ته مجبور سو او استانبول ته ولاړ. د ۱۹۳۳ع کال د نومبر پر ۲۲مه = قوس ۱۳۱۲ ش = شعبان ۱۳۵۲هـ ق د ٦٨ کالو په عمر د اینې د سرطان په ناروغي مړ سو او د ابو ایوب انصاري ﷺ زیارت په څنګ کې خاورو ته وسپارل سو[٦].

---

[۵] جنبش مشروطیت، ۱۱۰مخ. محمود طرزي په سیاحتنامهٔ سه قطعهٔ روی زمین جلد اول ۱۰ مخ کې وایي چې دی په ۱۳۲۲هـ ق کال بیرته راستون سوی دئ. په دغه هجري قمري کال کې د ۱۹۰۵ع کال د سر دوې میاشتې او شل ورځې شاملې دي (وګ : هوتک، محمد معصوم، پرتلیز کلیز، (ناچاپ).

[٦] علامه محمود طرزي هغه وخت چې پلار یې له دمشق (شام) څخه د حج په سفر روان و، او دی ورسره تر اسکندریې پورې ملګری و (۱۳۰۸هـ ق شوال)، د حضرت خواجه ایوب انصاري ﷺ په زیارت مشرف سوی و. دی په (سیاحتنامهٔ سه قطعهٔ روی زمین، ۳۹۰ مخ) کې د دغه زیارت په باب مفصل بیان لري او د خپل پلار له خولې لیکي چې د ابو ایوب انصاري ﷺ بشپړ نوم خالد بن زید ابو ایوب الانصاري الخزرجي و. له نامه سره یې (الخزرجي) ځکه کېښ چې د بني خزرج قبیلې ته منسوب و. ابو ایوب ﷺ د حضرت معاویه په وخت کې استانبول ته د یوه لښکر په ملګرتیا راغلي و، او په ۵۰ هجري کې همدلته وفات سوئ دئ (سیاحتنامه ۳۹۵مخ).

محمود طرزي

محمود طرزي د سيد جمال الدين افغان په محضر کي[۷] :

محمود طرزي د خپل پلار سردار غلام محمدخان طرزي قندهاري په امر او لارښوونه په ۱۳۱۴ هـ ق (۱۸۹٦ ع) د شرق د آزادۍ غوښتونکو د پيشوا سيد جمال الدين افغان محضر ته ولاړ او اووه مياشتي له دغه پرفيضه محضر څخه مستفيد سو. د محمود طرزي دانشمند پلار د علامه سيد له ډېرو نزدې دوستانو او ارادتمندانو څخه و، نوموړي په خپل دېوان کي (د کراچي چاپ ۱۸۹۲ ع) د سيد په باب دوې قصيدې ويلي دي، چي زه وړاندي پر رڼېدلی يم. محمود طرزي ليکي :

"علامه سيد جمال الدين يک معدن عرفان بود، اين هفت ماه مصاحبت من با او بقدر هفتاد ساله سياحت در بر دارد ... مباحث علميه، حکميه، فلسفيه، سياسيه، اجتماعيه و غيره که هر روز در محفل بزم حضور آن علامهٔ دهر جريان مى يافت، هر جمله و عبارهٔ آن کتابه، رساله ها تحرير بکار دارد ...[۸]".

زما د معلوماتو له مخي په افغانستان کي د لومړي ځل له پاره د علامه سيد جمال الدين افغاني په باب ليکنه په سراج الاخبار افغانيه کي سوې ده. د دغي جريدې د شپږم کال (۱۲۹۵ ش) په دريمه ګڼه کي سلطان محمدخان کابلي د (سلسلهٔ مشاهير افغان) تر سرليک لاندي يو مضمون په دري ژبه خپور کړ، چي له عربي څخه يې ژباړلی و.

په دغه مضمون کي يې د سيد د ژوند د حالاتو او د ده د اصل و نسب په برخه کي په زړه پوري معلومات ورکړي دي. دی يې د افغانستان د کونړ (مضافاتو) ته منسوب بللی دئ. د دغه مضمون په تعقيب د سراج الاخبار افغانيه سرمحرر علامه محمود طرزي يوه مقاله د (علاوه معلومات بر ترجمهٔ احوال السيد جمال الدين افغان) وليکله، چي د همدغي جريدې د شپږم کال په پنځمه ګڼه کي يې خپره کړه. په دې مقاله کي يې له سيد

---

[۷] په دې برخه کي به زه د خپلي يوې مقالې يوه برخه له څه بدلونونو سره رانقل کړم. دا مقاله مي د علامه سيد جمال الدين افغان د شخصيت د درناوي د هغي غونډې له پاره ليکلې وه، چي په تېرو تلو پوهنتون کي د ۱۹۹۷ ع کال د نومبر پر ۱۹ د افغاني محصلينو په همت جوړه سوې وه او هورې مي ولوستله. د مقالې بشپړ متن زما په ناچاپ اثر (کچکول، ۱ټوک) کي خوندي دئ.

[۸] حبيبي، عبدالحی پوهاند، جنبش مشروطيت در افغانستان، ۱۱۳ مخ.

افغان سره د خپلو ليدنو کتنو، د سيد د اصل و نسب او د سيد د ناروغۍ او وفات په باب ډېر ارزښتناک مطالب راوړي دي.

ګويا په افغاني مطبوعاتو کي د سيد افغان په باب لومړني معلومات له سراج الاخبار څخه پيل کېږي. البته تر سراج الاخبار دمخه سردار غلام محمدخان طرزي د علامه سيد په وصف کي قصيدې ويلي وې خو په اخباري سطحه کي سراج الاخبار افغانيه لومړۍ جريده ده، چي سيد افغاني راپېژني. د سردار غلام محمدخان قندهاري قصيده پر دېوان سربېره د کابل مجلې د ۱۳۱۲ ش کال په څلرمه ګڼه کي او بيا د ۱۳۱۸ ش کال په نهمه ګڼه او د اروانښاد مير غلام محمد غبار پرملې په تاريخ ادبيات افغانستان په ۱۸، ۱۷، ۱٦ مخو او نورو افغاني منابعو کي هم چاپ سوې ده.

محمود طرزي او سراج الاخبار

سراج الاخبار په ۱۳۲۹ ق کال د شوال پر ۱۵ او د ۱۲۹۰ ش کال د مېزان پر ۱٦ مه نېټه (۹ اکتوبر ۱۹۱۱ ع) په کابل ښار کي د مطبوعاتو د پلار علامه محمود طرزي په مديريت او سرمحررۍ خپور سو. يو کال يې په سنګي چاپ خپروني کولې او کله چي عنايت مطبعه تاسيس سوه (۱۳۳۰ ق)، سراج الاخبار هم په همدې مطبعه کي چاپېدی. د اخبار نګراني د ملکي ايشک اقاسي علي احمد خان پر غاړه وه[۹]. په کابل کي يې د کلني اشتراک وجه اته کابلۍ، په هيواد کي دننه څورلس کابلۍ، په خارج کي نيم انګليسي پونډ او په کابل کي يې د يوې ګڼې بيه يوه شاهۍ وه. اخبار په هرو پنځلسو ورځو کي خپرېدی. د سنګي چاپ په وخت کي يې د خطاطۍ چاري د ميرزا محمدجعفر قندهاري له خوا سر ته رسېدلې او مهتمم يې الحاج عبدالخالق و[۱۰]. سراج الاخبار ټول اووه کاله خپور سو. د اووم کال له شروع څخه يې سرمحرر محمود طرزي له خپل

[۹] دا هماغه علي احمدخان و، چي د شاغاسي خوشدل خان زوی کېدی او خوشدل خان د امير امان الله خان ماما و. د ده په باب به د کتاب په پای کي وړغېږو.

[۱۰] په ځينو منابعو کي د سراج الاخبار د لومړي کال خطاط الحاج عبدالخالق ښوول سوئ دئ، (وګ: مطبوعات افغانستان، د محمد کاظم آهنګ او ډاکټر محمد ظاهر صديق ګډه ليکنه، ۵۸ مخ، کابل، ۱۳۵۱ش. الحاج عبدالخالق د سردار غلام محمد خان طرزي زوی و، (وګ: د همدې ليکني ۱۵۳ مخ).

نامه سره د طرزي پر ځای (افغان) لیکی او په دې برخه کې یې په سرمقاله کې خپل دلایل هم بیان کړي دي. د لومړي کال له اتمې ګڼې وروسته یې کلیشه په سراج الاخبار افغانیه واوښتله. سراج الاخبار په اوو سرو کلونو کې هر کال څلېرویشت ګڼې خپورسوئ دئ او وروستی ګڼه یې په ۱۵ ربیع الاول ۱۳۳۷ ق = ۲۷ قوس ۱۲۹۷ ش = ۱۹ دسمبر ۱۹۱۸ ع خپره سوې ده.

محمود طرزي د سراج الاخبار په پاڼو کې پښتو ژبه هم له یاده ونه ایستل او په حقیقت کې د سراج الاخبار د خپرېدو له هماغه پیل څخه دا توقع کېدله چې اخبار به د ملي ژبې پښتو په برخه کې هم هڅه و تلاښ وکړي. د دې کار له پاره څو موجه علتونه موجود ول. یو خو دا چې د اخبار د فاضل مدیر او سرمحرر زیاتره دایمي همکاران عبد الهادي پرېشان داوي، عبدالرحمان خان لودین، عبدالعلي خان مستغني، غلام محی الدین خان افغان، مولوي صالح محمدخان هوتک او نور د سرمحرر په ګډون ټول پښتانه ول او په پښتو و فارسي ژبو یې د نظم و نثر لیکلو پوره توان درلود. بل دا چې دا ټول ښاغلي د سیاسي او ملي موقف په لحاظ یا د جوانان افغان د ډلي فعالین او یا یې پلویان ول. د جوانان افغان د ملي ډلي په سیاسي کړنلاره کې ملي یووالی او د افغانستان د ملي ګټو او ارزښتونو حمایه او خوندي کول اساسي ټکي وو. د همدې ملي دریځ په نتیجه کې وینو چې علامه محمود طرزي د دوهم کال په نهمه ګڼه نهم مخ کې (۱۵ صفر ۱۳۳۱ ق = ۲۳ جنوري ۱۹۱۲ ع = ۳دلو) د (مبحث زبان) په ستون کې د (زبان افغانی اجداد زبانها است) تر عنوان لاندې یوه مفصله مقاله خپروي، چې په هغې کې یې د پښتو ژبې پر اصالت او قدامت پوره رڼا اچولې ده. د همدې ګڼې په یوولسم مخ کې یې په یوه جدول کې د (پلار، مور، خور، ورور او لور) کلمې په افغاني (پښتو)، فارسي، سانسکریټ، کردي، ارمني، رومي، لاتیني، جرمني، انګلیزي او فرانسوي ژبو کې مقایسه کړي او دغه راز یې د (شعبهٔ اریان) او (زبان افغانی) په بحث کې ثابته کړې ده، چې (زبان افغانی اجداد زبانها و ملت افغانی اجداد اقوام اریانها) دي. تر دې مقالې وروسته په اخبار کې پښتو نشرات پیل کېږي.

څرنګه چې مطبعې پښتو توري نه درلودل، ځکه یې په فارسي تورو باید پښتو مطالب لیکلي وای، چې دې کار د پښتو مضمونونو لوستل لږ څه مشکل کړي دي. خو بیا یې هم خپلو نشراتو ته دوام ور کړی دئ.



د سراج الاخبار یو عکس

محمود طرزي

د سراج الاخبار د خپرولو پر وخت

د محمود طرزي سياسي او فرهنګي هڅې

د محمود طرزي د هلکيني زمانه په افغانستان کې د امير شېرعليخان د لومړي وار پاچهۍ د پای له کلونو سره برابره ده. دی غټ هلک و، چې انګرېزي لښکري دوهم وار پر افغانستان راتوی سوې او د ميوند په تاريخي غزا کې د ده د کورنۍ ډېرو مشرانو تربرونو برخه اخيستې وه. ده په هلکتوب کې لا د انګرېزانو د استعماري مظالمو او پر هيواد باندې د هغوی د تېرې مصيبتونه ليدلي ول. دی پخپل کتاب (سياحتنامۀ سه قطعۀ روی زمين در ۲۹روز) کې کټ مټ همدا لار پالي. محمود طرزي د دغه سياحت په ترڅ کې استانبول ته د سفر په لار کې د بېړۍ (واپور) له کپتان سره، چې د روسيې تبعه دئ، د افغانستان د هغه وخت د سياسي موقعيت او حالت په باب خبرې کوي او کپتان ورته د افغانستان د تحت الحمايګۍ خبره کوي. پر ځوان محمود بېګ باندې دا خبره دونه درنه تماميږي چې د شپې هيڅ خوب نه ورځي. شپه تر سهاره نا ارامه لټ پر لټ تېروي. دی ليکي:

"سبحان الله! اين کلمۀ (وطن) چقدر مقدس و عزيز يک کلمه ايست! شرف، ناموس، عزت، حيات همه در همين سه حرف اين کلمۀ مقدس مندرج است. آيا چسان انسانی تصور شود که شرف و ناموس و حيات خود را در زير حمايۀ ديگری به بيند، و زندګانی بتواند؟ يک افغان در هر جای که باشد به آزادی و استقلاليت افغانستان، خود را افغان ميشناسد، مليت، قوميت هر فرد بوطنش قايم است. وطن چون در اغوش حمايت ديگری باشد مليت و قوميت کجا باقی ميماند! شرف و ناموس کجا ميرود؟[11]". او په دې ترڅ کې خپل خالق لايزال ته د مناجات لاسونه پورته کوي او وايي:

"ای خلاق عظيم الشان کائنات، و ای حيات بخشای منان جملۀ موجودات! وطن عزيز مقدسم را از شر دشمنان بدکيش ضرر انديش پر قوت آن که يکی از طرف شرق و جنوب مانند يک اژدر دو سر آتشين پيکر

---

[11] هماغه سياحتنامه، ۱۴۲ - ۱۴۳مخونه.

کریه المنظر، از تونل (کوژک) و (درهٔ خیبر) برای بلع نمودن وجود نازنین لطافت اثر او هر دو سر پر شور و شرر پرور خود را برون آورده، و دیگری مانند سیلاب خروشان بلا توامانی که آب از چرکاب نجاست آلودخانه براند از دین و ناموس تشکیل یافته، و از مدت مدیدی از تالاب های منجمدهٔ شمال، وکوه های (اورال) بجریان آمده، و آهسته آهسته صحراهای ترکمن و اراضی واسعهٔ آسیای وسطی را با چرکاب خود پُر واملا نموده، و آخرالامر از طرف غرب و شمال کوههای شامخ وطن عزیز مارا سد حایل جریان خود را یافته، و لحظهٔ از پیدا کردن یک مجرایی برای جریان خود فارغ نه نشسته بفضل وکرم نامتناهی و حفظ و حمایت صمدانی خود محافظه و صیانت فرما... یارب! یاالله!![۱۲]".

وطن ته تر راستنېدو وروسته يې د افغاني منورينو په مرسته د مشروطه غوښتونکو د سياسي هڅو په سمبالولو کي ډېر زيار وايست. د مشروطه غوښتني هڅي د محمود طرزي تر راستنېدو دمخه هم رواني وې او په دې لار کي منظم فعاليت او سرښندني جاري وې. خو محمود طرزي د دغه فعاليت په سمه لارښوونه کي خورا ستر رول ولوباوه. دی په عثماني ترکيه کي د خپلو مطالعاتو په ترڅ کي د اروپايي نشنليستهانو او منورينو له سياسي او فرهنګي فعاليتو سره اشنا سو. د دغو فعاليتو له مطالعې څخه يې د خپل هيواد د خپلواکۍ غوښتونکي غورځنګ په ګړندي کولو او عملي کولو کي ښه پراخه استفاده وکړه. ده ته دا خبره معلومه وه، چي د افغانستان زياتره تنويري او اصلاحي حرکتونه د دربارو او شاهانو پر لاس ايجاد سوي او پر مخ بېول سوي دي. ده د خپل اصلاحي پروګرام د تطبيق له پاره د کابل په دربار کي د ښې ايښوولو ځای ومونډ او له خپلو خانداني اړيکو څخه يې په دربار کي دننه د يوې منوري کړۍ د جوړولو له پاره کار واخيست. د امير حبيب الله له دوو زامنو سره يې خپښي وکړه او د عين الدوله امان الله خان د سياسي تفکر په روزنه کي يې ډېر تلاښ وکړ او د خپل تلاښ ښه مغزن ثمر يې واخيست.

---

[۱۲] هماغه اثر ۱۴۵مخ. په دې پاراګراف کي هغو ګوابنو ته اشاره سوې ده، چي افغانستان ته له شمال او جنوب (روس او انګرېز) له خوا متوجه وو.

محمود طرزي د خپلې کورنۍ د غړو سره
(په عکس کي سردار عنايت الله خان هم ليدل کيږي)

محمود طرزي د ژول ورن پر لار

ژول ورن (۱۸۲۸-۱۹۰۵) Jules Gabriel Verne فرانسوی لیکوال او په ادبیاتو کې د علمي - تخیلي ژانر (science-fiction) يو مخکښ و[۱۳]. د ده په ناولو کې تر بحر لاندې شل زره فرسخه (۱۸۷۰ع)، د مځکې شکم[۱۴] ته سفر (۱۸٦۴ع) او د نړۍ پر شاوخوا باندې اتیا ورځنی سیاحت (۱۸۷۳ع) ډېر مشهور دي. د نړیوالو احصائیوي معلوماتو له مخې، دی په نړیواله سویه دریم لیکوال دئ، چې آثار یې زیات ژباړل سوي دي. د ده له ځینو آثارو څخه فلمونه جوړ سوي دي او ده ته کله کله د ساینس فیکشن پلار هم ویل سوي دي. ژول ورن د خپلو آثارو د خپرولو له لارې ډېر بډای سو.

د محمود طرزي پر لیکنه باندي د ژول ورن د اثارو اغېزه ډېره څرګنده معلومېږي. لکه ژول ورن چې پخپلو داستاني آثارو کې لوستونکو ته د ساینس او تکنالوژۍ د پرمختیاوو، په انساني ژوند کې د هغو د اغېزو او د بشري ذهن د ارتقاء او بشپړتیا د برياوو په هکله رغېږي او خپل لوستونکي راتلونکي ته هیله من کوي، لکه ژول ورن چې په خپلو لیکنو کې د استعماري ځواکونو له خوا د ملتونو د اسارت پر ضد خپل لوستونکي راپاروي، محمودطرزي هم افغاني ټولني او افغانانو ته د علم او پوهې، ساینس

[۱۳]علمي - تخیلي ژانر په ادبیاتو کې یو نوی سبک دئ. پر دغه سبک باندي په لیکل سویو آثارو کې د تخیل عنصر له علمي توجیه ګانو سره داسې اخښلی بخښلی سوی وي، چې یو له بله یې بېلول ممکن نه وي. په علمي - تخیلي اثر کې یو لیکوال په حقیقت کې د انسان آرزوګاني او تمایلات بیانوي. د نړۍ زیاتره اختراعات واردواره په علمي - تخیلي ادبیاتو کې راښکاره سوي دي او بیا یې د عمل جامه اغوستې ده. د ژول ورن د علمي - تخیلي آثارو د نشر په وخت کې نه چا اوبتل په سترګو لیدلی و، نه یې هم د سمندر د تل (عمق) په باب دومره څېړني کړي وې.

[۱۴]شکم (د شین په سکون) = تل، ژورتیا، عمق.

او تخنیک، عصریت او مدنیت تلقین کوي او هغوی ته د (پرد) او (غیردین) د تحت الحمایګۍ پر ضد روحیه ورکوي. محمود طرزي ډېر پرکاره لیکوال و. ده د (سیاحت بر دورادور کرۀ زمین به هشتاد روز) په یوه میاشت کې وژباړه. د (جزیرۀ پنهان) ناول يې (۴۷۹مخه) د ترجمې د لومړۍ مسودې د ورکېدو له امله دوهم وار ترجمه کړ. ده دا کارونه د مادي منفعت په خاطر نه، بلکي د یوه تاریخي رسالت په حکم سر ته رسول. دی په دې باب لیکي : "این بندۀ عاجز ناتوان (محمودطرزی افغان) از ترجمۀ این آثار بدیعۀ ادبیه هیچگاه امید و آرزوی ثروت و توانگری رانکرده ام ... چیزیکه موجب شوق و هوس عاجزانه در خصوص ترجمه های آثار ادبیه وفنیۀ جدیده گردیده است این است که در خارج وطن مدت سی سال از عمر گرانمایه رابسر آوردم، به آموختن زبانهای غیر موفق شدم. عاجزانه تحصیل علوم و فنون جدیده را نمودم. لهذا نخواستم که محصولات فکریه و تحصیلیۀ خود را در مخزن دماغ در زیر انحصار و احتکار آورده افراد ملت نجیبم را و اولاد وطن عزیزم را ازان محروم گذارم. ارمغان سیاحت سی ساله ام را بنظر ارباب مطالعۀ وطن عزیزم تقدیم نمودن خواستم و به ترجمه های ناولهای فنی (ژول ورن) از ترجمه های ترکئی جناب احمد احسان بیگ یگان یگان پرداختم ... [۱۵]".



ژول ورن

[۱۵] جزیرۀ پنهان، ٦مخ.

محمود طرزي تر تورکي احمداحسان بیگ وروسته لومړنی لیکوال دئ، چي د ژول ورن آثار يې د شرق خلکو ته د دوی په ژبه وړاندي کړي دي. دی تر پورتنیو خبرو وړاندي لیکي : "در زبانهای غربئی اروپا نمیدانم، اما در زبانهای شرق ناول های فنی ژول ورن، تنها بزبان ترکی عثمانی ترجمه و نشرشده است ..." په دغه وخت کي، چي محمود طرزي د ژول ورن آثار د فارسي ادبیاتو پر گنجینه باندي ورزیاتول، دغه آثار، زما د معلوماتو له مخي، په اروپا کي تر انګرېزي او يو دوو محدودو ژبو پرته په نورو ژبو ژباړل سوي نه ول. په دې برخه کي فارسي ادبیات د پښتانه محمود طرزي د احسان مرهون دي.

لکه د ژول ورن د آثارو په شهرت گټلو کي چي د پییر ژول هتزل د مطبعې[16] رول زیات اغېزمن و، دغه راز د محمود طرزي د آثارو په نشر او تکثیر کي د (عنایت مطبعې) اغېزه ډېره ستره ده[(17)]. که له يوې خوا، دا محمود طرزي و، چي د وخت دربار يې د دغه شان آثارو خپرولو او هیواد ته د عصري مطبعې تاسیسولو ته هڅاوه، له بلي خوا د دربار او په سر سره د امیرحبیب الله خان او د هغه د زوی سردار عنایت الله خان معین السلطنه متجدد ذوق هم د محمودطرزي د مدني هڅو په ګړندي کولو کي اغېزمن و. دا حقیقت پخپله محمود طرزي هم هر وخت بیان کړی دئ.

محمود طرزي پخپل پیاوړي قلم باندي هغه سیاسي اختناق ترسیموي چي د هغه له امله زموږ د هیواد خورا ډېري کورنۍ له خپلي پلرنۍ مېني شخه وتلو ته مجبوري کړل سوي دي. دی د سیاحتنامې په يوه برخه کي د يوې شړلي سوي تورکۍ کورنۍ بیان کوي، چي د عبدالحمید خاني پولیسو له خورا د سختو مظالمو سره مخامخ سوې وه. محمود طرزي د دې بیان په لیکلو سره په حقیقت کي له ابايي وطن شخه د خپلي کورنۍ د شړلو جریان د لوستونکي ذهن ته ورننباسي. دی د دغه بیان په ترڅ کي وایي : "... زیرا محقق میدانم که مُنَفیان این زمان همان اشخاصیست که

[16] د پییر ژول هتزل مطبعې په باب وګورئ د همدې اثر ۱۳۵ مخ.

[(17)] عنایت مطبعه د امیرحبیب الله خان (سراج الملة والدین) په پاچهي کي د هغه د زوی سردار عنایت الله خان له خوا په کابل کي تأسیس سوه (۱۳۳۰ هـ ق = ۱۹۱۱ ع).

فدائی شرف و شان وطن هستند[۱۸]". او په دې ډول د ضیاء الملة والدین له استبداد څخه د سراج الملة والدین تر ږیره لاندې پرده پورته کوي او نړۍ ته یې رسوا کوي او چې رشتیا سي، ښه یې پورته کوي.

محمود طرزي د ژول ورن آثار د هغو له تورکي ترجمو څخه چې د احمد احسان بیګ له خوا ژباړل سوي وه، په فارسي ترجمه کړي دي. د احمد احسان بیګ هیواد، ترکیه په ۱۹ مه پېړۍ کې د یو لړ بنیادي او کلتوري بدلونونو شاهده وه او د هغو په نتیجه کې د اروپایي پراختیا غوښتني پر ضد خورا غښتلي کلتوري جریانونه پکښې منځ ته راغلل. که څه هم څېړونکو په عثماني مسلمانانو کې د دودیز (عنعنوي) او ماقبل عصري (pre-modern) او عصري (modern) کلتور تر منځ د بېلتون دقیقه نښه نه ده ټاکلې خو د عصریت او عصري کېدلو جریانونه په نونسمه پېړۍ کې چټک سول. په دغه وخت کې عثماني لیکوالو د ادبیاتو اروپایي ژانرونو ته مخه وکړه. په دغو نوو ژانرو کې، چې په عثماني امپراتوري کې منځ ته راغلل، د سفرنامې (travel literature) ژانر ډېر ښه وځلېدی. که څه هم په اسلامي ثقافت کې سفرنامه یو پوره پېژندل سوی ژانر و، خو د نونسمي پېړۍ عثماني منورینو دا خبره ردوله چې عصري سفرنامې د (رِحله) ادب ادامه ده[۱۹].

محمود طرزي د ژول ورن آثار هغه وخت په فارسي ترجمه کړي ول (۱۳۲۵ه ق)، چې ژول ورن لا له دې نړۍ څخه سترګې نه وې پټې کړې. خو د دې فارسي ترجمو چاپ هغه وخت ممکن سو، چې د اصلي لیکوال (ژول ورن) پر مړینه باندې څلور پنځه کاله اوښتي ول. دا ژباړې په ځینو اروپایي ژبو باندې د ژول ورن د آثارو تر ترجمو وړاندې سر ته رسېدلې دي.

د ژول ورن دغه لاندې آثار د محمود طرزي په قلم په فارسي ژبه ژباړل سوي دي:

---

[۱۸] سیاحت در سه قارهٔ ... ۵۴۸ مخ.

[۱۹] رِحله په لغت کې له یوه ځایه بل ځای ته کوچېدلو ته وايي. په ادبیاتو کې د سفر داستان او د هغه په جریان کې د مشاهداتو او لیدنو کتنو بیان ته (رحله ادبیات) وايي چې اوس ورته سفرنامه وايي.

محمود طرزي (۱۹۱۹ع)

(د امان الله خان د لومړۍ کابينې د نورو غړو سره)

سياحت بر دور ادور کرۀ زمين به هشتاد روز :

د دې ناول فرانسوي نوم (Le tour du monde en quatre-vingts jours) و، چې ژول ورن په ۱۸۷۳ع کال کې د (Hetzel) مطبعې له لاري خپور کړ.

د دې سياحت تګلوری له لندن څخه سويز ته، له سويز څخه بمبئي ته، له بمبئي څخه کلکتې ته، له هغه ځايه هانګ کانګ ته، له هانګ کانګ څخه يوکوهاما ته، له يوکوهاما څخه سانفرانسيسکو ته، له هغه ځايه نيويارک ته او له نيويارکه بيرته لندن دئ. دا سفر په اورګاډي او بېړۍ (steamer) کي سر ته رسېدلی دئ.

محمود طرزي دا ناول په ۱۳۲٦هـ ق = ۱۹۰۸ع کي له تورکي څخه په فارسي ترجمه کړئ و او په ۱۳۳۰ هـ ق = ۱۹۱۲ع کال يې د عنايت مطبعې له لاري چاپ کړ. دی وايي چې د ژباړي کار يې په دېرشو ورځوکي سر ته ورساوه[۲۰] تورکي ژباړه يې د احمد احسان په قلم سرته رسېدلې وه. د فارسي ژباړي ټول مخونه يې ۲۷٦ دي.

ما (هوتک) د ژول ورن د دغه ناول يوه بله فارسي ترجمه هم ليدلې ده، چي (دور دنيا در هشتاد روز) نومېږي او د ژباړي او چاپ کال يې زما په اخيستل سوي يادابښت کي نسته، ځکه کومه نسخه چي ما د دې ژباړي کتلې وه، د سر له خوا نيمګړې وه، لومړی، شپږمه، اوومه، لسمه، يوولسمه، دياړلسمه، څورلسمه پاڼه يې سپينه پاته وه او چاپ سوې نه وه، خو يقين مي دئ چي د محمود طرزي تر ژباړي به خورا ډېر کلونه وروسته سر ته رسېدلې وي. د دې ژباړي مترجم (ناظر نعمتي) نومېږي او ناشر يې (انتشارات مجرد – تهران) دئ. ناشر يې پخپل يادابښت کي د ژول ورن تر لندي پېژندني وروسته وايي چي : "به همين سبب است که تجديد ترجمه و نشر هر يک از آثار اين نويسندۀ گرانقدر و سرشناس جهانی، هنوز و باز هم، خدمتی است رواوشايسته به رشد و انديشه های مستعد و بارور...". له (تجديد ترجمه) څخه ما ته داسي څرګنده سوه چي له ناشر سره د دغه اثر د يوې بلې فارسي ترجمې په باب معلومات ول. دا چي دا ترجمه به د محمود

---

[۲۰] سياحت بر دورادور کرۀ زمين، ۲۷۵مخ.

طرزي ترجمه وه که کومه بله یوه، زه اوس څه نه سم ویلای.

سیاحت در زیر بحر:

دا ناول، چې په فرانسوي يې نوم (vingt mille lieues sous les mers) دئ، ژول ورن په ۱۸۷۰ع کال کې خپور کړی او ناشر يې هتزل دئ. د دې ناول کیسه د یوه خیالي شخص کپتان نمو Captain Nemo[۲۱] او د هغه د اوبتل (نوتیلوس Nautilus) په باب ده. کپتان نمو د ژول ورن په لومړۍ مسوده کې یو پولینډی مهاجر و، د پولینډ د تجزیې او د خپلې کورنۍ د وژلو د غچ اخیستلو په نیت راولاړ سوی و، خو د ناول د ناشر، هتزل په مشوره يې له هغه څخه یو هندی شهزاده جوړ کړ، چې د سکهانو تر جګړې وروسته د برتانوي امپراتورۍ پر خلاف جنګېدی. د هتزل له خوا دا بدلون ځکه پیشنهاد سوی و، چې ده نه غوښتل د فرانسې نژدې ملګری هیواد روسیه د دې ناول په خپرېدو باندې خوابدې کړي. د محمود طرزي په فارسي ترجمه کې، کپتان نمو د هند د مشهور جنګیالي سلطان ټیپو وراره ښوول سوئ دئ[۲۲].

دا ناول په ۱۸۷۲ع کې د (Lewis Mercier) له خوا په انګرېزي ژبه ترجمه سو او بیا وروسته په ۱۸۷۵ع کې W.H.G. Kingston له سره وژباړه ځکه د لویس مرسییر ژباړې ډېرې غلطۍ درلودې. نوې انګرېزي ژباړه يې

---

[۲۱] نمو لاتیني کله ده او د (هیڅوک) معنی لري. وايي ژول ورن د دې نامه په ټاکلو کې د یوناني هیومر پیروي کړې ده، ځکه د هیومر په اودیسه کې د ماجرا اتل اودیسوس ځان (اوتیک) بولي، چې په یوناني ژبه کې د (هیڅوک) په معنی کارېږي. (له انټرنیټ څخه).

[۲۲] وګ: جزیرهٔ پنهان، ۴۴۸مخ.

د ټیپو سلطان (۱۷۴۹– ۱۷۹۹ع) نوم فتح علي و. پلار يې حیدر علي سلطان (۱۷۲۲ – ۱۷۸۲ع) نومېدی، چې په ۱۷۶۶ع کال په هندوستان کې د میسور د پښتني نوابۍ د ریاست پر مقام ناست و. حیدر علي سلطان له انګرېزانو سره ډېرې جګړې وکړې او په همدې جګړو کې يې د شهادت درجه وګټله. تر ده وروسته يې زوی فتح علي (ټیپو سلطان) د پلار پر مسند کښېنوست. دی هم د پلار پر لار روان سو او د انګرېزانو په تېغ شهید سو. وګ: هیوادمل – زلمی، په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه، ۳۵مخ، د اردو انسایکلوپیډیا، طبع ۱۹۶۸ع، ۴۸۴مخ په حواله).

د والټر جیمس میلر (Walter James Miller) او فریدریک پال والټر (Fredrick Paul Walter) له خوا د ۱۹۸۹ او ۱۹۹۱ع کلونو تر منځ سر ته رسېدلې ده. دا ناول هم د فلم په شکل خپور سوی دئ.

محمود طرزي د دې ناول ترجمه د ۱۳۲۵هـ ق کال د محرم پر شلمه بشپړه کړې او عنایت مطبعې په ۱۳۳۲هـ ق = ۱۹۱۴ع کال چاپ کړې ده. فارسي ترجمه یې ۳۶۲ مخه ده. دا کتاب د عنایت مطبعې شپږم چاپ سوئ کتاب دئ، چې ترجمه یې د احمداحسان بیګ له تورکي ژباړې څخه سر ته رسېدلې ده. د لوستونکو د معلوماتو له پاره به بده نه وي، ولیکم چې د کتاب د پلورلو ځای یې (دکان بازمحمد کتاب فروش در بازار ارګ و از دکان ملا غلام محمد کتاب فروش متصل مدرسهٔ شاهی) ښوولی دئ. بیه یې دوې کابلۍ روپۍ وې. د شاهي مدرسې شاوخوا اوس هم د کتاب پلورونکو یو دوه دوکانه لري.

جزیرهٔ پنهان :

د جزیرهٔ پنهان نوم په فرانسوي ژبه کي (LILE MYSTERIEUSE) و. د انګرېزي ژباړې نوم یې (Mysterious Island) دئ. دا ناول، چې په حقیقت کي د (سیاحت در زیر بحر) ادامه ده، د (قضازده ګانو) د یوې ډلې بیان دئ چې په یوه ناپېژندل سوې ټاپو کي یې ځانته یوه کوچنوټې ټولنه جوړه کړې وه. دا ډله په یوه بالون کي د امریکا د ویرجینیا ایالت له ریچمنډ نومي سیمې څخه د امریکا د کورنۍ جګړې په وخت کي تښتي. د دوی بالون یوې ټاپو ته نږدې سقوط کوي. د دوی یو غرق سوی ملګری د یوه نامعلوم شخص له خوا له اوبو څخه راایستل کېږي او دارو درمل ورکول کېږي. دې ډلې ته وروسته څرګندېږي چې دا شخص (کپتان نمو) دئ، چې تاسي یې له نامه سره د (سیاحت در زیر بحر) د ښوولو په ترځ کي اشنا سوي یاست.

علامه محمود طرزي د دې ناول د ژباړې له لاري که له یوې خوا لوستونکي د علم او تخنیک له ښېګڼو سره اشنا کوي، له بلې خوا هغوی ته استعماري ضد روحیه هم تلقینوي.

محمود طرزي وایي، چې دا ناول یې د ۱۳۲۴هـ ق کال په پای کي په

فارسي ژبه ژباړلی و او پوازي یې یوه قلمي نسخه له ځان سره خوندي کړې وه. دا نسخه ځني ورکه سوه او ده دوهم وار د هغې ترجمې ته ملا وتړله. په دې برخه کي دی لیکي، چي "ارباب ترجمه و تحریر انکار نخواهند فرمود که عیناً یک اثر را دوبار ترجمه کردن تا چه درجه بر طبیعت و ذهن شاق و دشوار می آید !...[۲۳]".

د سیاحت در زیر بحر او جزیرهٔ پنهان ناولونه ځیني رسامۍ هم لري، چي د هیواد د نامتو انځورګر غلام محمد میمنګي په قلم رسامي سوي[۲۴].

سیاحت در جو هوا:

(سیاحت در جو هوا) ما ډېر پخوا لوستی و. اوس یې کومه نسخه راسره نسته. محمود طرزي د هغه په باب[۲۵] داسي لیکي: "این کتاب یک ناول بسیار مفید فنی است که موضوع آن آموختن فن ماشین های طیار و معلومات طبیعی تبدلات هوائی است، که بسیار شیرین و مرغوب یک ناولیست. این کتاب نیز از تألیفات ژول ورن فرانسوی است".

---

[۲۳] جزیرهٔ پنهان، ۸ مخ.

[۲۴] علامه حبیبي په جنبش مشروطیت در افغانستان کي لیکي: پروفیسور غلام محمد خان میمنګي د عبدالباقي خان زوی او په میمنه کي د ازبکانو یوې مشهوري کورنۍ ته منسوب و. دې کورنۍ د امیر عبدالرحمان خان له کورنۍ سره هم خپلوي درلوده. میمنګي د مشروطیت غورځنګ په لومړۍ ډله کي شامل و. د ده هنري آثار او کاریکاتورونه په سراج الاخبار کي چاپ سوي دي. دی د لومړي مشروطیت په ډله کي د غړیتوب په تور بندي سو او د اماني دورې په سر کي له بنده خوشي او برلین ته د هنري تحصیلاتو د دوام له پاره ولېږل سو. وفات یې د ۱۳۱۳ ش کال د لېندۍ پر څورلسمه پېښ سوی دئ او د کابل د عاشقان و عارفان په هدیره کي ښخ دئ.

[۲۵] سیاحت در زیر بحر، ۳۶۴ مخ.

محمود بیګ طرزي او سردار عنایت الله خان (۱۹۰۹ع)

د محمود طرزي د آثارو بشپړ لیست[۲۶]

۱- مجموعهٔ صنایع :

دا د کلاسیکو فارسي شاعرانو یوه تذکره ده، چې په پنځو سوو مخو کې په کراچي کې راغونډه کړې ده (۱۳۰۰هـ ق = ۱۸۸۳ع). خطي نسخه یې د مؤلف پخپل خط د ده د مشر زوی عبدالوهاب طرزي په کتابتون کې خوندي وه.

۲- گزیده های از شعرهای غلام محمدخان طرزی :

د سردار غلام محمد خان د اشعارو غورچاڼ دئ، چې د محمود طرزي په انتخاب راغونډ سوی دئ.

۳- مجموعهٔ اخلاق :

دا کتاب یې په دمشق کې د جلاوطنۍ پر وخت کښلی و (۱۳۰۵هـ ق = ۱۸۸۸ع) خطي نسخه یې د اروابناد محمدصالح پرونتا په کتابتون کې خوندي وه او د همدې نسخې له مخې د کابل په دولتي مطبعه کې چاپ سوئ و.

۴- دیباچهٔ دیوان غلام محمد خان طرزی افغان :

د دې اثر بشپړ نوم (دیباچهٔ دیوان سراسر عنوان در ذکر شمهٔ از احوال سردفتر اهل زبان، سخن فهم نکته دان جناب طرزی صاحب افغان طول عمره) دئ، چې د نوموړي دېوان په سر کې راغلی دئ. ټول مخونه یې ۱٦ دي. د دغه دېوان بشپړه پېژندنه د همدې اثر په (۱۴۹ مخ) کې ولولئ.

۵- سیاحتنامهٔ درِ سعادت؟

په دې کتاب کې یې سلطان عبدالحمیدخان ته د سردار غلام محمد خان طرزي د اخلاق حمیدیه کتاب د وړاندي کولو په خاطر د سفر خاطرات

---

[۲۶] د دې لیست په برابرولو کې زما پر خپلو یاداښتو سربېره له ویبپاڼې څخه هم استفاده سوې ده. د کتابو د لیست ترتیب د همدې ویبپاڼې د ترتیب له مخې تاکل سوی دئ.

ليکلي دي. دا سفر په ۱۳۰٦هـ ق = ۱۸۸۸ع کي سوی و[۲۷]. د کتاب ټول متن په لاس کي نسته خو يو فصل يې په (از هر دهن سخنی و از هر چمن سمنی) کي خوندي دئ.

٦ – سياحتنامهٔ سه قطعهٔ روی زمين در ۲۹ روز :

دا کتاب د هغه سفر بيان دئ، چي محمود طرزي له خپل پلار سره يو ځای په ۱۳۰۸هـ ق کال سر ته رسولی و. د علامه پلار سردار غلام محمد خان طرزي په دغه کال حج ته روان او محمود طرزي ورسره تر سکندريې پوري ملګری و. دغه سياحتنامه په ۱۳۳۳هـ ق = ۱۹۱۵ع کال د کابل په عنايت مطبعه کي چاپ سوې ده او ما (هوتک) په همدې کتاب کي ښه ډېره استفاده ځني کړې ده.

۷ –از هر دهن سخنی و از هر چمن سمنی :

دا کتاب په ۱۳۳۱هـ = ۱۹۱۳ع کال د عنايت مطبعې له خوا په کابل کي چاپ سوی دئ. د کتاب په سر کي د معين السلطنة عنايت الله خان په لاسليک درې مخه مقدمه لري او ورپسې په بېلابېلو موضوعاتو کي لنډې لنډې مقالې دي. لومړۍ مقاله د (ادبيات) تر سرليک لاندي او وروستۍ يې (بهار را دوست دارم) ده. د کتاب ټول مخونه ۲٦۸ دي او په پای کي يې ۴ مخه فهرست چاپ سوی دئ. د کتاب د کاغذ رنګونه سپين، خړ، ژړ، زرغون او سور دي.

۸ –روضهٔ حکم :

دا کتاب هم د عنايت مطبعې له خوا په ۱۳۳۱هـ ق = ۱۹۱۳ع کال چاپ سوی دئ. په سر کي د معين السلطنة له خوا دوه مخه مقدمه لري. روضهٔ حکم د محمود طرزي له خوا په ۱۳۰۸هـ ق په دمشق شام کي ليکلی و. دا کتاب تر ديباچې وروسته د (فضايل علم، حکمت، معرفت) په نامه باندي پيل کېږي. په پای کي يو مخ فهرست لري. د کتاب ټول عنوانه ۲۹ دي او ټول کتاب ۱۵۸مخه دئ.

۹ – تلخيص حقوق بين الدول :

له تورکي ژبې څخه په فارسي ژباړل سوی او ويل کېږي چي امير

---

[۲۷] وګ : د همدې کتاب ۷۹ مخ.

عبدالرحمن خان ته استول سوی و.

۱۰ – مطالعات صحیه :

دا کتاب هم له تورکي څخه په فارسي اړول سوی و. وایي چي خطي نسخه یې د اروانباد صالح پرونتا په کتبخانه کي خوندي وه.

۱۱ – سوانح زندگی :

دا اثر یې د ځینو تورکي دوستانو په غوښتنه په تورکي ژبه کښلی و. د ده مشر زوی عبدالوهاب طرزي په فارسي ترجمه کړی دئ.

۱۲ – رسالهٔ اغذیه :

دا رساله یې د امیر حبیب الله خان په غوښتنه له تورکي ژبي څخه په فارسي ژبه اړولې وه (د ۱۹۰۷ع شاوخوا). خطي نسخه یې د عبدالوهاب طرزي په کتابتون کي ساتله سوې وه.

۱۳ – علم و اسلامیت :

دا رساله د سراج الاخبار د ضمیمی په توګه د (کتاب اول، هدیه سراج الاخبار) په نامه د (الحاج عبدالخالق پسر طرزی مهتمم چهاپه خانه دارالسلطنه کابل) په اهتمام خپره سوې ده (۱۳۳۰ هـ ق = ۱۹۱۲ع). په سر کي پنځه مخه دیباچه لري او وروسته یې متن شروع کېږي چي ټول ۶۴ مخه دئ.

۱۴ –آیا چه باید کرد؟

دا رساله هم له سراج الاخبار سره مل چاپ سوې وه (۱۳۳۰هـ ق = ۱۹۱۲ع). ټول مخونه یې ۱۵۹دي.

۱۵ –توحید خالق یگانه بزبان موالید ثلاثه :

له (موالیدثلاثه) څخه مراد نباتات، جمادات او حیوانات دي. دا فارسي منظومه د سراج الاخبار د دریم کال هدیه او په ۱۳۳۲هـ ق = ۱۹۱۴ع چاپ سوې ده. دا منظومه په ۱۳۲۹هـ ق کال په جلال آباد کي ویل سوې ده او په هغې کي تر (موالیدثلاثه) وروسته د (حکایت بر سبیل تمثیل) تر نامه لاندي هغه کیسه راغلې ده، چي وایي په یوه ځنګله کي ټول حیوانات د انسان له لاسه په غوغا زمري ته ورغلل او زمری د حیواناتو د ژغورني په نیت له انسان سره مخامخ او د هغه په تدبیر په قفس کي واچول سو. د دغي کیسې تصویر غلام محمدخان رسام کښلی او د کتاب په پای کي ورسره

مل سوی دئ. ټوله منظومه ۳۷ مخه ده.

۱۶- **مختصر جغرافیه :**

د سراج الاخبار د شلرم کال هدیه ده او د چاپ کال یې ۱۳۳۳هـ ق دئ. په دې کتاب کې هغه لکچرونه راغونډ سوي دي، چې د (مکتب حربیه سراجیه) د تأسیس په لومړي کال د دغه مکتب زده کوونکو ته د محمود طرزي له خوا ورکړه سوي ول. ټول کتاب ۷۲مخه دئ او په منځ کي نقشې هم لري.

۱۷ - **رسالۀ نقطه گذاري :**

د دې اثر یادونه د ارواښاد صالح پرونتا له خولې سوې ده.

۱۸- **معلم حکمت :**

د سراج الاخبار د پنځم کال هدیه او په ۱۳۳۴هـ ق =۱۹۱۶ع کال خپره سوې ده. د کتاب ټول مخونه ۱۰۴ دي او په پای کي د محمود طرزي نامه ته (فی ۱۴شعبان ۱۳۳۴) نېټه لیکل سوې ده.

۱۹ - **وطن و معانی متنوعه و محاکمات حکمیه آن :**

د سراج الاخبار د شپږم کال هدیه او په ۱۳۳۵هـ ق = ۱۹۱۷ع کي چاپ سوې ده. په سر کي ۷مخه مقدمه لري او په هغې کي د وطن په یاد دغه لاندي بیتونه راوړل سوي دي، چي له وطن سره د مینې شدید احساس پکښې بیان سوی دئ :

باز هوای چمنم ارزوست
کابل جنت وطنم ارزوست

یا:

در غربت اگر مرگ بگیرد بدن من آیا که کَنَد قبر و که دوزد کفن من
تابوت مرا بر سر کوهی بگذارید تا باد برد بـوی مرا در وطن من

۲۰ -**سیاحت بر دورادور کرۀ زمین به هشتاد روز :**

وګ : د همدې کتاب ۱۲۱ مخ.

۲۱ - **سیاحت در جو هوا :**

وګ : د همدې اثر ۱۲۴ مخ.

۲۲ - **بیست هزار فرسخ سیاحت در زیر بحر :**

وګ : د همدې اثر ۱۲۲ مخ.



محمود طرزي (۱۹۲۰ع)

(د میسور په کنفرانس کي د افغاني هیئت د غړو سره)

۲۳ - **جزيرهٔ پنهان :**

وګ : د همدې کتاب ۱۲۳ مخ.

۲۴ - **تاريخ محاربهٔ روس و ژاپن :**

د روس او جاپان د ۱۹۰۴ - ۱۹۰۵ع کلونو د جګړې تاريخ چې په پنځو ټوکو کې له تورکي څخه په فارسي ژباړل سوی او عنايت مطبعې په کابل کې چاپ کړی دئ.

لومړی ټوک له فهرست پر ته ۲۹۲ مخه او په ۱۳۳۴هـ ق چاپ سوی دئ.

دوهم ټوک ۲۵۶ مخه او په ۱۳۳۴هـ ق کال چاپ سوی دئ.

دريم ټوک يې زما تر نظر نه دئ تېر سوی.

څلرم ټوک ۳۱۴ مخه او په ۱۳۳۶هـ ق کال چاپ سوی دئ.

پنځم ټوک ۳۰۵ مخه او په ۱۳۳۶هـ ق کال چاپ سوی دئ.

۲۵ - **نامهٔ محمود طرزی به امان الله خان :**

د امان الله خان په نامه يو ليک دئ، چې په ۱۹۲۲ع کال د دسمبر پر دوهمه يې له پاريس څخه ورلېږلی دئ او په هغه کې يې د هغه وخت د نازکو حالاتو په باب خپل نظريات بيان کړي دي. د دې ليک اصل د مرحوم صالح پرونتا په کتابتون کې خوندي و.

۲٦ - **ياداشتها :**

د ۱۹۱۹- ۱۹۲۸ع کلونو خاطرات دي، چې لاسکښلې نسخه يې د عبدالوهاب طرزي په کتبخانه کې ساتله سوې وه.

۲۷ - **سياحتنامهٔ استانبول :**

خطي نسخه يې له عبدالوهاب طرزي سره خوندي وه.

۲۸ - **سياحتنامهٔ منظوم :**

دا سياحت نامه محمود طرزي د پلار تر مړيني وروسته په ۱۳۱۸هـ ق کې له شام څخه تر استانبول پوري د سفر په باب ويلې ده او نوم يې (سفر بعد از وفات پدر) پر ايښی و. د دې نسخې يوه کاپي يې د عثماني ترکيې داخله وزير او بله يې د معارفو وزير ته لېږلې او د معارف وزير يې د چاپ اجازه هم ورکړې وه خو د ځينو مشکلاتو له امله چاپ نه سوه او علامه طرزي چې کله د وطن پر لور د راتګ پر مهال هندوستان ته ورسېد، په لاهور کې يې د هغې يوه نسخه د (پيسه اخبار) مدير (محبوب عالم صاحب)

ته د هغه په غوښتنه د نشر له پاره سپارلې وه. کابل ته تر رسېدو وروسته، محمود طرزي د هغې د خپرېدو اراده پخپله وکړه او له لاهور څخه يې نسخه راوغوښتله خو وايي چي له بيا بيا احوال لېږلو سره سره يې نسخه لاس ته ورنغله او له ناچارۍ څخه يې هغه څو بيته چي په حافظه کي پاته وه، د خپل بل اثر (پراګنده) په ۱۵مخ کي خپاره کړل. د دغي خپرې سوي برخې څو بيته داسي دي:

بعد از ثنا و حـــــمد خداوند لايزال
گـــــــويم ترا زقصه احوال پر مــلال
چــــــرخ فلک بما سر نيرنگ کـرد باز
مـــــحروم ساخت ديده زديدار دلـنواز
يعنی که بُد مرا پدری مــــــهرپروری
مشفق بُد و رحيم بُد ولــــطف گستری
هـــــم شاعر و اديب و حکيم و دبير بود
اندر وطن وزيـــــــر بُد و يا امـــير بود

....

در لـــيله برات و شب جـــــمعه از سـنين
بُد يکهزار و سه صد و هجده که شد قرين
با رحمت اله رحـيم و کــــــريم خـويش
رفت از جـهان بسوی جنان نـعيم خـويش

۲۹ – افغانستان، اثر منظوم يا جغرافيه:

په ۱۳۲۳هـ ق = ۱۹۰۵ع کال په کابل کي ويل سوې ده.

۳۰ – ادب در فن يا محمود نامه:

د فارسي نظمونو مجموعه ده، چي په ۱۲۹۲هـ ق = ۱۹۱۳ع کال عنايت مطبعې چاپ کړې ده.

۳۱ – شعر های بدون عنوان:

د امان الله خان په وخت کي د ويل سوو شعرونو مجموعه ده. نسخه يې له عبدالوهاب طرزي سره خوندي وه.

۳۲ – پراګنده:

د اشعارو مجموعه او په ۱۳۳۲هـ ق کال چاپ سوې ده، چي د شاعر

وروستی شعر هم پکښې خوندي دئ[۲۸]. دلته هم پر وقایه باندي د چاپ سنه ۱۳۳۲ ښوول سوې ده خو د معین السلطنة سریزي ته (غره رجب المرجب ۱۳۳۳) نېټه ورکول سوې ده. دا مجموعه یو ترجیع بند لري چي په تورکي ژبه (ضیاپاشا) ویلی و او محمود طرزي په عین ترتیب سره په فارسي نظم ژباړلی دئ. (پراګنده) ۱۴۴ مخه لري او له فهرست، غلطنامې او د عنایت مطبعې له اعلانو سره یې د مخونو شمېر ۱۶۰ کېږي.

۳۳ - شعرهای غربت :

د جلاوطنۍ د وخت شعرونه.

۳۴ - ژولیده :

د اشعارو مجموعه.

۳۵ - پژمرده :

شعري مجموعه.

۳۶ - دیدنی ها و شنیدنی ها :

۳۷ - ادب در فن :

دا اثر، چي د خپرېدو د نېټې له خاطره مي باید د لیست په سر کي راوړی وای، په ۱۳۳۱هـ ق کال په حروفي چاپ خپور سوی دئ. اصل نوم یې (ادب در فن یا محمودنامه) او فرعي نوم یې (دیوانچه غزلیات محمود طرزی به ترتیب ردیف) دئ. په مقدمه کي یې د فارسي (پنج کتاب) د محمودنامې او د همدې محمودنامې تر منځ پر توپیرونو رڼا اچول سوې ده. ټول کتاب ۴۵ مخه کېږي. لومړی غزله یې تر (حسن ابتدا) وروسته (رفوچکرهوا)[۲۹] او وروستی یې د (ترقی) تر سرلیک لاندي ده. داسي ښکاري چي محمود طرزي لومړی غزله د (جلال) نومي شاعر په پیروۍ ویلې ده. د غزلي څوبیته داسي دي :

---

[۲۸] د علامه محمود وروستی شعر، چي تر هغه وروسته یې بیا شعر نه دئ ویلی، دا دئ :

شمعیم که جامد شدهٔ شعله و داغیم

سردیم چو کافور، ولی درد سراغیم

ده افغانان، دار السلطنهٔ کابل ۱۳۳۳هـ ق

[۲۹] د (اب رفوچکرهوا) اردو عبارت معنا دا چي (اوس له سترګو نیهام سوي دي).

گرچه آن پیشین زمـــــانه، اب رفو چــکر هــوا
و ان هــــــمه نقل و فسانه، اب رفو چــکرهوا
لیـک خـوبی و بدی هـــــرگز نشد پنهان بدهر
چشمــــــــهای عــبرتانه، اب رفو چــکرهوا

....

گفت محمود اینسخن راچون (جلال) خوش مقال
خـــــواب غفلت رافِسانه، اب رفو چــکرهــوا

زه (هوتک) د محمود له آثارو سره په نهه کلنۍ کي مخامخ سوی یم. زموږ په کور کي د محمود طرزي (سیاحت در زیر بحر)، (جزیرهٔ پنهان)، (پراگنده)، (از هر دهن سخنی و از هر چمن سمنی) او ځیني نور آثار موجود ول. زه واردواره د محمود طرزي آثارو ته د فارسي ژبي د زده کولو له اسیته تشویق سوی وم. خو وروسته مي د هغه له ترجمو سره د زړه مینه هم پیدا سوه. د دې ترجمو سره مي علاقه دومره زیاته سوه، چي د څلوېښتمو شمسي کلونو په ترڅ کي مي په پښتو باندي د (جزیرهٔ پنهان) ناول ترجمه پیل کړه خو بشپړه مي نه کړه او ترجمه سوي پاڼي مي هم له لاسه ووتلې. ښاغلي جهاني د دې خبري یادونه په یوه راډیویي پروګرام کي کړې ده.

د احمد احسان بیګ په باب څو خبري

احمد احسان بیګ د عثماني ترکیې له منورینو څخه و او د (ثروت فنون) په نامه یې یوه مصوِره جریده چلوله. ده په لومړي سر کي په یوه حکومتي دایره کي د کاتب په توګه کار کاوه او د میاشتي یې دوه پونډه تنخواه اخیستله. څه موده وروسته د ژول ورن د آثارو د ترجمې فکر ور پیداسو او (Le Tour du Monde en quatre-vingts jours) یې له فرانسوي څخه په تورکي ژبه ترجمه کړ. دا ژباړه یې د استانبول په یوه مطبعه کي چاپ کړه او په لږ موده کي یې دوه درې زره ټوکه وپلورل. په دې پیسو یې یوه کوچنوټې حروفي مطبعه تأسیس کړه او د ژول ورن د نورو آثارو د ژباړو له لاري یې دومره ثروت راغونډ کړ، چي د محمود طرزي په قول، احمداحسان بیګ د پنځلسو، شلو زرو پونډو په پانګه د یوې ستري مطبعې

ښښتن سو[۳۰].

د ژول ورن د آثارو د خپروونکي هتزل په باب

پییر ژول هتزل (۱۸۸۶-۱۸۱۴) Pierre-Jules Hetzel د فرانسې يو مشهور ايديتور او خپروونکي و. په ۱۸۷۳ ع کال يې يوه خپروونکې مؤسسه تأسيس کړه او د خپل وخت د ډېرو مشهورو ليکوالو، لکه ويکتور هوګو، بالزاک، اميل زولا آثار يې د همدې خپروونکي موسسې له لاري خپرول. خو ده د ژول ورن د آثارو د فوق العاده ښکلي او مصور چاپ له لاري ډېر شهرت وګاټه. د ژول ورن هغه آثار چې د هتزل له خوا خپاره سوي دي، اوس هم ډېر پېرودونکي لري. دا موضوع، چې آيا پيير ژول هتزل د ژول ورن د شهرت سبب سو او که د ژول ورن د آثارو له بر کته د هتزل مؤسسه په نړيوالو باندي وپېژندل سوه، تر ننه پوري لا هم د پوهانو تر منځ د بحث وړ مسئله ده.

په تبعيد کي له پښتنو سره اړيکي

د محمود طرزي پلار او نيکه په کندهار کي اوسېدل او ټول ژوند و ژواک يې د کندهاريو پښتنو و. خو د کورنۍ هغه غړي يې چې په کابل کي اوسېدل، پخپلو منځو کي په پارسي رږغېدل او د ټولو پښتو زده وه. کله چې به يې اړتيا احساس کړه، په پښتو يې خبري کولې. پخپله محمود طرزي هغه راز پښتو ويله، لکه کابلي سوي پښتانه چې يې وايي. زه به د کتاب په دې برخه کي د ده له سياحتنامې څخه يوه په زړه پوري کيسه رانقل کړم.

محمود طرزي چې کله په شام کي اوسېدی، ډېره هڅه يې کوله چې له مهاجرو افغانانو سره تګ راتګ ولري. دی پخپله سياحتنامه کي له يوه مهاجر پښتون سره د خپلي ليدني کتني بيان کوي. دا سړی ملا جلندر نومېدی او په (يافه) کي اوسېدی[۳۱]. ملا جلندر د ده د پلار اشنا و. د

---

[۳۰] جزيرهٔ پنهان، ۷ مخ.

[۳۱] يافه د بيت المقدس په شا وخوا کي د يوه بندر نوم دئ.

سیاحتنامې له مخې، محمود په ملا جلندر پسې د افغانانو د اوسېدنې سیمې ته ورځي او هورې له یوه بل افغان څخه د ملا جلندر پوښتنه کوي. دا افغان پر محمود باندې د تورکي خیال کوي او خپل ملګري، شهاب الدین ته ور بږغ کوي.

محمود طرزي د دغه کندهاري پښتانه مکالمه پخپله سیاحتنامه کې په پښتو ژبه داسې رانقل کړې ده :

– "شاه بدین ! ته راسه وګوره چه دا ترک څه وایي زه نه پوهیژم !"

محمود ورته وایي :

– "زه پشتون یم په پشتو استاسر خبوري کوم څه راز نه پوهیژی؟"

هغه جواب ورکوي :

–"څه پوهیژم چه لک تا غندی چارچشمه پشتنو هم پیدا کیژی ! په خبر ده پوه شوم چه ملا جلندر آخند دی غوشت بیا باور می نشو چه تاسو په پشتو خبر کوی!"[۳۲].

وروسته نو د نوموړي شهاب الدین ساګزي[۳۳] او ملاجلندر سره ښه اوږد مجلس کوي. دی د ملا جلندر په باب لیکي :"ملا صاحب یک شخص افغان بسیار صالح و پرهیزګار و عالم فاضل یک شخصیست. از بسیار سالهاست که از وطن خود برآمده و اکثر عمرخود را در زاویۀ همین تکیۀ افغانهای یافه بصیغۀ شیخی بسر آورده است ..."[۳۴].

محمود طرزي په استانبول کې دیوه بل پښتانه اشنا یادونه لري، چې صادق افندي نومېږي. د دې سړي اصل نوم میرزا محمدصادق اخند زاده او د ملا شیرمحمد کندهاري زوی و. د ده په باب د محمود طرزي خپل بیان داسې دئ: "... مقصدم این بود که دوست خود (صادق) افندیرا که در

---

[۳۲]سیاحتنامه، ۶۵۳ مخ.

[۳۳] ما (هوتک) اورېدلي دي، چې دغه ملا شهاب الدین ساګزی د ملا محمد سرور ساګزي پلار و او ملا محمدسرور ساکزی د امیرحبیب الله خان (سراج المله والدین) په دربار کې شامل سړی او د ملا فیض محمد کاتب هزاره استاد کاتب یې په سراج التواریخ کې په درناوي سره یادونه کوي.

[۳۴]هماغه اثر، ۶۵۴ مخ.

سمت استانبول و محلهٔ (چنبرلی طاش) اقامت دارد ملاقات کنم. این صادق افندی، میرزا محمدصادق اخندزاده پسر ملا شیرمحمد قندهاریست. هر گاه بخواهم که ترجمهٔ احوال او را درینجا بنویسم که دو جلد کتاب مستقل نوشته کنم. زیرا این شخص بسن جوانی از وطن خود قندهار، ترک دار و دیار کرده به ایران آمده است و درینوقت تخمیناً پنجاه ساله یک آدمی میباشد. نصف این عمر غربت خود را یعنی تقریباً پانزده سال حیات گرانبهای خود را در ایران، و نصف دیگر آنرا در استانبول بسر آورده که هر یک ازین دو عمر او یک یک جلد کتاب میخواهد. عالم، فاضل، شاعر، فلسفی، کیمیوی، صنعتکار، خطاط یک ذاتیست[٣٦]".

ملا شیرمحمد قندهاری چې علامه محمود طرزي يې د خپل دوست صادق افندي د پلار په توګه راپیژني، هماغه د پښتو ژبې شاعر او د زیاتو آثارو څښتن ملا شیرمحمد هوتک دئ، چې د لوی احمدشاه بابا د علمي مشاور ملاشاهو اخند (مشهور په ملا ارادت) زوی و[٣٧].

****

علامه محمود طرزي جامع الکمالات شخصیت درلود. عالم و، سیاست پوه و، فلسفي و، شاعر و، خطاط و او د دې پرڅنګ هنر دوست و. په موسیقي پوهېدی. ده په خپله مشهوره مقاله (حی علی الفلاح) کې لیکلي وه :

صبح شد برخیز، ســـــاز راستی آســا نواز
شام حرمان در عقب باشد، چو وقت از دست شد

(آسا) د موسیقۍ هغه مقام دئ، چې د سپېدو چاودلو پر مهال ویل کېږي او په (شام) کې ادبي تلازم پروت دئ او ذهن ته د (شام کلیان) مقام تداعي کوي.

دوهم بېلتون :

محمود طرزي په ۱۳۰۷هـ ش کال د جدي پر ۲۴ مه (فبروري ۱۹۲۹ع)

---

[٣٦] سیاحتنامه، ۲۵۳مخ.

[٣٧] د ملا شیرمحمد هوتک په باب وګورئ : سل بګړی یو پوړنی، د لیکونکي اثر، ۱۲۵ مخ.

له کابل څخه کندهار ته ولاړ. په کندهار کي يې لس ورځي تېري کړې، په داسي حال کي چي مېرمن او زامن يې ورسره ول، په الوتکه کي هرات او ورپسې ایران ته ولاړ. له ایران څخه يې د ۱۹۲۹ع کال د اکتوبر پر ۲٦مه (۲۱محرم ۱۳۴۸هـ ق) حرکت وکړ او د پخواني شوروي اتحاد د باطوم له لاري يې ترکیې ته پناه یووړه او په استانبول کي مېشت سو[۳۸]. علامه حبیبي د هغه افغاني پیلوټ له خولې، چي محمود طرزي او کورنۍ يې هرات ته رسوله، لیکي چي محمود طرزي په دغه وخت کي ډېري اوښکي تویولې او له ځان سره يې دا پښتو بیت زمزمه کاوه :

دا ستاپه مینه په شپو شپو زه کـــړېدلی یمه
اوس دي پرېږدمه چي انګرېز درته غندلی یمه

پیلوټ وایي چي ده ویل : دا بیت د ده استاد ملا محمداکرم هوتک له هیواد څخه د وتلو پر وخت ویلی و او دوهمه مصرع يې داسي وه (چي رویبار درته غندلی یمه).

له وطن څخه د وتلو درد موږ افغانانو په دې تېرو درو لسیزو کي پر خپل هډ و پوست احساس کړی دئ. الامان له دې درده !

علامه حبیبي لیکي : "... گویا وی در زندگانی خود ملهم بود، که مرگش در فراق وطن عزیزش واقع میشود و گفته بود:

در غربت اگـر مرگ بگیرد بدن مـن
آیا که کنَد قـــبر و که دوزد کفن من
تابوت مرا بر سر کـوهی بگذارید !
تا باد وزد بـــــر سر آن از وطن من

بعید نیست که بقدردانی نسل جدید افغان از خدمات گرانمایه اش بوطن، وقتی عظام رمیم او را مانند استادش سید جمال الدین افغانی، بوطن باز آرند، و او را در دل پوهنتون کابل، در کنار سید مذکور آرامگاه ابدی بخشند:

---

[۳۸] حبیبي، عبدالحی (پوهاند) جنبش مشروطیت، ۱۱۲مخ.
عزیزالدین وکیلي لیکي چي له ایران څخه د کښتۍ په واسطه د بمبئي له لاري استانبول ته ولاړ؟ سفرهای غازی امان الله شاه، ۳٦۲مخ.

"تا باد وزد بر سر او از وطن او[۳۹]"

محمود طرزي د ژوند په وروستيو شپو کي ناراضه ښکاري او د وطن او نړۍ حالات پر خپل زړه برابر نه ويني. دی وايي :

از صلح عمومی چه کنی هرزه سرایی
ای نوع بشر صلح نباشد بنهادت
از جنگ عمومی سخنی گوی چو (محمود)
تا آب حیاتی بشناسد مدادت

کابل : ۱۵ رجب ۱۳۳۰ هـ ق - (پراگنده، ۸۴ مخ)

يا :

گر دست دهد کتاب و شاهد | بایک می کهنه صفاناک
گاهی نروم به پیش زاهد | آن زاهد خشک پر خطرناک
تنهائی و یار و شیشه می | بهتر ز قصور خسرو و کی

جلال آباد، ۱۳۲۹ هـ ق - (پراگنده، ۷۲ مخ)

له بده مرغه، زموږ د هیواد زیاتره فکور وطندوستان د زماني له ناخوالو څخه بالآخره همدې نتيجې ته رسېدلي دي.

د محمود طرزي کورنۍ :

محمود طرزي په دمشق کي د شيخ محمدصالح مسديه (صالح افندي) له لور (اسماء رسميه) سره په ۱۳۰۸ هـ ق کال واده وکړ. تر دې وړاندي يې له يوې بلي نجلۍ سره د میني ډېر سخت کړاوونه تېر کړي ول. دا مينه ثمر ته ونه رسېدله او په ناکامۍ سره پای ته ورسېده. سردار غلام محمد خان طرزي يو وخت خپل زوی محمود طرزي ته د دې ميني په باب داسي يادونه کړې وه : "ازان عشق طاقت فرسا، که بمرگت رسانیده بود محض بقوهٔ معنوئی روحانیت حضرت یحیی علیه السلام ترا رهایی داده توانستم. زیرا زوجهٔ که برایت گرفته ام هدیه ایست که حضرت نبی حضور آنرا به من برای تو عطا نموده، و بواسطهٔ آن ترا از دام عشق آن معلومهٔ کافره

---

[۳۹] جنبش مشروطیت، ۱۰٦ مخ، د ۱۳٦۳ ش چاپ.

که به هلاکت رسانیده بود، رهانیدم[۴۰]".

د محمود طرزي خسر شیخ محمدصالح مسدیه له خپل زوم سره کابل ته راغی. دی د امیرامان الله خان تر پاچا کېدو دوې میاشتي وروسته د ۱۳۳۷هـ ق = ۱۹۱۸ع کال د رجب د میاشتي پر اتمه د شنبې په ورځ په کابل کي مړ سو او د کابل په قول آبچکان کي خاورو ته وسپارل سو. پر جنازه باندي يې امان الله خان حاضر و. د شیخ محمدصالح مسدیه زوی محمد ادیب خان په اماني دوره کي د امانیه مکتب مدیر و. د محمود طرزي مېرمن اسماء رسمیه په ۱۳۲۴ ش = ۱۹۴۵ع کال په ترکیه کي د قولنج په ناروغي مړه سوه[۴۱].

د محمود طرزي د یوې بلي مېرمني یادونه هم سوې ده، چي وايي خانم جان نومېده او په قوم خوګیانۍ وه[۴۲]. له دې مېرمني څخه يې یو زوی پیدا سو، چي عبدالقادر نومېدی او په کوچنیوالي کي مړ سو. سردار غلام محمد خان طرزي د دغه لمسي د زېږېدو تاریخ داسي ویلی دئ:

لعبتان ناز پرور نیم شب چـــــون آفـــتاب
با ادا و ناز با نای ونــــــوای و چنگ و دف
شعر گـــوی و بیت خوان آمد درون حجـره ام
گفت طرزی عمر تو درخواب غـفلت شد تلف
زود برخیز و بنشین و بـــــما بکشای گوش
مژدهٔ آورده ام پیش تـــــــو از شــاه نجـف
نـــو گلی از باغ وصلت بالب خندان شــگفت
کـز حیا پیشش گهر پوشد رخ خود در صدف

[۴۰] سیاحتنامهٔ سه قطعهٔ روی زمین، ص ۱۸۰. وايي چي شیخ محمدصالح المسدیه په دمشق کي د اموي مسجد مؤذن و. سردار غلام محمدخان طرزي چي په پورتني نقل قول کي د حضرت یحیی علیه السلام روحاني قوت ته اشاره کوي، بنايي مراد يې له اموي مسجد سره د شیخ محمدصالح المسدیه اړیکي وي. والله اعلم بالصواب.
[۴۱] وکیلي، سفرهای غازی امان الله شاه، ۳۵۸مخ.
[۴۲] ادمک، د شجرو ۷۷ جدول.

جستم از شادی زجا گفتم که نامش را بگو
گفت عبد القادر اما بندۀ شاه نجف
در جمادی اول و شام دوشنبه نیم شب
ماه من طالع شد از برج سعادت باشرف
نور چشمم یعنی نور دیدۀ محمود بیگ
آمد از کتم عدم رخشان چو ماهی بیکلف
سال مولود مرا از مصرع نامم بگو
هستم عبد القادر اما بندۀ شاه نجف

(دیوان ۱۵۹ مخ)[۴۳]

له اسماء رسمیه ښځه د محمودطرزي ٦ زامن او ۵ لوڼي پاته سوي دي.

محمود طرزی د خپل زوی عبدالوهاب د زېږېدو نېټه په شعر کي داسي ویلې ده:

چارم ماه بود از رمضان
فیضرس لیله سرور رسان
سنه هجری بعد از الف سنه
سه صد و بیست و یک تو دان سنه
شب سه شنبه ساعت جاری
من نشسته بفکر بسیاری
باز شد در یکی مسیحا دم
آمد و گفت مژده آوردم
گفتمش چیست مژده ات ای یار
گومرا، و ارهان زاستنظار
گفت وهاب والمنن بتو داد
ولدی جمله حسن و فضل و سداد
"عبدوهاب" یحفظک مولا
از همه آفت و اذا و جفا

(پراگنده، ص ۲۲-۲۳)

د عبدالتواب د زېږېدو قطعه:

رمضان شهر فیوضات رحیم تواب
هست مقبول دران توبه و طاعات صواب
در چنین ماه مبارک که در فیض کریم
باز گشته است بروی همه کس از هر باب
آمد از کتم عدم ماه جبین یک ولدی
که زسیمای لطیفش خجل آمد مهتاب

---

[۴۳] دا تاریخي ماده حلېده غواړي.

روز پنجشنبه نـــــــهم بود زماه رمـضان
بیست وپنج وسه صد از الف فزون بود حساب
***
خــــواستم نام وی از حضرت سـردار کـریم
نائب السلطنة آن ســـــرور فرخـنده جـناب
***
نام بنهاد ورا حـضرت عـــــــالی زکـــرم
ابن "محمود" بـــود نام وی (عبدالتواب)
(پراگنده، ص ۵۳)

د عبدالفتاح د زېږېدو نېټه:

خــاق کـــون و مــکان رب عـــلیم فـتاح
کـــرد احسان ولـدی صاف چو نور مصـباح
در شب جمـــعه و از ماه مـــــــحرم پنـجم
خــیر مـقدم شـــده و فیض بیاورد ونجاح
بیست وهفت و سه صـد از الف فزون بود سنه
که شـــد آن گو هـــــر تابنده ســرور ارواح
گفت در گـوش دلــم هـــاتف غیبی نامش
مـــوجب سعد و فـتوح آمده (عــبد الفتاح)
(پراگنده، ص ۵۴)

محمود طرزي او اسماء رسمیه

د محمود طرزي خسر صالح افندي او اديب خان (۱۹۰۵ع)



عبدالوهاب طرزي (۱۹۲۰ع)
(د محمود طرزي زوی)

ملکه ثریا (۱۹۲۸ع)
(د غازي امان الله خان مېرمن)

خیریه
(د سردار عنایت الله خان مېرمن)

د علامه محمود طرزي کورنۍ



* د عبدالقادر په نامه یې یو بل زوی له یوې خوګیانۍ مېرمني څخه هم سوی و، چي په وړکتوب مړ دئ.
** د امیر امان الله خان مېرمن.
*** د سردار عنایت الله خان مېرمن.

لالا محمدزمان خان طرزي

(خازن الکتب)

لالا محمد زمان خان طرزي د سردار غلام محمدخان طرزي دوهم زوی و، چي په ۱۲۷۰ هـ ق = ۱۸۵۳ع کال زېږېدلی و. د لالا محمدزمان خان مور د سردارمهردل خان لور وه. پلار يې د خپل دغه زوی د زېږېدلو پر وخت دوې تاريخي قطعې ويلي دي، چي زه به يې يوه رانقل کړم :

بسکه آئینهٔ رویت بصفاست
خودبخود طوطی شوقم بنواست
وصل خوانند نمیدانم چیست
یار گویند ندانم زکجاست
آمدی زنگ غم از دل بردی
رخ چو آئینه ات زنگ زداست
چون زبان شکر وصالت گوید؟
کمر شکر ازین بار دوتاست
بتمنای قدومت در باغ
غنچه را جامهٔ جان همچو قباست
سال تولید ترا چون طرزی
از در پیر خرابات بخواست
گفت کان بلبل شیرین سخنان
از گلی گلشن گلزار وفاست[۱]

۱۲۷۰

په بله قطعه کي يې د ده د زېږېدلو تاريخي ماده داسي راوړې ده :

---

[۱] د وروستی مصرع ابجدي ارزښت ۱۲۷۳ راوزي، بايد حل سي.

بعد از آن سـال مولـــد ش زخرد
خواست طرزی از انکه او خبر است
در جـوابش بگفت پیر خــــرد
مـــــردم دیده را باو بصر است[۲]

۱۲۷۰

محمدزمان خان لومړنۍ زده کړې د خپلې کورنۍ له استاد ملا اکرم هوتک څخه کړې وې او نور مروج علوم یې د کندهار او کویټې له علماوو څخه لوستي وه. دی د امیر عبدالرحمان خان په پاچهي کې د کابل د مطبعې مهتمم و (۱۳۱۸هـ ق = ۱۹۰۰ع)[۳] د امیر حبیب الله خان (سراج الملت والدین) په وخت کې هم د دربار له نزدې کسانو څخه و او پر امیر ډېر ګران و. ارواښاد استاد بېنوا لیکي چې امیر به ورته د ډېر ګرانښت له امله د ورور (لالا) خطاب کاوه او له همدې امله په (لالا) باندې مشهور سو. د امیر حبیب الله خان په وخت کې چې واردواره د کابل په ماشینخانه کې مطبعه تأسیس سوه، د اهتمام چارې یې د لالا محمدزمان خان ورور سردار ګل محمدخان سر ته رسولې او کله چې هغه مړ سو، د مطبعې د مهتمم وظیفه لالا محمد زمان خان ته وسپارله سوه. لالا د حلمي افندي په مرسته د مطبعې د لیتوګرافۍ څانګه بشپړه کړه. تر دې وروسته لالا محمدزمان خان د امیر له خوا د ارګ د کتابتون د ناظم په توګه وټاکل سو. د کتابتون ناظم ته یې په هغه وخت کې (خازن الکتب) وایه، ځکه نو د لالا له نامه سره دغه لقب هم ملګری سو[۴].

لالا په دغه وخت کې د امیر د شخصي منشي په توګه هم کار کاوه. په دغه وخت کې په کابل کې لومړنی دولتي کتابتون هم جوړ سو. د دې کتابتون له پاره یې د کابل په بوستان سرای کې د امیر عبدالرحمن خان د مقبرې په ودانۍ کې ځای وټاکه او لالا محمدزمان خان یې د دغه کتابتون د مدیر په توګه مقرر کړ. کله چې په اماني دوره (مرکه د پښتو) تأسیس سوه

---

[۲] د وروستۍ مصرع ابجدي ارزښت ۱۲۷۰ کېږي.
[۳] وګ: تزوک ناپلیون، د پښتۍ لومړۍ مخ، ۱۳۱۸هـ ق چاپ.
[۴] وګ: پښتو چاپي آثار په دوو تېرو پېړیو کې، ۱۱مخ، ۱۳۵۷ش.

(تر ۱۳۰۲هـ ش = ۱۹۲۳ع وړاندي) لالا محمدزمان خان يې د لومړيو غړو په ډله کي و او د (يوازنی پښتو) ډوهمه برخه د ده په قلم ليکلې سوې وه [۵].

د لالا محمدزمان خان د مړيني کال ارواښاد استاد بېنوا ۱۳۰۸هـ ق بللی دئ او وايي چي د وباپه ناروغی مړ سو [۶].

لالا محمدزمان خان خورا ښکلی خط کيښ او د خپل پلار دېوان يې (۷۰۸مخه) په ښکلي نستعليق خط کښلی او د ۱۳۱۱هـ ق کال د محرم الحرام په ۲۷ يې د کراچي ښار په فيض محمدي چاپخانه کي چاپ کړ [۷].

د دېوان تر چاپ دوه کاله وړاندي يې د خپل پلار سردار غلام محمد خان د قصايدو مجموعه د قصائد فيوض عوائد مع تاريخات جناب سردار غلام محمدخان المتخلص بطرزی صاحب افغان) په نامه په همدې مطبعه کي پخپل خط چاپ کړې وه. د دغي مجموعې په پای کي يې کښلي دي : "تمت تمام شد بعون الملک المنان قصائد سراسر فوائد جناب فصاحت و بلاغت نشان فريد عهد و آوان سردفتر اهل زبان منبع الجود والاحسان سردار غلام محمد خان المتخلص بطرزی صاحب افغان بدست خط احقرالعباد محمدزمان خلف طرزی صاحب افغان طول عمره يوم چارشنبه بيستم رمضان المبارک سنه هجری ۱۳۰۹.

بچرخ نازمـه و مشتری نشان باشد
نشان دولت عبد الحميد خان باشد

قطعات تاريخ تولد و وفات وغيره قطعات طرزی صاحب افغان متصل با قصائدات بسعی و اهتمام سردار محمدانورخان پسر سردار محمد سرور

---

[۵] پښتو چاپي آثار، ۱۰مخ.

[۶] هماغه مقاله، ۱۲مخ.

[۷] د فيض محمدی مطبعې څښتن فيض محمد خان جمعدار و، چي د حبيب الله خان بارکزي ملک دين زي زوی کېدی. ده د کراچي په ښار کي دغه مطبعه پرانيستلې وه. د مطبعې مهتمم د سردار محمدسرور خان زوی سردار محمدانور خان و. سردار محمدسرور خان د سردار غلام محمدخان ورور و. وګ : ديوان طرزي افغان، ۷۰۸مخ. په دغه وخت کي يوه بله چاپخانه هم د (محمدی مطبع) په نامه د هند د بمبئي په ښار کي فعاله وه. د سلطان محمدخان بارکزي تاريخ سلطاني په دغه (مطبع محمدی) کي چاپ سوی دئ، ۱۲۹۸هـ ق.

خان برادر سردار غلام محمد خان خلف الصدق سردار رحمدل خان درانی قندهاری نورالله مرقده. چونکه این کتاب در دفتر سرکاری رجستری شده باید که هیچکس این کتاب را بغیراطلاع سردار محمد انور خان چاپ نکند. حرره محمدزمان ۱۳۰۹". د قصائدو دغه مجموعه ۱۸۴مخه ده.

علامه رشاد (۱۳۰۰ – ۱۳۸۳ هـ ش) د لالا محمدزمان خان په لاس د خطاطي سوو آثارو په لړ کي د عبدالقادر خان ختک د یوسف زلیخا نوم اخلي او وايي چي تقریبا سل کاله وړاندي د کابل په دولتي چاپخانه کي چاپ سوې ده[۸].

زما (هوتک) د معلوماتو له مخي د تزوک ناپلیون کتاب چي په ۱۳۱۸ هـ ق = ۱۹۰۰ع د کابل په چاپخانه کي چاپ سوی دئ، هم د لالا په اهتمام ترتیب سوی و. د دغه کتاب پر لومړي مخ باندې کښلي دي: "بحسن اهتمام تمام و سعی مالاکلام راجی رحمت منان محمد زمان خان درانی بارک زایی محمد زایی در چهاپه خانه شاهی دارالسلطنه کابل زیور اختتام پوشیده در مطبع دارالسلطنه کابل طبع شد". کتاب په دې عبارت پای ته رسېدلی دئ: "الحمدلله والمنته که این کتاب لاجواب و این نسخهٔ کمیاب اعنی کتاب تزوک ناپلیون اول که هر ورق آن سرمشق کلیست برای سرکردگان مجاهدان دین مبین و هر صفحهٔ آن سر رشتهٔ وافیست بجهته سپهسالاران افواج ظفر امواج غازیان طریق طرق حضرت سید المرسلین در عهد معدلت مهد حضرت شهریار عدالت آئین پادشاه اسلام پناه امیر ابن الامیر ابن الامیر حضرت ضیاءالمله والدین امیر عبدالرحمن خان غازی خلدالله ملکه و سلطنته که بفرزند ارشد ارجمند خود سردار حبیب الله خان امر فرمود که این کتاب از نوادر روزگار است باید که در چهاپه خانه شاهی چهاپ شود بحسن اهتمام خادم آستان ملایک پاسبان محمدزمان خان بارکزائی محمدزائی مهتمم چهاپه خانه مبارکه و بدستخط غلام قادر کاکری بتاریخ یوم پنجشنبه ۱۴ شهر ذی الحجة الحرام سنه ۱۳۱۸ بقالب طبع در آمد فقط".

اروانښاد بېنوا لیکي، چي لالا محمدزمان خان طرزي ځانته مستقل آثار

[۸] میوند مجله، ۲ کال، ۳ گڼه، ۳۳ مخ.

لري او په هغو کي د علامه شبلي د (الفاروق) ترجمه يادوي، چي په دوه ټوکه کي يې سر ته رسولې وه. وايي د دغه کتاب د لومړي ټوک څرک نسته خو دوهم ټوک يې د علامه رشاد په کتابتون کي خوندي دئ[۹].

اروانښاد استاد بېنوا زياتوي، چي لالا محمدزمان خان د ګوستاولبون (تمدن عرب) هم ترجمه کړې وُ.

د لالا محمدزمان خان خازن الکتب درې زامن (سردار عبدالسلام خان طرزي، سردار حبيب الله خان طرزي او سردار محمدصديق خان طرزي) او شپږ لوڼي (بلقيس، مېرمن، روح افزا، فاطمه بيګم، خاتمه او حميرا) پاته سوي دي. په لوڼو کي يې بي بي روح افزا په افغانستان کي د ښځو د لومړنۍ جريدې ارشاد النسوان د سرمحرري په توګه ټاکل سوې وه. ارشادالنسوان د ښځو لومړنۍ جريده وه چي د امير امان الله خان په ځلانده دوره کي په ۱۳۰۰هـ ش کال د افغانستان د مطبوعاتو په فضا کي وځلېده. د دې جريدې مديره د علامه محمود طرزي مېرمن اسماء رسميه او سرمحرره يې ميرمن روح افزا وه. د جريدې پر تندي باندي د مېرمن اسماء رسميه نوم په مخفف ډول (ا – ر) او د مېرمن روح افزا نوم (ر – ا) ليکل

[۹] د علامه شبلي الفاروق د حضرت عمرفاروق ﷺ د ژوند پېښو بيان دئ، چي بله فارسي ترجمه يې د اعليحضرت محمد نادر شاه خور (محبوبه سلطان) سر ته رسولې او په کابل کي چاپ او خپره سوې ده. محبوبه سلطان د امير حبيب الله خان ماندينه او د سردار اسدالله خان مور وه. ملکې محبوبه سلطان په اردو ژبه کي ډېر مهارت درلود او د دې کتاب فارسي ترجمې ته يې ملا وتړله. د کتاب ترجمه يې بشپړېد و ته نژدې کړې وه، چي يو راز ناروغي ورته پېښه سوه او د ترجمې کار ځني پاته سو. د ملکې پلار سردار محمديوسف خان دغه نيمګړي ترجمه سوي پاڼې مولانا نجف عليخان جلال پوري ته ورکړې، چي بشپړي يې کړي. نوموړي دا کار سر ته ورساوه (جمعه ۲۰ قوس ۱۳۰۹هـ ش = ۲۰ رجب المرجب ۱۳۴۹هـ ق) او اعليحضرت محمد نادرخان يې د چاپ امر ورکړ او په کابل کي چاپ سو (۱۳۱۱هـ ش=۱۳۵۱هـ ق). مولانا نجف علي ليکي، چي د دغي ترجمې متن د اروانښاد قاري عبدالله خان ملک الشعراء تر نظر هم تېر سوی او اصلاح کړی يې و. زما مخي ته اوس د دغه کتاب هغه چاپ پروت دئ چي د ډهلي په ګلوب آفسټ پرنټرس کي د کندهار د کتابو د سوداګر حاجي عبدالغفار په اهتمام آفسټ چاپ سوی دئ. علامه شبلی نعمانی د عليګړه دارالعلوم پروفيسور او د مجلس ندوة العلماء هند صدر و.

سوی و. مېرمن اسماء رسمیه په (بي بي عربي) او میرمن روح افزا په (منشیه) باندي مشهوره وه[۱۰].

د لالا محمدزمان خان لمسی د سردار محمدصدیق خان طرزي زوی ډاکټر ننګیالی طرزي اوس (۲۰۰۷ع =۱۳۸۵هـ ش) په اسلام آباد، پاکستان کي د افغانستان سفیر دئ.

[۱۰] وګ: آهنګ، محمد کاظم، سیر ژورنالیزم در افغانستان – ۱٦۸مخ، ۱۳۴۹ش، کابل.

حاجي عبدالخالق خان

حاجي عبدالخالق د سردار غلام محمدخان طرزي بل زوی او د محمود طرزي مشر ورور و. کله چي محمود طرزي په کابل کي د سراج الاخبار په نامه جریده تأسیس کړه، په لومړي کال يې د خطاطۍ چاري د همدغه حاجي عبدالخالق له خوا سر ته رسېدلې[۱]. د ده نوم د شاهي مطبعې د (سرکرده) په توګه یاد سوی دئ. هغه کتابونه چي د حاجي عبدالخالق په اهتمام چاپ سوي او زما تر نظر تېر سوي دي :

زبدة التجوید:

د قاري نیک محمد[۲] لیکنه ده او د تجوید مسایل يې په فارسي نظم بیان کړي دي. د دې کتاب د بشپړېدو کال ۱۳۱۹هـ ق. او د چاپ کال يې ۱۳۲۲ هـ ق دئ، چي د امیر حبیب الله خان په پاچهي کي په (مطبع دارالسلطنة کابل) کی چاپ سوی دئ. د کتاب پر لومړي مخ يې کښلي

---

[۱] مطبوعاتو ته یوه کتنه، ۵۸مخ.

[۲] قاري نیک محمد خان د حاجي محمد تاجک زوی او د کابل په شمال کي د (دولانه) په کلي زېږېدلی و. په وړکینه له خپل پلار سره د حج په نیت مکې معظمې ته تللی او هورې يې د تجوید او قرائت په علم کي تعلیم سر ته رسولی و. د پلار تر مرګ وروسته يې هورې ګوزاره سخته سوه او بیرته هیواد ته راستون سو. دغه وخت د امیر عبدالرحمان خان د پاچهۍ زمانه وه او ده ته يې په شاهي مسجد کي د قرائت د تدریس وظیفه ورکړې وه. دی وایي :

مولدم دولانه است و کسب علمم از عرب
مسکنم در شهر کابل مشجد شاهی معان
نیکنامــم با محمد شد مرکب از دو نام
کنیتم فرزند حاجی قوم تاجـک بیگمان

(زبدة التجوید، ۴مخ)



حاجي عبدالخالق (١٩٢٥ع)

دي: "حسب الفرمان واجب الاذعان سلطان معظم وخاقان مفخم مالک رقاب الامم خلیفه شجعان مسلمین باتخت وتاج نگین حضرت سراج الملة والدین خلدالله ملکه واحسانه. این کتاب مستطاب نویاب کامل المتن بالنظم و شامل الشرح فی الفهم المحشی بهمدة التمجید المسمی به زبدة التجوید بعد از تحقیق تدقیق منظور نظر کیمیا اثر شده جهة روح پر فتوح حضرت ضیاءالملة والدین مرحوم مغفور جنت مکان خلد آشیان که قبله گاه پادشاه ذی شان زمان میباشند محضاً فی سبیل الله طبع و وقف گردیده باهتمام تمام و سعی مالاکلام راجی رحمت المنان حاجی عبدالخالق خان پسر طرزی افغان در مطبعه دارالسلطنه کابل زیور طبع پوشید".

تحفة الاطفال :

دا کتاب هم د قاري نیک محمد په قلم له عربي څخه په فارسي نظم ترجمه سوی او موضوع یې تجوید دئ. په عربي ژبه یې ناظم شیخ سلیمان دئ. د تحفة الاطفال د چاپ کال یې ۱۳۲۰هـ ق؟ ښوول سوی دئ. د کتاب په خاتمه کې یې کښلي دي :

"... حسب الفرمان واجب الاذعان خدیو جهان و سلطان آوان مالک رقاب اقوام افغانستان غیاث الاسلام والمسلمین حضرت سراج الملة والدین خلدالله ملکه و سلطانه باهتمام راجی عفوالمنان حاجی عبدالخالق خان سرکرده مطبعه شاهی و بقلم مشکین رقم میرزا شیر محمد بتاریخ هجدهم جمادی الثانی طبع شد".

قواعد سراج المله فی طریق التعزیه :

دا رساله واردواره په ۱۳۲۱هـ ق کال د حافظ حیدرعلي احراري په خطاطۍ چاپ سوې ده. د دغه چاپ په پای کې لیکلي دی: "... در مطبع دارالسلطنه کابل بسعی و اهتمام فدوی جانفشان حاجی عبدالخالق و بقلم حافظ حیدر علی احراری در شهر ربیع الثانی ۱۳۲۱هجری طبع شد". دوهم وار چاپ یې د ۱۳۳۷ هـ ق کال دئ. د دغه چاپ پر لومړي مخ یې داسي لیکل سوي دي :

"حسب الفرمان حضرت سرکار عظمت مدار این رساله مسمی به قواعد سراج المله فی طریق التعزیه بسعی و اهتمام فدوی نشان الحاج عبدالخالق پسر طرزی مرحوم در مطبع دارالسلطنه کابل طبع شد".

راحت الاطفال:

دا رساله د کوچنیانو د ناروغیو (شري، کوي، ...) په باب د څو تنو طبیبانو په ګډه همکاري ترتیب سوې او په ۱۳۲۰هـ ق کې د "خادم آستان حاجی عبدالخالق مهتمم چهاپه خانه مبارکه" په اهتمام او د غلام قادر کاکري په خطاطی چاپ سوې ده.

ګل محمد خان دراني

ګل محمدخان د سردار غلام محمد خان طرزي زوی و. دی د امیر عبدالرحمان خان په پاچهي کي د مطبعې د مهتمم په نامه یاد سوی دئ[1]. د هماغه وخت په اسنادو کي د ده له نامه سره د (درانی بارکزائی محمدزائی) لقبونه ثبت دي او داسي ښکاري چي په همدغو القابو به یادېدی. وایي چي ګل محمدخان دراني څه موده د مطبعې د آمر (سرشته دار) میر محمدعظیم خان[2] پر ځای کار کاوه او دغه راز يې نوم د دغي مطبعې د خطاطانو په لیست کي هم راغلی دئ.

د هغو کتابو نومونه چي د ګل محمدخان دراني په اهتمام چاپ سوي او زما ترنظر تېرسوي دي،دادي :

رسالهٔ موعظه :

په دې نامه یو کتاب د امیر عبدالرحمان خان د پاچهی په دیارلسم کال (۱۸۹۲ع) کي چاپ سوی دئ. د دغه کتاب پر وقایه باندي لیکل سوي دي: "حسب الفرمان بندگان اشرف همایون والا امیر عبدالرحمن خان باهتمام گل محمد محمدزائی مهتمم چهاپه خانهٔ مبارکه در مطبع دارالسلطنهٔ کابل چهاپ شد ۱۳۱۰ ق".

رساله موعظه افغانی :

دا رساله د فارسي (رساله موعظه) پښتو ترجمه ده، چي د ترجمې کار يې غلام جان افغاني نویس او د چاپ اهتمام يې "ګل محمد محمدزائی" سر

---

[1] مطبوعاتو ته یوه کتنه، د محمد کاظم آهنګ او ډاکټر محمدظاهر صدیق لیکنه، ۵۳ مخ ۱۳۵۱ش، کابل.

[2] میر محمدعظیم خان په سارجن میجر باندي مشهور و او د امیر عبدالرحمن خان په واکمني کي يې د مطبعې د آمر په توګه کار کاوه. وګ : هماغه اثر، هماغه مخ.

ته رسولی دئ. د چاپ کال يې ۱۳۱۱هـ ق دئ. د دغه وخت محدودي پښتو ژباړي د پښتو نثر ډېري ښېخونده بېلګې دي.

آمدن نامه :

دا رساله هغو کسانو ته د فارسي ژبي د ښووني په نيامت ليکل سوې وه، چي د کافرستان (نورستان) اوسېدونکي او نوي مسلمانان سوي ول. د رسالې په پای کي داسي لولو: "... این کتاب لاجواب بجهت افاده مبتدیان المسمی به آمدن نامه حسب الفرمان قضا جریان بندگان اشرف اقدس امجد همایون ولاحضرت ظل الهی امیر ابن الامیر ابن الامیر ضیاءالملة والدین امیر عبدالرحمن خان غازی خلدالله ملکه و سلطنته در مطبع دارالسلطنة کابل از حسن اخلاص و صدق اختصاص مهتمم راجی درگاه الهی گل محمدخان درانی بارکزائی محمدزائی حلیه اتمام پوشیده جلوه آرای جهانیان شد فی شهر محرم الحرام ۱۳۱۶هجری".

ديوان ملا رحمت بدخشانی :

ميرزا رحمت الله بدخشاني د ميرزا اسمعيل زوی او د بدخشان د درسج کلي اوسېدونکی و. دی په پنځه ويشت کلنۍ کي د قندز د حاکم مير مرادبيګ په خدمت کی شامل سو او خپل دېوان يې هم په قندز کی بشپړ کړی و. دغه ديوان د امير عبدالرحمن په امر او د سردار حبيب الله خان (وروسته امير حبيب الله خان) په توجه او د کابل د دارالسلطنة د چاپخانې د مهتمم (عاليجاه ګل محمدخان درانی محمدزائی) په اهتمام او د ميرزا شيرمحمد کاتب په خطاطۍ د ۱۳۱۲هـ ق کال د شوال المکرم په مياشت کي چاپ سوی دئ.

رساله موعظه :

دا رساله د امير عبدالرحمن خان د پاچهۍ په ديارلسم کال په شلېرويشتو فقرو کي د نوموړي امير د اجراآتو او پاچهۍ ته د رسېدلو او نورو اجراآتو په باب ليکل سوې او په ۱۳۱۰هـ ق کال چاپ سوې ده. پر لومړي مخ يې لولو : "حسب الفرمان بندگان اشرف همايون والا امير عبدالرحمن خان باهتمام گل محمد محمدزائی مهتمم چهاپه خانه مبارکه در مطبع دارالسلطنة کابل چهاپ شد".

کتاب قانون افغانستان :

دا رساله یو دېرش مخه لري، چي په هغو کي اتلس قاعدې بیان سوي دي او زیاتره د دولتي او نظامي مأمورینو مسئولیتونه پکښې بیان سوي دي. د اهتمام چاري یې د کابل د دارالسلطنة مطبعې مهتمم ګل محمدخان سر ته رسولي دي. د کتاب د چاپ کال یې پر لیکلی نه دئ خو غالباً به ۱۹۰۱ع وي.

سردار حبیب الله خان طرزي

سردار حبیب الله خان طرزي د سردار لالا محمدزمان خان خازن الکتب زوی، د سردار غلام محمد خان طرزي لمسی او د سردار رحمدلخان کړوسی او په ۱۸۹۶ع کال کي زېږېدلی و. کله چي يې اکا (تره) محمود طرزي په اماني عصر کي د بهرنیو چارو وزیر سو، حبیب الله خان طرزي يې د هند او اروپا د تحریراتو د اداري سرکاتب وټاکه. تر هغه وروسته په پاریس کي د افغاني سفارت لومړی مرستیال سو. کله چي وطن ته بیرته راستون سو، د هند او اروپا د اداري مرستیال او ورپسي د همدې اداري د رئیس په توګه وټاکل سو[1]. د کرسی نشینان کابل محشی ښاغلی محمدآصف فکرت په دې برخه کي په یوه لمنلیک کي لیکي، چي حبیب الله خان طرزي په ۱۹۲۸ م کال کي د پاریس په افغاني سفارت کي مختار وزیر سو او په ۱۹۳۱م کال د بهرنیو چارو د اداري دریم مرستیال و. ده په سرحدي مذاکراتو او یو لړ نورو ماموریتو کي د افغاني هیئت مشري پر غاړه درلوده. له ۱۹۳۳م څخه تر ۱۹۳۹م کال پوري په توکیو کي افغاني مختار وزیر او د امریکا په متحده ایالاتو کي افغاني سفیر و. په ۱۹۵۳م کال کي تقاعد سو. د ښاغلي فکرت ورکړه سوي معلومات دلودویک ادمک د کتاب له معلوماتو سره ورته دي.

د سردار حبیب الله خان طرزي زامن (عبدالله، وحیدالله، حسیب الله او حمیدالله) دمحمدظاهرشاه په پاچهۍ کي لوړو مقاماتو ته ورسېدل، حمیدالله خان طرزي تر ۱۹۹۰ع کال دمخه د هوانوردۍ او ټوریزم وزیر و او په همدې کال له کاره لیري سو.

د سردار حبیب الله طرزي ورور محمدصدیق طرزي د ببرک کارمل په حکومت کي د کابل ښار د ښاري شورا مشر و.

---

[1] کرسی نشینان کابل، ۲۱۰ مخ.

سردار حبیب الله طرزي

د سردار لالا محمد زمان خان (خازن الکتب) شجره



غلام یحیی طرزي

غلام یحیی طرزي د نائب حبیب الله خان[1] زوی د ګل محمد خان لمسی او د سردار غلام محمد خان طرزي کړوسی و، چي په ۱۸۹۸ع کال زېږېدلی و. دی په لومړي سر کي د افغانستان د بهرنیو چارو په وزارت کي د روس او ترکستان د تحریراتو د اداري د سرکاتب په توګه وټاکل سو، بیا یې په برلین کي د افغاني سفارت د مامور مرستیال مقرر کړ. څه موده وروسته چي بیرته وطن ته راستون سو، د وېزې او ترجمې د اداري د مدیر چوکۍ ور ورسېده (نومبر۱۹۲۶ع) او تر هغه وروسته د ایران او ترکیې د اداري رئیس سو. مهدی فرخ ایراني لیکي، چي غلام یحیی خان طرزي د غلام صدیق خان څرخي په پارټۍ کي دئ او پر هغه ډېر ګران دئ. غلام یحیی خان طرزي اروپا ته د امیر امان الله خان د سفر ملګری و. د ده مېرمن د امیرحبیب الله خان لور وه او رابعه نومېدله. تر اماني عصر وروسته په سقوي دوران کي هم غلام یحیی خان طرزي څه موده د بهرنیو چارو د مامور په توګه پاته سو. په ۱۹۳۱ ع کال له ایران سره د هلمند د اوبو پر سر د خبرو له پاره د یوه هیئت په مشرۍ چخانسور ته ولاړ. په ۱۹۳۳ ع کال مني کي د خارجه وزیر په توګه وټاکل سو. په ۱۹۳۵ع کال کي د عامي روغتیا د رئیس په توګه، په ۱۹۳۹ع کال د پوسټ او ټیلګراف د وزیر په توګه او په ۱۹۴۵ع کال د روغتیا د وزیر په حیث مقرر سوی و. ده په مسکو، پاریس او پراګ کي په ترتیب سره د افغاني سفارت د سفیر دندې هم سر ته رسولي وې[2]. (عکس یې له کرسی نشینان ۲۱۴مخ څخه)

---

[1] دی په ځینو شجرو کي د حبیب الله بیګ په نامه معرفي سوی دئ. د طرزي په کورنۍ کي یو بل حبیب الله خان هم سته، چي د لالا محمدزمان خان خازن الکتب زوی و. دغه دواړه حبیب الله نامي د علامه محمود طرزي وربرونه دي.

[2] ادمک ۱۵۲مخ، مهدی فرخ، کرسی نشینان کابل، ۲۱۴مخ.

غلام یحییٰ طرزي

سردار محمدامین عندلیب

سردار محمدامین عندلیب د سردار غلام محمد خان طرزي زوی دئ چي د ۱۲۷۱هـ ق کال د روژې پر دوهمه د دوشنبه په ورځ = ۱۹می ۱۸۵۵ع په کندهار کي زېږېدلی دئ. سردار غلام محمد خان طرزي د خپل دغه زوی د زېږېدلو تاریخي قطعه داسي ویلې ده :

شبی کزجوش عشرت ساغر دهر
تهی از غصه و پـــر از شعف شد
جهان از خـرمی غـــم داد برباد
زبس جوش طرب از هر طرف شد
زغصه جان خصم ناخلف سوخت
چو ایجاد چنین میمون خلف شد
زاخترهـــــا طبقهای جـواهر
فلک بـــــهر نثار او بکف شـد
پی سـامـــان رقص زهره پر چرخ
قـــــمر در پنجهٔ ناهـید دف شد
طرب ازبس بخود بالید شد عـام
الم کاهید پس بـر خود تلف شـد
شب دوشـنبه و دو از مـــه صوم
ظهور این دُراز بـطن صـدف شد
پدر بنهـــاد نامش را امـین جان
که تا ایمن زافـسوس و اسف شد
دُر تاریخ او طـرزی چنان سفت
چه ماهی طالع از برج شــرف شد
۱۲۷۱

په دېوان کي تاریخي ماده د (چو ماهی طالع از برج شرف شد) راغلې

ده او تر هغې لاندي په عدد ۱۲۷۱ ليکل سوي دي. له پورتني مصرع څخه د ابجد په حساب ۱۲۷۲ راوزي، ځکه نو ما د (چو ماهی) پر ځای (چه ماهی) سم شکل وباله او په دې ډول به نو د مصرع ابجدي ارزښت رشتيا هم ۱۲۷۱ سي[۱]. علامه رشاد مرحوم د علامه محمود طرزي د اوبايم تلين په غونډه کي په يوه شفاهي وينا کي، چي په ميوند مجله کي د دغي وينا ثبت خپور سوی دئ، ويلي دي "عندليب ... د کندهار په عامه وبا کي مړ او په کندهار کي ښخ دئ[۲]". علامه مرحوم د کندهار يادانبتو په دوهم ټوک ۲۰۳مخ کي د کندهار د لويه وبا تر سرليک لاندي کښلي دي، چي دا وبا په ۱۲۸۶ هـ ق = ۱۸۶۹ع کي پيښه سوې وه او په لمنليک کې زياته کړې ده: "په دغه وبا کي محمدامين عندليب د سردار غلام محمد خان طرزي زوی ۲۲ کلن مړ سو[۳]". د مرحوم غبار او علامه رشاد روايتونه په دې برخه کي سره ورته دي، چي محمدامين عندليب په ۱۲۸۶ هـ ق = ۱۸۶۹ع کال مړ سوی او د مړيني پر وخت ځوان زلمی و. خود مرحوم غبار په حواله يې عمر اتلس کاله کېږي او علامه رشاد ۲۲ کلن بللی دئ. زما محاسبه چي د زېږېدو نېټه يې د سردار غلام محمدخان طرزي پر شعر او د مړيني دا يې د مرحوم غبار او علامه رشاد پر روايتو باندي ولاړه ده د عندليب عمر د مړيني پر وخت ۱۵ کلن راښيي؟

علامه رشاد په هماغه ليکنه کي زياته کړې ده، چي د عندليب د ديوان يوه نسخه پخوا د کابل د ارګ په کتبخانه کي خوندي وه. ګومان کېږي اوس به دغه نسخه په ملي آرشيف کي وي. بله نسخه يې، چي د لالا محمد زمان خان په خط ليکل سوې وه، د حبيب الله طرزي په کتابتون کي

---

[۱] مير غلام محمد خان غبار په تاريخ ادبيات افغانستان کي د سردار محمدامين عندليب د زېږېدو کال ۱۲۶۸هـ ق او د مړيني کال يې ۱۲۸۶ هـ ق بللی، چي لومړی يې ناسم کال ښوولی دئ.

[۲] ميوند مجله، دويم کال، دريمه ګڼه ۳۴مخ. په دغه وينا کي د دغي وبا کال ۱۲۹۴هـ ش ښوول سوی دئ، چي ناسم دئ او زه يې د شفاهي وينا له کسټ څخه د ناسم استخراج اغېزه بولم.

[۳] وګ: کابل مجله، ۳ کال ۷۷مخ.

خونديو ه.

د سردار محمدامين خان عندليب زوی سردار عبدالحبيب خان نومېدئ، چي د اميرامان الله خان په وخت کي د ګرمسير حاکم و. د سردار عبدالحبيب خان زوی سردار عبدالله جان طرزي و، چي په کندهار کي اوسېدی او تاسي به د دغي کورنۍ بيان په وروسته پاڼو کي ولولی.

د سردار محمدامين عندليب دکلام نمونه به د مرحوم غبار له تاريخ ادبيات افغانستان څخه رانقل کړم[۴]:

خم طرازيهای آهم پيچ و تاب کاکل است
دود دل در زلف اگر پيچد سراسر سنبل است
از دهانش آرزوی دل شنيدن دور نيست
غنچهٔ گل آشيانِ ناله های بلبل است
از شکستن ساغر دل مستی سرشار داشت
در ترنگ شيشهٔ می انتقام قلقل است
شاهباز چشمت از بس بر جگرها زخم ريخت
غمزه ات بر کبک دل شاهين خنجر چنگل است
در دل از ضبط نفس مضمون رنگين نقش است
بو اگر آسوده گردد غازهٔ رنگ گل است
طرز شيرينش بصائب بسکه پهلو ميزند
از قدوم طرزی ما اصفهان در کابل است
گفتگو ميخواهد از دل وقت عشرت هر نفس
نغمهٔ مينای قليان يکسرا پا قلقل است
از بهار عکس گلبرگ عذارش عندليب
کهکشان بر دامن گردون خيابان گل است

---

[۴] د عندليب د کلام دغه نمونه د اروابناد محمدحيدر ژوبل په (ادبيات افغانستان، ۲۷۵مخ، چاپ ۱۳۸۳ ش) کي ثبت ده. د مرحوم ژوبل او مرحوم غبار په تاريخ ادبيات افغانستان کي د موضوعاتو تداخل او ورته والی ډېر ستر ګو کېږي. دا چي کوم يو به له ها بله متأثر وي، ما ته نه را معلومېږي.

په (ګلزار سيداحمد) نومې مجموعه کې د (غزل جناب عندليب[٥]) تر سر ليک لاندې يوه غزله ثبت ده. د عندليب په نامه ما ته د کندهار په محلي شاعرانو کې کوم څوک معلوم نه دئ او نه په مروجو تذکرو کې په دې نامه کوم پښتون شاعر سته. ځکه نو زه د احتياط په قيد سره دا شعر سردار محمدامين عندليب ته منسوبوم؟ د کندهاري سردارانو د کورنۍ نورو شاعرانو هم پر ملي اوزانو باندې سپرې غزلې ويلې دي. غزله داسې ده:

ما چې لـيدلی رخسار د ګلـــــرنګ رنګ
پاته نن بيا سـو له مـــــا عار و ننـګ ننګ
پري پيـــکره تش غـــــــوارم وصـــاله
ســـتا د جـماله، دا مې دئ حــــــاله
تن مې تـــــولـه په وينو کې رنګ رنګ
مخ دې مـــــهتاب په حـجاب دئ له مـا نه
ســـينه ســـوزانه، زه يــــم حــيرانه
خپژې نارې مې له خـــولې څخه رنګ رنګ
مـخ دې روښـــانه زيبا تـــــــر آفـتابه
زې کـرم بېتابه، نه ســـــوم کامـــيابه
لکه مجنون پــــر صحرا اوسم رنګ رنګ
اور د هـــــجران دئ زړه مې ســـوزان دئ
په ســــره انګار کې تــــوله بريان دئ
زه عـندليب چې همېش يم په سونګ سونګ

سردار غلام محمد خان طرزی پخپل ديوان کې د خپل دغه زوی (عندليب) په جواب کې ډيرې غزلې لري[٦].

---

[٥] ګلزار سيداحمد د کندهار د محلي شاعرانو د مقامي غزلو يوه مجموعه ده، چې د آروابناد سيد احمد بيزار په همت راغونډه سوې ده. په دغه مجموعه کې د عندليب له نامه سره د (جناب) لقب تړل سوی دئ. په دې مجموعه کې دا لقب يو څو محدودو شاعرانو ته ورکړه سوی دئ.

[٦] وګ: د ديوان ۳۷۷، ۴۵۸، ۴۷۰، ۴۷۹، ۴۸٦، ۴۹۷، ۴۹۹، ... مخونه.

سناتور سردار عبدالله جان طرزي

د کندهار د سناتور سردار عبدالله جان طرزي کورنۍ



د سردار مهردل خان مشرقي کورنۍ

سردار مهردل خان مشرقي[۱] په کندهاري ورونوکي تر ټولو کشر ورور و، چي د ۱۲۱۲هـ ق کال په محرم میاشت (جون ۱۷۹۷ع) کي په کندهار کي زېږېدلی او د ۱۲۷۱هـ ق کال د جمادی الثاني پر ۲۷مه د جمعې په ورځ (۱۸ مارچ ۱۸۵۵ع) د ۵۹ یا ۵۸ کالو په عمر هورې مړ سوی او د حضرت جي بابا په زیارت کي ښخ دئ.

سردار مهردل خان له خپلو ورونو سره په ټولو نظامي او ملکي چارو کي مل و، خو پر کندهار باندي یې په یکړ سر واکمني نه ده کړې.

د سردار پاینده خان مشر زوی وزیر فتح خان چي د سدوزي شاه محمود په پاچهۍ کي خپل ورونه د افغانستان پر بېلا بېلو سیمو باندي د حاکمانو په توګه ټاکل، سردار مهردل خان او پردل خان ته یې کندهار او د هغه ملحقات، له کلات څخه تر بولان درې او فراه پوري ور کړل[۲].

د کابل د نیولو په جنګ کي د سردار مهردل خان آس ټپي سو او دی له آسه راولوېد، د دوست محمد خان لښکرو ونیو او بندي یې کړ[۳]. دا جنګ د نواب عبدالجبار خان په منځګړیتوب سره پای ته ورسېد او بارکزي ورونه د ټول افغانستان د وېشلو پر سر موافقې ته ورسېدل.

---

[۱] سید مسعود پوهنیار په (ظهور مشروطیت و قربانیان استبداد در افغانستان، ص ۲۳) کي لیکي، چي سردار حسن خان سیاه په شعر کي (مشرقي) تخلص کاوه. سردار محمدحسن خان سیاه د احمد قلیخان زوی، د وزیر فتح خان لمسی او د سردار پاینده خان کړوسی و. د امیر عبدالرحمن خان په وخت کي د کندهاري ورونو په پراخه کورنۍ کي د درناوی وړ مشر و. د سردار محمد داود د صدارت په وخت (۱۹۵۹ع) کي د کندهار والي محمدصدیق خان وزیري د همدغه سردار حسن خان زوی و. خو دا چي سردار حسن خان دي شعر وایه او بیا دې په شعر کي (مشرقي) تخلص کاوه، د غور وړ خبره ده.

[۲] تاریخ مختصر، ۲۸۰مخ.

[۳] سراج ۱/ ۱۴۷مخ.

سردار مهردل خان مشرقي

سردار مهردل خان په هغه لښکر کي هم شامل و، چي د سردار پردل خان په مشرۍ له کندهاره دکابل پر لور وخوځېدی او مراد له امیر دوست محمدخان سره جګړه کول و[۴]. کندهاري سرداران دې جګړې ته د امیر دوست محمد خان د زوم سردار سلطان احمد خان په غوښتنه حاضر سوي ول. سردار سلطان احمدخان له خپل خسر څخه خوابدی سوی و او له خپلو کندهاري اکاګانو (ترونو) څخه یې د مرستي غوښتنه کړې وه. د سردارانو مقابلې ته له کابل څخه د امیر دوست محمد خان لښکر د ده د دوو زامنو سردار غلام حیدر خان او سردار محمداکبرخان په مشرۍ را ووتل. دواړه لښکري په مقر کي سره مخامخ سوې. په دغه وخت کي په لښکرو کي د وبا (کولرا) ناروغي ګډه سوه. هره ورځ له دواړو خواوو څخه په سوو تنه مړه کېدل او ژوندي یې په ښخولو باندي نه رسېدل. په پای کي دواړه لښکري بې له جنګه خپلو مرکزونو ته تر شا سولې او جوړه سره وسوه، چي کندهاري ورونه به د کابل په چارو کي لاس نه وهي او امیر دوست محمدخان به د کندهار په سیمه کي مداخله نه کوي[۵].

سدوزي شاه شجاع چي له رنجیت سنګه سره تر موافقې وروسته پر کندهار برید وکړ او دغه ښار یې کلابند کړ (۱۲مارچ ۱۸۳۴ع)[۶]، کندهاري سردارانو د ښار دفاع او مقابله پیل کړه او له کابل څخه یې دوست محمد خان مرستي راوباله. په دغه جګړه کي سردار مهردل خان هم شامل و او په ښار کي یې د خپلي قطعې مشري کوله. د کندهار دې کلابندۍ څه دپاسه پنځوس ورځي دوام وکړ. د کلابندۍ په پنځوسمه ورځ سردار مهردل خان مشرقي د خپل ورور کهندل په امر تر ښار ور وووت او د شاه شجاع پر لښکرو یې چي په سرپوزه او ده ماسوس کي پرتې وې، زړه ور بریدونه

[۴] مهدی فرخ په تاریخ سیاسی افغانستان، ص ۲۱۸ کي د دې لښکر مشر سردار کهندل خان بللئ دئ؟
[۵] سراج ۱۵۱/۱مخ.
[۶] د افغانستان په تاریخي پېښلیک کي د دغي پېښي نېټه (۱۲مارچ ۱۸۳۴ع) د ۱۲۵۰هـ ق کال د محرم له لومړۍ سره برابره بلل سوې ده. خو په تقویم تاریخي کي د دغه کال د مارچ دوولسمه د ذی القعدې د میاشتي لومړۍ ورځ (چارشنبې) ښوول سوې ده.

وکړل او ټوله ورځ يې په جنګ تېره کړه څو چې شپه پر راغله او بير ته ښار ته ننوت. کندهار ته د سردار دوست محمد خان د لښکرو تر رارسېدو دمخه کندهاري سرداران له ښاره ووتل او تر ښار دباندي يې خپل مورچلونه جوړ کړل. سردار مهردل خان تر ښکاپر دروازې دباندي خپله قطعه د شاه شجاع د لښکرو په وړاندي ځای پر ځای کړل. کندهار ته د دوست محمدخان په رسېدلو سره د جګړې موازنه د سردارانو په ګټه بدله سوه. دوست محمدخان او سردار کهندل خان د توپخانې په دروازه کي سره وکتل او د جګړې پلان يې جوړ کړ، چي په نتيجه کي يې د شاه شجاع لښکرو ګټلې جنګ بايلوو او شاه پخپله سيستان ته وتښتېد[۷].

کله چي شاه شجاع دوهم وار د انګرېزي لښکرو په ملګرتيا د سند او بولان له لاري پر کندهار بريد وکړ (فبروري ۱۸۳۹ع)، کندهاري سرداران د مقابلې له پاره تر ښار دباندي فتح الله کلا ته ورووتل[۸]. په دغه مقابله کي

---

[۷] په دغه جنګ کي د شاه شجاع په لښکرو کي د (Campbell) په نامه يو انګرېز افسر هم شامل و. ګاډفري (Godfrey T.Vigne) انګرېز، چی په ۱۸۳۶ع کال په کابل کي حاضر و، پخپل کتاب (A personnal narrative of a visit to Gazni,Kabul ,and Afghanistan) ۱۷۵ – ۱۷۶ مخو کي له نوموړي کيمبل سره د خپلي کتني او د ده له خولې له شاه شجاع سره له لودهيانې څخه د خپلي ملګرتيا او د کندهار په عباس آباد کي له کندهاري سردارانو سره د شاه شجاع د جګړې او ماتي په باب تفصيلي يادونه لري. دی د کيمبل له خولې ليکي چي "نوموړی په دغه جګړه کي ټپي سو او قطعې يې ۶۸ تنه تلفات ورکړل. دی پخپله په يوه کرونده کي پروت و، چي د سردار مهردل خان له نوکرانو څخه يو تن پر پېښ سو. دې سړي، چي مير اکبر نومېدی، کيمبل له ځانه سره خپل کور ته بوت، ټپونه يې ورپرېولل او يوه هفته يې وساته. تر يوې اووني وروسته امير دوست محمدخان له کيمبل سره وکتل. امير ډېر ونازاوه، خپل زوی يې وباله او کابل ته يې له ځان سره بوت. هورې يې د يو څو توپو د قوماندان په توګه مقرر کړ او د مياشتي يې څلور سوه روپۍ تنخواه ورته وټاکله". کيمبل وروسته مسلمان سو، شيرمحمد نوم پر کښېښوول سو او د سردار عبدالرحمن خان (وروسته امير عبدالرحمن) روزنه ور وسپارله سوه.

[۸] مهدی فرخ پخپل تاريخ ۱۷۳مخ کي دغه ځای (قلعۀ فتح خان) بللی دئ، چي ناسمه نومونه ده.

سردار مهردل خان مشرقي هم له خپلو نورو ورونو سردار کهندل خان او سردار رحمدل خان سره یو ځای شامل و. کندهاري سرداران د دې مقابلې تر عهدې ونه وتل او په ماته یې له خپلو کورنیو سره ایران ته پناه یووړه او شاه شجاع د انګرېزي لښکرپه مرسته د کندهار پر تخت باندي کښېنوست (دوشنبه ۱۳ دصفري ۱۲۵۵هـ ق = ۲۹اپریل ۱۸۳۹ع)[۹].

د امیر دوست محمدخان د دوهم وار پاچهۍ په لسم کال (۱۲۶۹هـ ق) کي د کلات توخو او هوتکو پاڅون وکړ او امیر دوست محمدخان خپل زوی سردار شېرعلیخان د هغوی ځپلو ته واستاوه. سردار شیرعلیخان تر زیاتوتلفاتو وروسته په داسي حال کي چي پخپله یې هم په پښه کي ټپ اخیستی و، د کلات پر نیولو بریالی سو، د کلات د شاوخوا سیمو مالیه یې راغونډه کړه او کابل ته یې یووړه. په کندهار کي پر سردار کهندل خان باندي د امیر د زوی دا سوبه درنه تمامه سوه او هغه یې پخپل قلمرو کي د دوست محمد خان لاسوهنه او د افغانستان د وېشلو پر سر د دوی تر منځ له لاسلیک سوي تړون څخه سرغړونه وګڼل. خپل کشر ورور سردار مهردل خان یې له څلورو زرو تنو او څو توپو سره یو ځای د کلات د کلا ټینګولو ته واستاوه. امیر دوست محمدخان چي د سردار مهردل خان په راوړاندي کېدلو خبر سو، سردار شېر علیخان ته یې بیا امر وکړ، چي له غزني څخه پر کلات باندي وروړاندي سي. د سردار شېر علیخان لښکرو ته د سردار مهردل خان له خوا د توپونو په ډزو جواب ورکړه سو او په دې ډول یې وښووله چي د کلات مدافعه به په هره بیه چي وي وکړي. امیر دوست محمد خان چي د سردارمهردل خان په مقاومت خبر سو، له کابل څخه یې د خپلو نورو ورونو نواب عبدالجبارخان، سردار سلطان محمدخان، سردار پیرمحمدخان او سردار سعیدمحمدخان په ملګرتیا مخ پر کلات راونیو. له دې خوا سردار کهندل خان د خپل ورور سردار مهردل خان مرستي ته ور رهي سو. کلات ته د دواړو مرستندویو لښکرو تر رسېدو وروسته د بارکزیو ورونو تر منځ بیا جوړه وسوه، د کلات کلا یې ورانه او امیر دوست محمدخان، که څه هم په دې جوړه راضي نه و، خو د نواب

[۹] په تاریخي پېښلیک کي دا نېټه د اپریل ۲۰مه ښوول سوې ده، چي چاپي تېروتنه ده.

عبدالجبارخان په غوښتنه يې لښکر بيرته کابل ته او سردار مهر دل خان او کهندل خان خپلي قواوي کندهار ته پر شا کړلې.

سردار مهردل خان مشرقي د پښتو او فارسي ژبي پياوړی شاعر و. په فارسي ژبه يې د هند پر سبک شاعري کوله او دېوان يې پاته دئ، چي نژدې پنځه زره بيته کېږي. دغه راز يې د مولانا جلال الدين بلخي د مثنوي شريف د دوو بيتو شرح يې هم د مثنوي په قالب کي نظم کړې ده، چي زر بيته کېږي او شرح بيتين يې نوم پر ايښی دئ[۱۰]. شارح غوښتل چي د مثنوي شريف د دوو بيتو شرح د مثنوي شريف په بحر کي بيان کړي خو خبره ځيني اوږده سوې ده او تر (قصهٔ شاه وکنيزک) پوري يې د مثنوي شريف د سر ټول بيتونه په نظم شرحه کړي دي.

مشرقي په تصوف کي يوه رساله د جمع الجمع په نامه ليکلې او د ميا عبدالحکيم کاکړ د اشارات او رموزات شرح يې هم کښلې ده[۱۱] علامه حبيبي ليکي، چي مشرقي په حقيقت کي د بيدل د دبستان او هندي سبک پيرو دئ، خو مثنوياني يې د مولانای روم کيف او خوند لري[۱۲].

د مشرقي کور د هغه وخت د عالمانو او اديبانو د راغونډېدلو مرکز و. په دغه مرکز کي د پښتو پياوړي شاعران لکه ميرزا حنان بارکزی، حاجي عبدالله پوپلزی، حاجي جمعه بارکزی، ملا ميران، صديق اخندزاده هوتک، سردار غلام محمدخان طرزي او نور معاصر اديبان راغونډېدل. سردار مهردل خان د خپل وخت له وتلو عالمانو لکه علامه حبيب الله کاکړ (حبواخندزاده) او قاضي غلام محمد هوتک سره هم علمي او عرفاني تعلقات درلودل. علامه حبو اخندزاده خپل يو اثر نقدالثقات في التزئيف الموضوعات د نوموړي سردار مهردل خان په غوښتنه کښلی دئ[۱۳]. کشميری موهن لال چي غالباً يې له سردار مهردل خان سره ليدلي دي، د ده

---

[۱۰] شرح بيتين د علامه حبيبي په زيار ترتيب سوې او له سريزي سره يو ځای په ۱۳۵۲ ش کال په کابل کي خپره سوې ده.

[۱۱] شل مقالې، ۴برخه، ۶۱مخ.

[۱۲] هماغه اثر، هماغه مخ.

[۱۳] درنه کورنۍ، د ليکونکي ليکنه، ۲۳مخ.

په باب لیکي چي له کندهاریو سردارانو څخه مهردل خان د نورو ورونو په نسبت د سواد له مخي لوړ و. دی شاعر و او خپل اشعار یې پخپله لیکل. مهردل خان د خپل ادبي ذوق له امله په ایران کي هم شهرت ګټلی و(۱۴).

له بده مرغه د سردار مهردل خان مشرقي پښتو اشعار دومره زیات په واک کي نه لرو. د ده دپښتو شعر یوه نمونه واردواره په تذکرة الشعراء کي (غالباً د مولوي صالح محمد هوتک په قلم) ادبي نړۍ ته وړاندي سوې ده او پښتانه شعراء (۲ټوک) هم اخیستې ده چي وبه یې لولو:

پلـــو واخلـــه له سـپوږمۍ مخه مېرمني
ستا بې مخه راتـــــه شپې دي ورځې سـپیني
سـتا له وره تللای نهٔ سـوای هـــوري دوري
درته ناست یـــــم په دربار پرې مي دي سـپیني
درست بدن مي د بېلتون پـــه اور کښي وریت سو
په کـــــوګل کښي مي ویلې ي توري سـپیني
راته وګوره رقیب سپک په څه شـــــان کړم
خدای دې سپک کړي ستا په مخ و دې وزي سپیني
زه پښـــتون یـــــم نه وېرېږم لــــه رقـیبه
ورته وبه کــــــړمه بیا ښې سپیني سـپیني
"مـشرقي" دي پـــــه تیاره د بېلـــتون ژاړي
ورته لمر د مخ ښکاره کـــــړه په مخ سـپیني(۱۵)

ارواښاد غبار په تاریخ ادبیات افغانستان ۲۹ مخ کي وایي، چي د سردار مهردل خان مشرقي د فارسي دیوان یوه نسخه د افغانستان د شاهي دارالتحریر په کتابخانه کي خوندي وه. زما (هوتک) په ګومان به ښایي اوس په ملي آرشیف کي وي. نوري نسخې یې هم له ځانګړو اشخاصو سره سته. زما مخي ته همدا اوس د ښاغلي حمدالله صحاف په خطي کلکسیون کي د سردار مهردل خان مشرقي د فارسي دیوان فوټوکاپي پرته ده، چي سږکال صحاف صاحب په مینه له کویټې بلوچستان څخه کاناډا ته زما د

(۱۴) زندګی امیر دوست محمد خان امیر کابل، فارسي ترجمه، ۱۹۷مخ.
(۱۵) دا نیم بیتی په تذکرة الشعراء (۱۴۸مخ) کي نیمګړی دئ: ورته مخ ښکاره کړه په مخ سپیني.

غوښتني له مخي راالبرلې ده. د دې نسخې ټول مخونه ۳۱٦ ته رسېږي او قطع يې متوسطه ده. په نسخه کي د دال تر رديف وروسته (يعني تر ۲۵۸مخ وروسته) د ميم او نون رديفونه راغلي دي، چي ټول ۲۷ مخه کېږي. د نون پر رديف باندي د غزلياتو برخه پای ته رسېږي او وروسته رباعيات پيل سوي دي. د رباعياتو برخه وروسته ورلوېدلې ده، چي د کندهاري سردارانو د کورنۍ د هنرمند خطاط (محمدزمان جان) په کتابت ورلوېدلې ده. د رباعياتو برخه ۲۱مخه ده او پای يې پر دغه عبارت باندي بشپړ سوی دئ. "تمام شد بعون الملک الوهاب رباعيات مرحوم جنت مکان سردار عالی سردار مهردل خان که المتخلص بمشرقی. اين رباعيات بدست محمدزمان جان".

تر رباعيات وروسته حکايات پيل کېږي چي ټول نهه مخه دي. دا حکايتونه د مثنوي په قالب کي د سردار مهردل له خوا په نظم ويل سوي دي. نسخه په ښکلي نستعليق خط کښل سوې ده او د ليکلو نېټه يې څرګنده نه ده. څرنګه چي اصل نسخه ما نه ده ليدلې، ځکه يې نو د کاغذ نوعيت او د هغه له مخي بيا د نسخې د زړتيا په باب څه نه سم ويلای. دومره راته څرګنده ده، چي د رباعياتو برخه يې د سردار مهردل خان تر مړيني (۱۲۷۱هـق = ۱۸۵۵ع) وروسته ليکل سوې ده.

د نسخې پيل داسي دئ، تر بسم الله وروسته :

ای شفا بخش دل غمديدهٔ بيمارها
دارد از دستت دوا نبض رگ ازارها
ساز عشرت چون نوازد نغمهٔ سوزد نشاط
گفتگو دارند در حمدت زبان تارها

او د پای بيت يې :

بی حب اين چاريار مصطفی باشد غلط
از نبی چشم شفاعت روز محشر داشتن

دا وروستی نيم بيتی يې بيا په څنډه کي داسي اصلاح کړی دئ :

از نبی ای مشرقی چشم شفاعت داشتن

د سردار مهردل خان مشرقي د فارسي کلام ښه ډېره برخه د وطن ياد، د بېلتانه سختي او د دنيا بې وفاتوب ته وقف سوې ده. داسي ښکاري

چي د اشعارو ډېره برخه يې له خپل پلرني هيواده ليرې ويلې ده. يو شمېر نمونې به يې ولولو :

بسکه از شور دو عالـــم درد سر داریم ما
زاضطراب هستی خـــود کی خبر داریم ما
روزگاری شـد که اندر وادی صحرا بشوق
رفته از خویشم و ســـودای دگـر داریم ما
آب چشم از دیدهٔ خـــونبار ریزان هـر نفس
زانفعال هستی خـــود چون ســحر داریم ما
تا قیامـــت شب نگیرد دامن صـبح امید
گـــر نقاب از ماه روی خـویش بر داریم ما
مشرقی از سیل چشم خون فشان ما مپرس
مـــوج طـــوفان دگر از چشم تر داریم ما
(خطي نسخه ۲۷مخ)

***

تا برده صبا نگهت زلـــــفت بچـمن ها
بر مشک ختن طـــعنه زده بوی ســمن ها
در بادیهٔ عشـق شـــهیدان غـــم تو
گلگون چو گل از خـــون جگر کرده کفن ها
چون غنچه مخند از سر شادی که درین باغ
بر خاک بسی دور فلـک کـــرده دمن ها
هـــر نو گل خندان بگلستان شده عمری
کز لعل تو دارد هـــوس درس سخن ها
ای خام ! هـــوس نخـل تمناش بلند است
کس را نبود دســـترس سیب ذقـن ها
گـــوشی نبود تا شنود رمـــز مـعانی
داریم چـــو گل در لب خـاموش سخن ها
چون "مشرقی" از منزل مقصود چه گویم
کاشـــفته دمـــاغیم بسودای وطن ها
(خطی ۳۷مخ)



د سردار مهردل خان مشرقي د ديوان عکس

سرو آزادست گـــویا مصرع مـــوزون ما
بوی گل شـــد منفعل از نگهت مضـــمون ما
زاده شد چون کهربا گوهر زخجلت در صدف
تا بیرون از بحر دل شد گـــوهر مکـــنون ما
میتوان دانست خـــاک بیکـــسان از داغ دل
لاله شـــمع روشـــن است برتربت مجـــنون ما
یک سرمـــــو باخـبر ازنشهٔ معـــنی نشد
گر بخون چون داد می بنشـــست افلاطـون ما
زخـم هـــا بر دل زنوک ناوک مژگان کیست
کین چنین گلگون شد از خون دلم هـــامون ما
چاره ام نبود بغیر از جان سپاریهای خـویش
لشکر غـــم "مشرقی" بگرفـته پیرامون ما
(خطی ۳۹مخ)

***

برق آهـــم سوخت امشب سبزهٔ کشـــمیر را
آب چشمم کرد ویران خـــــانهٔ تعـــمیر را
ماه من در مکتب چشم سیاهت روز و شب
نیست جـــز درس تحیر دیدهٔ نخـــجیر را
باغبان مـــن بیا از سعی بیـــجا دست کش
آب نتوان داد هـــــرگـز غنـچهٔ تصویر را
معصیت گر کردهٔ واعظ نخواهم روســـیاه
سرخ رو گشـــتم چو نوشیدم می تقصیر را
ما که با پیریم از رنج دو عالـــم رسته ایم
ای صبا برگو حـــکایت مــــردم بی پیر را
"مهردل" تا چند گـردی بهرروزی دربدر
کس دگر گـون کی تواند نســخهٔ تقدیر را
(خطی ۷۱مخ)
همین نه غمزهٔ مژگان ســـاز خـــونریز است
که چسم مست تو هم شوخ فتنه انگـیز است

پی عـــــلاج دل دردمند چـون گل شـد
عتاب خـندهٔ آن شــــوخ ترک آمـیز است
چه حـــاجت است اشارت بـــه تیغ ابرویت
ترا که خنجر مــــژگان بقــتل من تیز است
بگــــو صــبا زمن آن مست جام عشرت را
بیا که ساغـــرم از خون دیده لـبریز است
زبانگ بوالــــــهوســـیها اثر نمی خیزد
چه شد خروس صفت عابدار سحر خیز است
مــــــراهمــین شده روشن زتاب طـره او
که چین بچـین خم هـــر تار من دلاویز است
تـــو مهر عصرخودی "مشرقی" درین عالم
اگـر چه خـــــاور تبریز شمس تبریز است
(خطی ۲۰٦مخ)

و من رباعیاته

مشرقي په رباعياتو کي د تصوف پرله پېچلي مفاهيم ځای کړي دي:

واعظ به فـغان گفت که راهی دین است
عابد بسجود شــــد که آئین این است
هریک زیقین خـــود سـخن میگفتند
عارف شده خاموش که مردی این است
(خطی ۲۹۴مخ)

گر شاه و گـــر غنی و گـر درویش است
از حسرت جان کنی هــمه دلریش است
دنیااست نه جـای راحت ای بیخـبران
کــین منزل مـوت جمله درپیش است
(۲۹۷مخ)

صورت بحقیقت اوست مرآت اینست
خـورشید عیان گشته و ذرات اینست
بیهــــوده چه اندر پی نفی خـویشی
خــــود رابشناس عین اثبات اینست

(۲۹۷مخ)

از هستی خـــود شدن خبر بیخبری است
خـــود را بمیانه دیدن از بی بصری است
لیلی صفت از حـــجاب خـود بیرون شو
حسنت که بسی فزونتر از حسن پری است

(۲۹۸مخ)

ای لاله ترا که لاف از من زدنی است
برآتش داغ خـویش دامـن زدنیست
در هـــر نفسی زبان درازی که کنی
چون شمع تراهـوای گردن زدنیست

(۲۹۹مخ)

دایم زتــــو حل این معـما نشود
این عـــقده بناخن هـوس وانشود
دانستن او کار توئی های تونیست
بی مـــا نشود و لیک بی ما نشود

(۳۰۴مخ)

حکایت

شنیدم یکی مـــرد بارای وهوش
همی گفت در بـــزم باشمع دوش
که ای روشــــن از نور تو بزم هـا
تــــرا درته پاست ظلمت چـرا
چو شـــمع این سخن راز دانا شنید
ازین طـعنه اش نیش بر دل رسـید
زبانی زشـــــعله برآورد گفت
بمعنی چنین گـــوهری رابسفت
چو از نـور من انجمن روشن است
چه غم گـــر مرا در بظلمت تن است
خوشم هــــر نفس گرمرا سر رود
که ازشـــعله ام بزمّ روشـن شود
ســراپا همی سوزم از بهـــــرآن
که کلفت شود محـــو از دیگران
نه ازسایهٔ خـــویش دارم خـبر
نه بیمی مــــرا باشد از قـطع سر
توهم کن طلب ازمن ای پاک کیش
پی راحت دیگـــران رنج خـویش
زشمعی بیا "مشرقی" یــاد گیر
درین بـــــزم این نکتهٔ دلـپذیر

(۳۰۸مخ)



ابتدای نام دانای قدیم
شد ز بسم الله الرحمن الرحیم
ذات پاک او ز بس بیچون بود
شرح اوصافش ز حد بیرون بود

د شرح بیتین د خطي نسخې لومړی مخ

د شرح بیتین دیوې خطي نسخې فوټوکاپي هم د ښاغلي حمدالله صحاف له کتابتون څخه د نوموړي په پېرزوینه تر ما پوري رارسېدلې ده. نسخه په دې بیتو پیل سوې ده :

ابتدای نـــام دانای قـــدیم
شـــد زبسم الله الرحـمن الرحیم
ذات پاک او زبس بیچـــون بود
شرح اوصــافش زحـد بیرون بود
قـل هـــو الله آیتی در شـــان او
زانکه وصف خویش گوید خود نکو
بر بزرگی جـــلال و بـــرجـمال
خـــود بخود زیبد ثنای ذوالـجلال
زان زبان ناطـــقه گـــردید لال
در ثـــنای ذات پاک ذوالجـلال
تا نگـــوید خود ثنای خـویشتن
می نیاید وصف او ازمـــا ومـن
زان سـبب در وصف ذات کــبریا
شـــد دلـیل عجـزلا احصی ثنا

تر دې وروسته وايي: "... چنین گوید ذرهٔ بیمقدار خاکسار بستهٔ اغلال وسلاسل تعلقات این عالم آب و گل اعنی مهردل بسمع ملازمان کمال کامل که مهر دل از تنعمات ذخارف عاجل بر تافته، بتحصیل سعادات آجل شاغل ومایل شده اند، میرساند، مدتی میشود که خوشه چینی خرمن این طایفهٔ علیه یعنی صوفیه را که فی الحقیقت فرقهٔ ناجیه ایشانند، مینماید و بحکم من تَشَبهُ بِقَومٍ فَهُوَمِنهُم امیدکه بواسطهٔ پیروی ایشان بایشان محسوب ومحشورشود. درین زمان باستصواب رای موافق واستدعای احباب صادق اتفاق افتاد که بر بیتین مثنوی مولوی معنوی شرحی بقدر وسع برهمان بحر در سلک نظم آورده شود. بعد ازان حصول این ماممول چون دَرمعنی باز بود لاجرم سلسلهٔ سخن دراز شده تاآنکه تمامی ابیات آنجناب راتا ابتدای قصهٔ شاه وکنیزک باتمام رسانیدم بعونه وتوفیقه. سوال از جناب ارباب قبول آنکه اگر سهوی و خطایی مطلع شوند در اصلاح

آن کوشند وپردهٔ عفو پوشند".

او د کتاب خاتمه په دې عبارت سره پای ته رسېدلې ده :

"تمت تمام شد بعون الملک عنان من تصانیف عالیجاه رفیع جایگاه سالم مسالک الشریعت واقف مواقف حقیقت مظهرانوارالفضل و الاحسان سردار مهردل خان محمدزائی قندهاری غفرذنوبه درشرح ابیات دیباجهٔ مولانای روم قدس سره".

د نسخې د کاتب نوم او د استنساخ نېټه يې څرګنده نه ده. خط يې ښکلی نستعليق دئ او په سر کي يو میناتورهم لري. تر اویا مخو پوري يې هرمخ چوکاټ سوی دئ خو وروسته بیاچوکاټ نه لري . لکه وړاندي چي مي ووېل، دانسخه داصل نسخې کاپي ده ، ځکه نو د کاغذ نوعیت نه رامعلومېږي. ماته داسي ښکاري چي تر اویایم مخ وروسته برخه د بل کاتب په قلم وروسته ورلوېدلې ده خو د دې دوهم کاتب خط لومړي کاتب ته، چي ډېر ورته دئ او د لومړي کاتب پر خط باندي بيا د سردار محمدزمان خان طرزی د لیک ګومان کېدلای سي؟ لکه سردار مهردل خان چي د دې شرحي په پیل کي ویلي دي، دا شرحه د مثنوي شریف د دیباچې منظومه شرحه ده. د مثنوي شریف دیباچه ټوله پنځه دېرش بیته ده[16] د سردار مهردل خان مشرقي په شرحه کي د مثنوي شریف د دېباچې له وروستي بیت پرته، چي هغه په حقیقت کي د (قصهٔ شاه وکنیزک) له پاره ویل سوی دئ، نور ټول ۳۴ بیته شرحه سوي دي.

وروستی بیت،چي ماپې وړاندي یادونه وکړه، په چاپي مثنوي کي داسي دئ:

بشنوید ای دوستان این داستان
خود حقیقت نقدِ حـــال ماست آن

د ۱۷ او ۱۸ بیتو شرحه راغلې ده خو پخپله بیتونه جنساً نه دي رانقل سوي. هغه بیتونه دا دي:

هر که جز مـــــاهی زآبش سیر شد
هر که بی روزی است روزش دیر شد

---

[16] وګ : مثنوی معنوی مولوی از روی طبع نیکلسون، چاپ ششم ۱۳۸۰ ش، ص ۵ ـ ٦، تهران.

در نیابد حـــال پخته هـیچ خـام
پس سـخـن کـوتاه باید والسلام

په دې شرحه کې ځيني مشروح بيتونه له چاپي ثبت سره توپير لري او په دې ډول دي :

خطي :

کزنیستان تا مرا ببریده اند
از نفیرم مرد و زن نالیده اند

چاپي :

کزنیستان تا مـرا ببریده اند
در نفیرم مرد و زن نالیده اند

خطي :

من بـــهر جمعیتی نالان شـــدم
جفت خوشحالان و بد حالان شدم

چاپي :

من بـــهر جمعیتی نالان شـــدم
جفت بد حالان و خوش حالان شدم

خطي :

هر کسی از ظـن خود شـد یار من
ور درون من نجست اســرار من

چاپي :

هر کسی از ظن خـود شـد یار من
از درون من نجـست اسـرار من

خطي :

نی حـریف آنکه از یاری برید
پرده هایش پرده های ما درید

چاپي :

نی حریف هر که از یاری برید
پرده هایش پرده های ما برید

دلته به د دې خبرې یادونه بې ځایه نه وي، چې سردار مهردل خان مشرقي ولي له ټول مثنوي څخه یوازې د هغه دیباچه په دې ارزولې ده، چې شرحه دې پر و کاږي؟ مشرقي له مثنوي شریف سره مینه درلوده او ځکه یې هغه په دقت سره په وارو وارو کتلې و. ده ته دا خبره ثابته سوې وه، چې د مثنوي شریف په دغه پنځه دېرش بیتیزه دیباچه کې په حقیقت کې د رومي مولانا د افکارو او عرفان ټول روح پروت دئ. مولانا ته د هغه وخت د علمي کړیو دا دود (رواج او دستور) ورمعلوم و، چې دېوانونه او د نظم و نثر کتابونه د کبریا ذات ﷻ په حمد او د خدای د سپیڅلي استازي ﷺ په نعت باندې پیل کېدل. خو ده خپل مثنوي په همدې دیباچه ځکه پیل کړی دئ، چې د ده په دیباچه کې راغلی (نی) هماغه روح دئ چې عارفان یې د (هو) په مفهوم کاروي. د مشرقي مرحوم په دغه عارفانه باریکۍ ښه پوره سر خلاص و او د همدې دیباچې په شرحه کولو سره یې په عرفان، تصوف او شعر کې د خپلي پیاوړې برلاسۍ ثبوت وړاندې کړی دئ.

زه به د دې بحث په پای کې له شرح بیتین څخه هغه برخه راواخلم، چې مشرقي پکښې د خپل نامه (مهردل) شرحه بیان کړې ده. د خطي نسخې د دې برخې په پیل کې کښلي دي :

در اشعار اشارت بسوی اسم خود به کنایت و ایهام

باز میخواهم کنم ای دوستان — شمهٔ از شرح مهردل بیان
مهر او تا دردلم شد جلوه گر — مهر غیرش را ز دل کردم بدر
دل اگر از حرف مهرش دم زند — از دم آتش شعله در عالم زند
دل چسان از مهر او گوید سخن — گر چه مهرش کرده اندر دل وطن
مهرش از شرح و بیان بیرون بود — در بر دل لیک دل پر خون بود
میم مهر از میم احمد شد عیان — کی توان از میم او کردن بیان
گر چه میم آمد ظهور ماومن — لیک فارغ باشد از شرح سخن
میم موجودات در میمش نهان — از طفیلش هر دو عالم شد عیان
در حقیقت میم معشوقست و بس — لیک ناید این سخن در فهم کس
نقطهٔ میم از الف کرده ظهور — که انا النوری و عالم گفته نور
آنچه او زانوار نور واحد است — کنت وکنزاً بر ظهورش شاهد است
گشت ظاهر چون تجلی جمال — نورِ احمد یافت از نورش کمال

شد کلیم از میم احـــمد در سخن
کرده از نورش مسیح دعـــوی من

میم آدم از ظـــــهور میم اوست
هم نجات نـــوح از تعظیم اوست

از ظهور نــــور احمد کردگار
بر خلیل الله گلستان کـــرد نار

نور هم از نور مـــــهرش نور یافت
ذرۀ زان نور هـــــم بر نور تافت

هر چه هست از خوب و زشت و از نکو
جمله را می دان ظـــهور از نور او

ها چو چشمی بـــر رخ مهرش کشاد
از الف بـــــر دیده اش میلی نهاد

چشمها عـــاجز شـد از نـور جمـال
محو عجز خـویش شد از اتصال

از دو بینی میم را چـون (هـا) بدید
از الـف بر دیـده اش نشـتر کشـید

در بر میم است از خـــود بیخبر
از دو بینیـــــهاست بر میمش نظر

اختیـارت گـر بـذات مطلق است
این صفت باشد بمعنی کی حق است

تازهــــــا باشد نشان اندر میان
کی تـوان ره برد سـوی بی نشـان

ایـن دو چشم هـا کـه از هـم جدا است
گه سوی وحدت بود گه سوی ماست

این دو چشم ها اگر (دو) چشم ماست
یک همی بیند اگـــر از هم جدا است

از دو بینـی دیـده نـا محرم بـود
دیـده نابیناست نـورش کـم بـود

ریخـت از نـوار الـف در چشم ها
از دو بینـی هـای خـود بینـی سیاه

مهر بـی هـا، نـاقص آمـد ای پـــر
لیـک اورا نیسـت از وصـلش خـبر

هـا کـه از پندار خـود گردیـد دور
هسـت انـدر قـرب دائـم در سـرور

نــور را با دیـده باشـد اتصـال
دیده زان نور است غافل ماه و سال

گــر ز نــور خویشـتن بـودی خبـر
کـی بحسـن دیگـران کـردی نظـر

عشق میگوید ده این سر را ظهور
تانیفتـد حـاجتی بسا نفخ صـور

عقل میگـــوید که این سر را مگو
تـــا نگردد در جهـــان حشـری ازو

عشـق میگویـد بگـو سر قـدم
تـا ازو گـردد همـه عـالم عـدم

عقـل میگویـد مگـو سر ای امین
تـا نگـردد عـالم از مسـتهلکین

عشـق میگویـد بگـو راز الست
تـا شـود عـالم همـه بی پا و دست

عقـل میگویـد کـه سر را بپوش
تـا ازو زائـل نگـردد فهم و هـوش

عشق میگویـد چنین عقل آنچنان
رحـم کـن، رحم ای خداونـد جـهان

گـر نباشـد لطـف تـو ای کردگـار
سر زنـد ایـن سر ز مـن بـی اختیـار

گـر نباشـد لطـف تـو ای راز دان
گـردد ایـن راز نـهان بـر مـن عیـان

گـر نگـردی مهربـان ای کارسـاز
بیگمـان از مـن شـود افشـای راز

مصطفی گفت آنچه در گوش علی — نبی همی گوید بآواز جلی
لیک کس را گوش آن اسرار نیست — فهم آن سر کار هر بیکار نیست
گر نبودی مهر شرعم بر دهان — گفتمی فاش آنچه نبی گوید عیان
منع میسازد مرا آن شرع پاک — تا نگردد جملهٔ عالم هلاک
گر بگویم سر پنهان برملا — در زمان عالم همه گردد فنا
سر پنهانست اندر زیر و بم — فاش گر گویم جهان برهم زنم

لکه وړاندي چي وېل سوي دي، سردار مهردل خان مشرقي د ۱۲۷۱ هـ ق کال د جمادی الثاني پر اووه ويشتمه (۱۲۳۴هـ ش = ۱۸۵۵ع) د جمعې په ورځ د ۵۹ يا ۵۸ کالو په عمر مړ او د حضرت جي بابا په هديره کي ښخ سو.

ميرزا حنان بارکزي يې پر مرگ داسي اوښکي تويي کړي دي:

و جوار ته د مولی سردار قرين ولاړ
چي مرغوب د کل عالم و په تحسين ولاړ
د هنر د علم کان د حيا بحر
په خلعت د نېکنامۍ څه ښه رنگين ولاړ
په جيفه يې د دنيا ځان آلود نه کړ
د عمل په صابون پاکه جامه سپين ولاړ
و سخا ته يې حيران حاتم طی و
تکيه گاه د هر فقير و د مسکين ولاړ
فيض رسانه لکه لمر و کل جهان ته
مستقيم پر شريعت حامي د دين ولاړ
هر مشکل به حل کېده د سائلانو
سردار نه و، د حضرت سليمان نگين ولاړ
په حکمت يې افلاطون شاگرد د عصر
چي تقرير يې و شېرين تر انگبين ولاړ
اعتماد باندي د کړو نه دئ حنانه
چي سردار مهردل له دې دنيا يقين ولاړ[۱۷]

ميرزا احمدعلی د سردار مهردل خان د مړيني تاريخي ماده په دې

---

[۱۷] د ميرزا حنان بارکزي دېوان، د محمد معصوم هوتک په زيار، ۳۵ مخ، ۱۳۷۰ ش.

رباعي کي ويلې ده:

احمد از هر کس تفحص می نمود
ســـال فوت آن شه اقلــیم جود
هـــاتفی بنهاد سر بر پاش گفت
"منزل او بـــاد جنات الخلود"

حل : وروستی مصرع تاريخي ماده ده چي ابجدي ارزښت يې ۱۲٦٦ کېږي. که د هاتف کلمې د سر (ه) ابجدي ارزښت (۵) د (بنهاد) په قرينه ورسره جمع سي، د سردار مهردل خان د مړيني کال ۱۲۷۱ه ق لاس ته راځي. په پښتانه شعراء دوهم ټوک ۴۴٦ مخ کي دغه تاريخي مصرع د (منزل او باد جنات خلود) په شکل ناسمه ثبت سوې ده.

ميرزا احمدعلی خان د سردار غلام محمد خان طرزي په مدحه کي هم قصايد لري چي د طرزي په دېوان کي درج دي.

سردار خوشدل خان

سردار خوشدل خان د سردار مهردل خان مشرقي زوی و.

علامه حبيبي ليکلي چي سردار خوشدل خان شعر وايه او د شاعر په توگه پېژندل سوی و. د ده يوه فارسي غزل يې له کوم خطي جونګ څخه په دې ډول رانقل کړې ده[1] :

بسی تپیدم، الــــم کشـیدم، رخت ندیدم، درین جـدایی
غمت خریدم، بدل گـــــزیدم، بجان رسیدم، اگــــر نیایی
قسم برویت، بتار مـــویت، که من بکویت، بجســتجویت
اگــــــر بسویت، رسم ببویت، زبیم خویت، کــنم گـدایی
بخال هــندو، بدام گیسو، بچــشم آهــــــو، بقوس ابرو
زدی بهرسو، خــدنگ جـــــادو، بت پریرو، چه دلــربایی
برم نشستی، بعین مسـتی، زبــزم جســتی، زجمله دستی
دلم شکستی، بزلف بستی، بغمزه خستی، چه جان گـزایی؟
زجور هجران، شـــدم پریشان، به آه سوزان، بچشم گـریان
بروی جـــانان، زدرد هجران، کنم صد فـغان، اگـر بیایی
باین شمایل، نمودی مایل، ربوده یی دل، بگو چه مشـکل؟
اگــــر به "خوشدل" بلطف شامل، بشوق کامل، نظر نمایی

سردار غلام محمدخان طرزي د سردار خوشدل خان پر وفات (شنبه، ۲۳ د ربيع الثاني ۱۲۹۵ هـ ق = ۲۷ اپريل ۱۸۷۸ع) يو نظم لري :

چنان در غمش خونـــم از دل برآمد
که موجش زد امان قــــاتل برآمـد
زبس خاک غم ریخت غربال گردون
سراپای این بحر ساحـــــل برآمـد

---

[1] شل مقالې، څلورمه برخه، ۶۴مخ.

چه نسرین و درو چه گلهای رنگین
که ازلای این دهــــر پر گل برآمد
مجو میوهٔ خوشــــدلی از درختم
که نخل امـید م زحاصـــل برآمد
چسان غنـچهٔ خـــو شدلی گل بر آرد
کزین باغ سردار خـــو شـدل برآمد
فـــغان، زیر گِل رفت پای گل من
بگلشن اگـــر چه گل از گِل برآمد
بـــماه ربـــیع دوم روز شـنبه
مهی مـهر دلــــجو زمنزل برآمد
زمـه بود بیست ســـوم آنکه ناگه
میان پردهٔ مـــرگ حــــائل برآمد
چنین گفت طـرزی بتاریخ فـوتش
که ازچاه اندوه خـــوشدل برآمد[۱۹]
۱۲۹۵

---

[۱۹] حل : تاریخي ماده (که از چاه اندوه خوشدل برآمد) ده، چي ابجدي ارزښت یې ۱۲۹۵ کیږي. د (آمد) کلمې ممدوده الف باید دلته پر دوو حساب نه سي.

د میراخور کلا محمدزي



د پنجوايي محمدزي



د سرپوزۍ او اشوغې محمدزي



* مدیر گل محمد مشرقي.

والي شېر علي خان

سردار شېرعليخان، چي د تاريخ په کتابوکي په والي شېرعليخان يا قندهاري شېرعليخان باندي مشهور دئ، د سردار مهردل خان زوی و[۱]. دی له ۱۸٦۸ څخه تر ۱۸۷۱ ع پوري د کندهارد والي په توګه ټاکل سوی و. په ۱۸۷۸ع کي د امير شېرعليخان د شوراغړی سو. ده د امير شېر عليخان په دربار کې خورا ښه مقام درلود او د امير له ډېرو نزدې ملګرو څخه و. د ګلشن امارت ليکوال مولوي نورمحمد نوري چي د دغه عصر سړی او د حالاتو مستقيم راوي دئ، سردار شېرعليخان (والي شېر علي خان) د "شير پيشۀ دلاور، غضنفر ميدان دلاوری سردار ذوی الاقتدار" په القابو يادوي[۲] او د ده په باب ليکي : "آن سردار نمک حلال وفادار پسر سردار مهردل خان مرحوم است که در شيوۀ صداقت ثانی اثنين صديق اکبر و در طريقۀ مردانگی و فتوت دويم عمر ... (بود)[۳]".

پر کندهار باندي د سردار محمدامين خان د واکمنۍ پر وخت سردار شېرعليخان د نوموړي له نزدو کسانو څخه و. کله چي سردار محمدامين خان له امير شېرعليخان سره د مخالفت لار ونيوله[۴] او د کندهار زياترو

---

[۱] په عين الوقايع (۱۱۹مخ) کي يې سردار شېرعليخان د کهندل خان لمسی بللی دئ او د کتاب مصحح په حاشيه کي ورته کښلي دي (ظاهراً فرزند کهندل خان بوده است). دواړي خبري ناسمي دي. سردار شېر عليخان د مهردل خان زوی او د کهندل خان وراره و. په (۱۳۴مخ) کي يې بيا د مهردلخان زوی بللی دئ. په دغه مخ کي د سردار شېرعليخان له لښکر څخه د سپاهيانو د بغاوت جريان په لنډه توګه بيان سوی دئ.

[۲] ګلشن امارت، ۱٦۴ مخ، دوهم چاپ، ۱۳۸۲ش.

[۳] هماغه اثر، ۱۹۳مخ.

[۴] د دې مخالفت ښکاره علت په کندهار کي د سرو زرو کان پيدا کېدل او د دغه کان د تصاحب پر سر لانجه وه، چي د اتو زرو تنو کندهاريانو د مرګ په بيه تمامه سوه.

خانانو او مخورو په پټه سره له امیر شېرعلیخان سره اړیکي ساتلي وو او ورځني جریانات یې د ده تر غوږو ور رسول، سردار شېرعلیخان په دغه موده کي پټه خوله پاته و. د ده له دې چلند څخه امیر شېر علیخان خوا بدی سو. کله چي د کجباز په جګړه کي (۱۰ محرم ۱۲۸۲ق = ۷جون ۱۸٦۵ع) سردار محمدامین خان د امیر شېرعلیخان د لښکرو له خوا ووژل سو او امیر کندهار ته راغی، له سردار شېرعلیخان سره ماښېجن و او ونه یې غوښتل چي ورسره ووینې. سردار شېرعلیخان هم ځان ګوښه کړ، خو له امیر سره یې خپله وفاداري خوندي ساتلې وه. په دغه وخت کي امیر شېرعلیخان هرات ته د تګ بندوبست کړی و، خو اقتصادي حالت یې ډېر وران و. سردار شېرعلیخان په دغه وخت کي ورحاضر سو او دېرش زره روپۍ او د سفر نور لوازم او خیمې یې ورته برابري کړې. په دې ډول د ده او امیر شېر علیخان ترمنځ دوستي بیا تازه سوه[۵]. کله چي امیر شېرعلیخان مخ پر هرات ونیو او تر هغه وروسته ترکستان ته ولاړ، سردار شېرعلیخان خپل اولادونه له کندهارڅخه د ښوراوک له لاري تر کراچي پوري ورسول او پخپله یې د ایران د بوشهر له لارې ځان اول هرات او بیاتخته پل، ترکستان ته ورساوه او د امیر شېرعلیخان ملګری سو.

د سیدآباد په جګړه کي چي د امیر شېرعلیخان او سردار عبدالرحمان خان تر منځ وسوه (۲۸ ذی الحجه ۱۲۸۲هـ ق = ۱۵می ۱۸٦٦ع)، سردار شېرعلیخان د جګړې تر پایه پوري وجنګېدی خو د امیر شېرعلیخان لښکرو سخته ماته وخوړه او د سردار عبدالرحمان خان پلار محمدافضل خان یې د کابل تخت ته د امیر په توګه ورساوه. په دې جګړه کي سردار شېرعلي خان له جرنیل نوراحمد خان سره یو ځای د سردار عبدالرحمان له خوا ونیول سو او ځنځیر و زولانه کابل ته واستول سو. ارواښاد غبار لیکي، چي په دې جګړه کي "... سردار شیرعلیخان ... در وظیفهٔ عسکری تغافل کرد و امیر شیرعلیخان منهزماً به قندهار رفت[٦]". ګویا د جګړې د ماتي پړه پر سردار شېرعلیخان وراچوي. (په دغه جګړه کي پنځه زره تنه مړه او

---

[۵] ګلشن امارت، ۱۹۳مخ.

[٦] افغانستان در مسیر تاریخ، ۵۹۱مخ.

يو زر شپږ سوه تنه ټپيان سول[۷]. امير محمدافضل خان د پاچهۍ تر ټينګېدو وروسته سردار شېرعليخان له بنده راوايست او د همکارۍ بلنه يې ورکړه خو سردار شېرعليخان په دې پلمه له همکارۍ ځخه نټه وکړه چي هر وخت کندهار د امير محمد افضل خان لاس ته ورسېد، دی به وروسته همکاري ورسره پيل کړي. سردار شېرعليخان له بند ځخه تر خلاصېدو وروسته ځان په ځه چل کندهار ته ورساوه او له امير شېرعليخان سره يو ځای سو.

د ۱۲۸۳ هـ ق =۱۸٦٦ع کال په مني کي چي امير شېرعليخان له کندهار ځخه بيا د کابل د تخت نيولو په نيت لښکر وايست، د کندهار چاري يې بسردار محمدابراهيم خان ته وسپارلې او سردار شېرعليخان يې د (اتاليق) په توګه ورسره مقرر کړ[۸]. د امير شېرعليخان لښکرو ته په کلات کي د سردار عبدالرحمان خان له خوا بيا سخته ماته ورکړه سوه. امير کندهار ته تر شا سو او مخ يې پر هرات ونيو. په دغه سفر کي هم سردار شېرعليخان د امير ملګری و.

په ۱۲۸۵هـ ق =۱۸٦۸ع کال چي امير شېرعليخان د غزني په شش ګاو کي د امير محمداعظم خان او سردار عبدالرحمان خان لښکرو ته ماته ورکړه او د دوهم وار له پاره د کابل پر تخت د امير په توګه کښېنوست، سردار شېر عليخان ته يې د کندهار حکومت ورکړ. ويل کېدله چي د ده په سر کي د پاچهۍ هوا هم وه او د کابل د خلکو ډېره ورسره جوړه نه وه. نوموړی په ظلم او شقاوت باندي مشهور و. د همدې سخت چلند له امله د صدراعظم سيد نورمحمد شاه په حکومت کي تر شاملېدو وروسته، امير شېرعلي خان ورځخه ناراضه سو خو بيا يې هم د يوه لوړ رتبه دولتي شخص په سترګه ورته کتل. سردار شېرعليخان کندهاري په هغه هيئت کي هم شامل و، چي د امير شېرعليخان له خوا له روس سره د مذاکرې په نيت

---

[۷] هماغه اثر، هماغه مخ.

[۸] ګلشن امارت، ۱۷۲مخ.

مرکزي آسیا ته استول سوئ و (جنوري ۱۸۷۹م)[۹].

د امیر شېرعلیخان تر مرګ وروسته چي د هغه مشر زوی امیر محمد یعقوب خان د کابل پر تخت کښېنوست، سردار شېرعلیخان کندهاری په کابل کي و او د نوي امیر په اعتمادي خلکو کي شمېرل کېدی او کله چي امیر محمدیعقوب له انګرېزانو سره د بدنام تړون لاسلیکولو په خاطر ګندمک ته روانېدی، سردار شېرعلیخان ته یې د کابل حکومت وسپاره. د ګندمک د منحوس تړون تر لاسلیکېدو (٦ می ۱۸۷۹ع) وروسته چي امیر محمدیعقوب خان کابل ته راستون سو، سردار شېر علیخان یې د کندهار د والي په توګه وټاکه او هغه هم خپل ولایت ته بیا ستون سو. له دغه وخت څخه سردار شېرعلیخان له انګرېزانو سره د وفادارۍ داغ پر تندي کښېښوو. غبار لیکي، چي سردار شېرعلي ځکه له انګرېزانو سره جوړ سو، چي نه یې غوښتل د کندهارحکومت یې له لاسه ووزي[۱۰]. په کابل کي د کیوناري انګرېز او د هغه د ملګرو تر وژلو وروسته انګرېزانو خپل خښمېدلی لښکر د جنرال رابرټس په مشرۍ کابل ته راولېږی او امیر محمدیعقوب خان یې بندي هندوستان ته واستاوه او د کابل ښار یې وران کړ. د انګرېزانو بل لښکر د سټیوارټ په مشرۍ کندهار تـه ورسېد (فبروري ۱۸۸۰ع) او سردار شېرعلیخان یې د کندهار ولایت ته تر ټولو نورو سردارانو مناسب سړی وباله او ده هم د هندوستان وایسرا ته د یوه لیک په ذریعه له انګرېزانو سره د خپلي وفادارۍ ژمنه تجدید کړه. وایسرا د ده په جواب کي ورته ډېر درانه القاب[۱۱] ولیکل او دا هغه القاب وه، چي د امیر عبدالرحمن خان له پاره هم منل سوي وه. د هند حکومت د سردار شېرعلیخان له پاره د ده

---

[۹] د دې هیئت بل غړی د انګرېزانو جاسوس قاضي قادرو و. قاضي د دې پر ځای چي له روسیې سره د امیر په ګټه خبري وکړي، هڅه یې کوله چي په څه ډول سردار عبدالرحمن خان پیدا کړي او د افغانستان تاج و تخت ته یې وهڅوي، (غبار ۴۵۷مخ). د دې هیئت لېږلو کومه ګټه ونه کړه ځکه امیر شېرعلیخان ته د وطن حالاتو د زړه دوک واچاوه او په مزارشریف کي مړ او هورې ښخ سو.

[۱۰] غبار، افغانستان در مسیرتاریخ، ۶۰۹مخ.

[۱۱] His Highness Sardar Shir Ali Khan, Wali of Kandahar & its Dependencies

پخپله خاوره کي د یوویشتو توپو سلامي او په انګرېزي قلمرو (هندوستان) کي د نونسو توپو سلامي منظور کړه[۱۲]. غبار لیکي، چي د ۱۸۸۰ م کال په می کي کلنل جان د انګلیس د حکومت له خوا د سردار شېرعلیخان تر ملا د تحت الحمایګۍ توره وتړله او ده ته یې مبارکي وویله. سردار په جواب کي وویل : "... این شمشیر را در راه خدمت به انگلستان از غلاف خواهم کشید[۱۳]".

د میوند په تاریخي جنګ کي (۲۷جولای۱۸۸۰ع) د والي شېرعلیخان لښکر د انګرېزانو په پلوي د هلمند پر غاړه سنګر نیولی و، خو لښکر یې د غازي ایوب خان خوا ته ور واووښت. په دغه تاریخي غزا کي د انګرېزانو تر ماتي وروسته والي شېرعلیخان هندوستان ته له خپلي کورنۍ سره ولېږه سو او د کراچي ښار په شمال کي یې په یوه غرنۍ سیمه کي[۱۴] ورته د استوګني له پاره ځای وټاکه. والي شېرعلیخان او کورنۍ یې د ۱۸۸۰ع کال د ډسمبر پر ۲۷مه کراچي ته ورسېدل. د ده اولاده به غالباً اوس هم هورې اوسي ځکه د لودویک ادمک د لیکني پر اساس د ۱۹۷۱ع کال تر وخته لا هورې اوسېدله.

په هغه لیک کي چي د ۱۸۸۰ع کال د جولای پر ۱۸مه د کُشکنخود له انګلیسي کمپ څخه انګلستان ته د یوه انګرېز افسر له خوا لیږل سوي و. له والي شېرعلیخان سره یې د خپلي کتني په باب داسي کښلي دي :

"... زه باید ووایم چي والي شېرعلیخان د زیات ذکاوت څښتن و او په افغاني سیاسي مسایلو کي یې پوره معلومات درلودل. دی شپېږ پنځوس کلن ښکاري. ښکلې څېره لري او د یهودانو په شان جګه چنګکي پزه یې پر مخ ناسته ده. ډېري خبري کوي او پر افغاني موضوع ګانو باندي یې په خلاصه خوله رغېدل خوښېږي. د امیر شېر علیخان او د هغه د زوی ایوب خان په باب ډېر بیانونه کوي. دی ښایي یوازنی سردار وي، چي په وروستیو کلونو کي یې خپل همنومه امیر ته د مشورې غوښتلو پر وخت خپلي

---

[۱۲] لودویک ادمک، هو از هو اف افغانستان، ۲۴۳مخ.

[۱۳] افغانستان در مسیرتاریخ، ۴۴۶مخ.

[۱۴] سراج التواریخ ۲/۲۵۴مخ.

صادقانه نظر يې ورکړي وې. ده د افغاني مسايلو په باب معلومات شخصاً تر لاسه کړي دي او ما ته يې وويل چي له جلال آباد پر ته يې د افغانستان په هر ولايت کي د والي په توګه کار کړی دئ. دی د زياترو نورو واليانو په شان د سخت چلند له امله غندل سوی دئ خو زه باور لرم، چي د ده دا روش د ده د خپل استبداد له امله نه، بلکي خپل بادار ته د ده د وفادارۍ د يوې اړتيا له اسيته و(۱۵)".

په يوه بل اثر کي د ده په باب داسي لولو :

"والي شېرعليخان هغه سړی و، چي له Sir Donald Stewart سره يې ټينګي شخصي اړيکي درلودې. په عمومي توګه دا خبره منل سوې ده، چي د دغه مقام (د کندهار والي توب، م . هـ) له پاره له ده پر ته بل کوم مناسب سردار نسته څکه دی د ډېرعزت څښتن و. دی د انګلستان پر وفادارۍ ژمن و، څکه يې نو له هغوی څخه هيڅ شی نه پټاوه. له بده مرغه ده پر دغه شان بې قانونه خلکو باندي د واکمنۍ ټينګولو کفايت نه درلود. دی له هماغه پيل څخه لا حتی د خپلي قبيلې د سرتېرو له نارضائيتي سره مخامخ و ... د ملکې ويکټوريا له خوا د کندهار ولايت د والي په توګه د شېرعليخان د ټاکلو رسمي دربار د ۱۸۸۰ کال د مې پر يوولسمه جوړ سو. مراسم د بې شيدو چايو د پيالو په وېشلو پيل سول او ورپسې وېناوي وسوې او د ملکې او وايسرا له خوا سوغاتونه را وړاندي سول او په پای کي بيا د افغاني شېرينيو پتنوسونه او د يخو شربتو صراحي ګان راوړل سول ... دوې ورځي وروسته شېرعليخان له جنرال پريمروز سره بيا وکتل ... او ټولو مېلمنو ته يې د دغي کتني په ياد خپله نوې طلايي سکه، چي د عام خپرښت له پاره وهل سوې وه، ورکړه ... شېرعليخان (د کندهار) په نزدې شاوخوا کي د سرو زرو يو کان موندلی و او کله چي بروک (Brooke) يو وخت دی د دغه کان په بيخ کي د خپلو زېرمو د کتلو پر وخت وليد، ډېر اندېښمن سو[16]".

---

(۱۵) وګ : Major Ashe د Personal Records of the Kandahar Campaign راغونډونه، ۴٦ مخ، ۱۸۸۱ع لندن.

[16] وګ : My God – Maiwand! د Leigh Maxwell ليکنه، ۷۱ – ۷۲ مخونه، ۱۹۷۹ع لندن. دا کان تر سردار شېرعليخان د مخه سردار محمد امين خان موندلی و (م . هوتک).

سید ابوالحسن قندهاري چي په ۱۲۸٦هـ ق = ۱۸٦۹ع کال د امیر شېر علیخان دربار ته د نوموړي د پاچا کېدلو له امله د خراسان د والي حشمت الدوله له خوا د مبارکۍ رسولو له پاره تللی و، شپاړس ورځې په کندهار کي تېري کړي دي. دی وايي چي په دغه وخت کي د امیر له خوا د کندهار حاکم سردار شېرعلیخان و او زیاتوي چي له ده سره د کندهار په ارګ کي د سر تېرو دوه لښکره او اتلس توپه موجود وه[17].

سردار غلام محمدخان طرزي چي د امیر عبدالرحمان خان په امر له هیواده وشړل سو او په کراچي میشت سو، د سردار شېرعلیخان له ځینو کارو څخه ناراضه و. همدغه سبب و، چي له کراچي څخه يې شام ته د سلطان عبدالحمیدخان دربار ته پناه وروړه. سردار غلام محمد خان په یوه لیک کي، چي خپل وراره سردار محمدانورخان ته يې کښلی دئ، په ډېره لوړه ادبي ژبه د خپلو اسلافو پر هغه جلال اوبرم باندي افسوس کوي، چي د "بچه ګانو" په لاس له مځکي وهل سوی و. په دې لیک کي دی د بې اتفاقیو په باب خواشینی څرګندوي او لیکي : "... هنوز کجاست پشم ریش گذشتۀ پدران بدست بچه گان نداف حراف این زمان افتاده تا ازین نمدچه کلاه دوزند و ازین خرقه چه ردا سازند...[18]".

دی سردار شېرعلیخان په کنایه ډوله توګه "بوم شوم" بولي او د خپلو ویاړونو له منځه تلل د هم دغه " بوم شوم" له اسیته ګڼي. د دېوان په ۷۰۰ مخ کي د (غزل در وصف آن بوم شوم) تر سرلیک لاندي دا غزله ثبت ده :

ای بــــوم شوم این گل اول قـدوم تست
عالم خراب از قـــــدم شـوم وبوم تست
صد شهر شد خـــــراب زآواز بوم شوم
آثار مـــــــرگ بستۀ دیدار بوم تست
مــردم رود بسوی عدم چـون تو میرسی
اینهم زفیض خاصه ولطف عـموم تست

---

[17] گزارش سفارت کابل، به کوشش محمدآصف فکرت، ٦۳ مخ، تهران ۱۳٦۸ش.
[18] دیوان طرزی افغان، ٦۹۸ مخ.

آتش بکشتزار عـــــدم مـیزند دمت
نار جحیم خود نفس چـون سموم تست
خواندی زبسکه درس زبـرهـان جاهلی
کشف اللغات جهل کـتاب علوم تست
آثار خیروشر زتو پوشـیده جــــاهلی
بردیده ات غشاوه جـهول وظلوم تست
تقویم سـعد زایجـهٔ طالعت نداشت
منحوس هیات تـو هبوط نجـوم تست
طرزی سخن زآتش شـومی او مگوی
طبع شریر او شــرر شمع مـوم تست
(دیوان ۷۰۰ مخ)

غبار د سردار شېرعلیخان او ده ته ورته نورو سردارانو په باب لیکي چي : "... اینها یک دسته فیودالهای طفیلی و هیچکاره ئی بودند که فقط میخواستند نان مفت بخورند و حکم برانند، چه در سایهٔ دوست باشند یا دشمن ...[۱۹]".

د دې بحث په پای کي به دا یادونه هم وکړم، د میوند د تاریخي جګړې په وخت کي چي د سردار شېرعلیخان تر حکم لاندي افغاني لښکر د غازي ایوب خان لور ته ور واوښت، انګرېزان د سردار شېرعلي خان پر وفاداري هم شکمن سول. بریګیډیر جنرال هنري فرانسیس بروک (Brigadier-General Henry Francis Brook) چي د میوند د جګړې پر وخت د کندهار په انګرېزي قطعاتو کي د دوهم لمبر پلي پوځ قوماندان، د واک و اختیار له مخي تر جنرال پرایمروز وروسته دوهمه درجه سړی و او د ده خوجې په تاریخي جګړه کي ووژل سو (۱٦ د اګسټ ۱۸۸۰ع)، تر خپل مرګ څو ورځي وړاندي د جولای د میاشتي د دېرشمي نېټې په یاداښتو کي کښلي وه، چي تر جګړې وروسته یې د کندهار په ښار کي د ناارامیو په له منځه وړلو کي د والي او کوټوال له خوا د زړه له کومي مرسته ونه سوه. جنرال هنري بروک زیاتوي چي ده کلونل سینټ جان (St.John) ته، چي د

[۱۹] غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، ٦۰۹ مخ.

سیاسي چارو سلاکار و، خبر ورکړی و، چې والي باید بندي کړه سي او که مي په ښار کي د چل ول کومه نخښه ولیدله، زه به یې پخپل مسئولیت توقیف کړم. جنرال د جولای د یودېرشمي نېټې په یاداښت کي لیکي، چې دی فکر کوي انګرېزي پوځ د والي له خوا غولول سوی او یا ښایي په لومه کي بند سوی وي[۲۰].

[۲۰] وګ : (Private Journal) د نوموړي جنرال بروک په قلم، ۹۵ – ۹۶مخونه. دغه اثر ما (هوتک) د انټرنیټ پر پاڼه کتلی دئ او د مخونو شمېر هم د همدغي پاڼي له مخي ښوول سوی دئ. زه نه پوهېږم چې د انټرنیټ پاڼي د مخونو شمېر به له اصل سره سر وخوري که یا؟
جنرال هنري فرانسیس بروک د شمالي آیرلینډ و. د ۱۸۸۰ع کال د اګسټ پر شپاړسمه د کندهار د ده خوجې په جګړه کي ووژل سو. مړی یې تر جګړې څو ورځي وروسته، چې غازیان له ده خوجې څخه ووتل، د انګرېزي لښکرو له خوا وموندل سو او هوري یې د توت تر یوې درختي لاندي ښخ کړ او څه موده وروسته یې آیرلینډ ته یووړ او هوري یې ښخ کړ. د جنرال بروک دغه یاداښتونه د ۱۸۸۰ ع کال د اګسټ تر څورلسمي پوري د ده پخپل قلم لیکل سوي دي او تر دغي نېټې وروسته مطالب یې د مېرمني له خوا د هغو لیکونو له مخي ترتیب سوي دي، چې د نوموړي جنرال د مړیني له امله د دولتي چارواکو او د جنرال د خپلو دوستانو له خوا دې ته استول سوي ول. دغه یاداښتونه په کتابي ډول په ۱۸۸۱ع کال په ډبلن کي چاپ سوي دي. اوس چې زه (هوتک) دا کرښي لیکم (۲۹ اګسټ ۲۰۰۷ع)، خبر سوم چې زلمي لیکوال عبدالناصر ریشا یې پښتو ژباړلو ته ملا تړلې ده. خدای دې پر همت برکت کښېږدي.

دوالي شېرعليخان کورنۍ شجره



* سردار نورعليخان د امیر عبدالرحمان خان له خوا ونازول سو. دی په کراچي کي ډېر پوروړی و، امیر یې ټول پورونه ور ادا کړل او کله چې کندهار ته د میلې له پاره راغی، امیر ورته ۱۲ازره روپۍ نوري هم ورکړې او کابل ته یې وروغوښت (غبار۶٦۰مخ). سردار نورعليخان د امیر حبیب الله خان په پاچهي کي ژوندی و. فیض محمد کاتب چې د نوموړي امیر په حکم سراج التواریخ کیښ، د دربار پر نورو معمرو غړو سربېره یې له سردار نورعليخان څخه هم د تاریخي پېښو په باب معلومات اخیستل (وګ : سراج التواریخ، ۲/۱مخ، موسسهٔ تحقیقات و انتشارات بلخ، تهران، ۱۳۷۲ش).

سردار شېرپندل خان

د سردار خوشدل خان زوی او د سردارمهردل خان مشرقي لمسی و. څه موده یې دخوست حکومت هم کړئ و.

سردار خرم دل خان

سردار خرم دل خان د سردار شېرپندل خان زوی د سردار خوشدل خان لمسی او د سردار مهردل خان کړوسی و. پلار یې د خوست د والي په توګه دنده درلوده. خرم دل خان د امیر عبدالرحمان خان په وخت کې د څو کلونو له پاره له وطنه شړل سوی و، خو په ۱۹۰۱ع کال کې د امیر حبیب الله خان د تاجپوشۍ پر وخت کابل ته بیرته راستون سو. امیر حبیب الله خان ورته په ډېره درنه سترګه وکتله او په دربار کې یې لوړ مقام ورکړ. په ۱۹۱۳ع کې کندهار ته راغی او دلته یې خورا ډېر اختیارات درلودل. سردار خرم دل خان په ۱۹۲۹ع کال په پشت رود کې و.

حکمران محمدرفیق خان

حکمران محمدرفیق خان د سردار محمدانورخان زوی د سردار خوشدل خان لمسی او د سردار مهردل خان مشرقي کړوسی و. د مهردل خان د کورنۍ په متاخرو مشرانو کې د زیات دولتي او اولسي نفوذ څښتن و. د دولتي ماموریتو په لړ کې یې د ږنډ د حاکم، د کلات د حکمران او د ګرشک د حکمران په توګه کار کړی و. وروستۍ وظیفه یې د هلمند په نادعلي کې د اسکان ریاست و. حکمران محمدرفیق خان د ۱۳۳۶ ش کال په شاوخوا کې وفات سوی او د کندهار په حضرتجي بابا کې د (کندهاري وروڼو) په هدیره کې ښخ دئ.

د ده دوه زامن د عبدالقدوس خان رفیقي او عبدالخالق خان رفیقي په نامه پاته سول چې دواړه د لوړو تحصیلاتو درلوونکي ول. عبدالقدوس خان

رفيقي د عدليې وزارت د قلم مخصوص په توګه وظيفه درلوده او په ځوانۍ کي په پولينډ کي د يوې ټرافيکي پېښي له امله مړ سو او د صوفي صاحب په هديره کي ښخ دئ. عبدالخالق خان رفيقي په هند کي تحصيلات سر ته رسولي وه او تر تحصيل وروسته يې په ماليې وزارت او عدليه وزارت کي ماموريتونه درلودل. دغه راز يې د باميان، کندز او ننګرهار د والي په توګه کار کړی و. کله چي په افغانستان کي د ثور لومړۍ فاجعه پېښه سوه، عبدالخالق خان رفيقي د ننګرهار د ولايت پر مقام ناست و او د فاجعې په هماغه اوله شپه يې له جنرال يونس خان سره په ګډه وسله وال مقاومت وکړ او د کوتاچيانو په لاس له منځه يووړل سو.

سردار شاه محمدجان (مشهور په حاجي بابا)

د سردار سلطان محمدخان زوی او د سردار حاجي منوردل خان لمسی او د سردار مهردل خان مشرقي کړوسی و. د کندهار په لوېديځ کي د ارغنداو رود پرغاړه د اشوغې په کلي کي اوسېدی. وروسته سرپوزې ته رانقل سو. ډېر دانشمند او خوش صحبته سړی و. د پخوانيو فارسي شاعرانو آثار يې مطالعه کړي وو او پخپله يې هم شعر وايه. پر افغانستان باندي د ثور د اوومي فاجعې له هيواده وتلو ته مجبور کړ او له خپلي کورنۍ سره د امريکا د متحده ايالاتو د نيويارک په ښار کي اوسېدی.

حاجي بابا د ښکار ډېر شوقي و او د دې کرښو ليکوال يې د ښکار ډېري خاطرې په زړه کي خوندي کړي دي.

مدير ګل محمدخان مشرقي (مشهور په مدير ګلوجان)

مدير ګل محمد خان مشرقي د سردار سلطان محمد خان زوی او د سردار شاه محمدخان ورور و، چي د کندهار په معارف کي يې د احمد شاه بابا د ليسې د مدير په توګه د ډېري مودې له پاره د دغه لرغوني ښار د بچيانو په روزنه کي خورا زياتي خولې توی کړي وې. مدير ګلوجان لوړ تحصيلات درلودل او په اداره کي يې خورا نرمه خو اغيزمنه رويه درلوده.

ده د کندهار په ښار کې د فتبال لوبي له پاره خورا ډېر ځوانان وروزل. د ښکار شوق يې هم درلود او د دې قلم چلوونکی يې د ښکار په ډله کې شامل و.

مدير ګلوجان د ثور د فاجعې په لومړيو قربانيانو کې و. جنت فردوس دې په برخه سي. زوی يې محمدابراهيم مشرقي د پښتو شاعر دئ.

د شاغاسیانو کورنۍ[1]

ایشک آقاسي مُرکّبه تورکۍ کلمه ده، چي یوه برخه یې "ایشک" یا "ایشیک" او بله "آقاسي" ده. ایشیک د دروازې احاطې ته وایي او آقاسي د سردار په معنا کارېږي. د ځینو څېړونکو له نظره آقاسي کلمه له (آقا + سي) څخه ترکیب سوې ده او (سي) دلته د اضافي حرف کار ورکوي. په تورکي ژبه کي "ایشي" کلمه د ښځو له پاره د توصیفي لقب په توګه کارېږي. په پښتو او فارسي کي یې معادلي اصطلاحګاني (بي بي) ګڼلای سو. د معاصر افغانستان د احمدشاهي دولت په تشکیلاتو کي به د ایشک آقاسي مقام غالباً د ایران د صفوي دربار له تشکیلاتو څخه اخیستل سوی وي. په صفوي دربار کي د ایشیک آقاسي مقام له (رئیس دربار)، (داروغه دیوانخانه)[2]،(رئیس تشریفات) سره برابر و. د ایران په قاجاري دربار کي یې د سلطنتي تشریفاتو ادارې ته (ایشیک خانه) ویله.

په وروستیو افغاني دربارو کي د ایشیک آقاسي مقام د (وزارت دربار)، (ریاست تشریفات) او (سرمنشي حضور) په شان دولتي او درباري مقامونیولی دئ.

د ایشیک آقاسي نوم او لقب په ورځنیو محاورو کي (شاغاسي) سوی دئ او د شاغاسیانو پراخه کورنۍ په همدغه نامه مشهوره ده.

---

[1] د شاغاسیانو برخه زما زوی ذکي هوتک په انګرېزي ژبه ژباړلې او د یوې مستقلي رسالې په توګه د (Afghan Shaghasis) تر نامه لاندي سږکال (۲۰۰۸ع) د علامه رشاد خپرندویې ټولنې له خوا خپره سوې ده (م.هوتک).

[2] داروغه هم تورکۍ کلمه ده او د (سرپرست) یا (رئیس) معنا لري.

د لویناب شېردل خان کورنۍ

دا کورنۍ د کندهاري سردارانو سره له بارکزيتوب پرته نور اړيکی نه لري. خو څرنګه چې د همدغه عصر په سياسي او نظامي چارو کې ډېره مطرح وه، ځکه يې لنډ شانته بيان له دې کتاب سره يو ځای راوړم.

لکه د دې کتاب په سر کې چې مو ولوستل شاه محمود سدوزي له خپل زوی شهزاده کامران سره په ۱۲۳۴هـ ق کال له کندهار څخه يو لښکر د کابل پر لور وايست. د دې لښکر کښنې هدف د کابل له تخت څخه د امير دوست محمدخان ليري کول وه. شاه محمود په دې لښکر کې په سترګو ړوند سوی وزير فتح خان هم له ځان سره ملګری کړی و. د کندهار حکومت يې نائب ګل محمدخان پوپلزي ته سپارلی و. کندهاري سردارانو کهندل خان، شېردل خان او پردل خان دا موقع مناسبه وګڼله او پر کندهار ښار يې بريد وکړ او ښار يې ونيو. د ښار د نيولو په وخت کې لومړی سړی چې دَ نورزو د شاه برج په برخه کلا ته د لرګو پر زينه ور واوښت، ميرداد خان بارکزی و. سردار شېردل خان د ميردادخان بارکزي د دې زړه ورتوب له امله ورته د ښار تر نيولو وروسته د (ايشک آقاسي ګری) منصب ورکړ[۱]. ميردادخان تر دې وخت دمخه په حکومتي سطحه کې د دومره شهرت څښتن نه و. پلار يې ملا بازار نومېدی چې د بارکزيو يو محلي مشر و او هغه د ياسين خان عمر خانزي بارکزي زوی و. له دې وخت څخه وروسته د ميردادخان بارکزي کورنۍ د شاغاسيانو د کورنۍ په نامه مشهوره سوه او د بارکزيو د سلطنت د بنسټ ايښوونکي امير دوست محمدخان (۱۸۴۳ –

---

[۱]سراج التواريخ ۱۴۱/۱مخ.

ليون پولادا پخپل کتاب (Reform & Rebellion in Afghanistan,۱۹۱۹-۱۹۲۹) ۳٦ مخ کې د لويناب شېردل خان کورنۍ د کندهاري سردارانو له کورنۍ سره ګډه وي. دا يوه جدي تېروتنه ده چې پولادا ته د دغو کورنيو د مشرانو په نوموکي د (دل = Dil) له شاوندي څخه پېښه سوې ده.

۱۸۶۳ع) په دربار کي يې ښه پوره نفوذ درلود. د امير لور شاغاسي شېردل خان ته ناسته وه؟ دغه شېردل خان د ميردادخان زوی و، چي د امير دوست محمد خان له نزدې مشاورينو او معتمدو کسانو څخه و. شاغاسي شېردل خان يو سيمه ييز اولسي سړی و او پر څنګ يې ظريفه طبعه درلوده. د دربار له ډېرو لوړو اراکينو سره يې د ټوکو تر بريده ظرافتونه کول او درباريانو هم بد نه وړل[۲].

د امير شېرعليخان د پاچهۍ په سر کي چي د امير وروڼو د افغانستان په بېلابېلو ولايتو کي د بغاوت او سرکښۍ اورونه بل کړل، امير له شاغاسي شېردل خان څخه د دغو اورو په خاموشه کولو کي کار اخيست.

---

[۲] ميرزا يعقوبعلی خان خافي د شاغاسي شېردل خان د ظرافتونو ډېر بيانونه لري. سيد مسعود پوهنيار پخپل کتاب (ظهور مشروطيت و قربانيان استبداد در افغانستان، ص ۹۰) کي د امير عبدالرحمان خان د کالو ګنډونکي خليفه عبدالله له خولې ليکي، چي يوه ورځ يې د کابل په بوستان سرای کي د امير حضور ته د«ده دوه لمسيان، عنايت الله خان او امان الله خان راوستل. امير دواړه ځان ته مخامخ په چوکۍ کي کښېنول او د ميني لاس يې پر سرو ورتېر کړ. بيا يې د امان لله خان لاس پخپل لاس کي ونيو او په دقت يې ورته وکتل، وې ويل : دا هلک د شاغاسي شېردل لمسی دئ. امير له حاضرو کسانو څخه وپوښتل چي شاغاسي شېردل په تاسي کي چا ليدلی و. حاضر کسان ټول چپ پاته سول. خليفه عبدالله وويل چي "صاحبه ! ماليدلی و". امير سردار عبدالقدوس خان اعتمادالدوله ته، چي تر شا يې ولاړ و، مخ ورواړاوه، په قهر يې ورته وويل چي تا ولي ونه ويل چي ليدلی مي و؟ او زياته يې کړه چي که مي ته په هغو کي شمېرلای، اوس به دلته ژوندی ولاړ نه وای. (د امير مراد له "هغو" څخه د امير شېر عليخان پلويان وه. م. هوتک). امير خپلو خبرو ته ادامه ورکړه وې ويل : شاغاسي شېردل مي، چي د سيدآباد په جګړه کي (په متن کي شش ګاو دئ؟ م. ه) ټپي سو، ونيو او کابل ته مي راووست. تداوي چي يې پای ته ورسېدله او ټپ يې جوړ سو، نو يې د خوشي کېدو غوښتنه وکړه او ما هم آزاد کړ. خو ورته و مي ويل چي که بيا زما په وړاندي وجنګېدلې او و مي نيولې، بيا به نو ژوندی راڅخه ولاړ نه سې. نو موړی ډېر ظريف، په تن پياوړی او ګړ (پُر موی) سړی و. دا هلک (امان الله خان، م. ه) که هم لوی سو، د هماغه په شان به ګړ وي، حتی پر پزه به يې لا وربښتان راختلي وي. امير زياته کړه : هر کله که پاچهي زموږ په کورنۍ کي پاته سوه او دې هلک ته وار ورسېد، يوغښتلی پاچا به ځني جوړ سي. (د امير اټکل سهي و، م.هوتک).

کله چي د امیر ورور سردار محمداسلم خان په بامیانو کي د بغاوت جنډه پورته کړه، امیر، شاغاسي شېردل خان وروليږی چي نصیحت ورته وکړي. په ۱۲۸۲هـ ق کال کابل د امیر شېرعلیخان له لاسه ووت او د سردار عبدالرحمان خان لاس ته ورغی. امیر له کندهاره لښکر پسې ور ویوست. په دغه وخت کي غزنی د شاغاسي شېردل خان او خداینظرخان وردک له خوا اداره کېدی. سردار عبدالرحمان خان د امیر شېرعلیخان د لښکرو د مخنیوي په نیت له کابله راووت، غزنی یې محاصره کړ. شاغاسي شېردل خان او خداینظرخان کلک مقاومت وکړ او غزنی یې ور تسلیم نه کړ. کله چي د امیر لښکري غزني ته راورسېدې، سردار عبدالرحمن خان د غزني کلابندي پرېښووله او سیدآباد ته پر شا سو[۳]. شاغاسي شېردل خان تل د امیر شېرعلیخان له پاره توري وهلې. د سید آباد په جګړه کي (۱۲۸۲هـ ق =۱۸٦٦ع) د شاغاسي شېردل خان ورور شاغاسي امیرجان ووژل سو او پخپله شاغاسي شېردل ټپي سو او د عبدالرحمن خان لاس ته ورغی او کابل ته یې بندي له ځانه سره بوت[۴].

انګرېزانو چي امیر شېرعلیخان انبالې ته دعوت کړ (۱۲۸۵هـ ق=۱۸٦۹ع)، په دغه هیئت کي له امیر سره شاغاسي شېردل خان او زوی یې خوشدل خان هم ملګري ول.

امیر شېرعلیخان چي د جلدک تر جګړې وروسته (۱۰محرم ۱۲۸۲هـ ق = ۱۸٦۵ع) کندهار ته ورسېدی. څه موده یې د ورور، سردار محمدامین جان او زوی سردار محمدعلي جان د مړیني له امله ذهني توازن له لاسه ورکړی و. وروسته چي یې بیر ته حال عادي سو، نو یې ملکي و نظامي چارو ته توجه وکړه. سردار محمدابراهیم خان یې، چي څه موده د کندهار حاکم و، کابل ته د حاکم په توګه ولېږه. له ده سره یې شاغاسي شېردل خان هم واستاوه. د (پادشاهان متأخرافغانستان) مؤلف لیکي: "... ایشک آقاسی

---

[۳]تاریخ سیاسی افغانستان، ۲٦۸مخ.

[۴]سراج ۱۳۱/۲مخ.

له امیرجان څخه به مراد امیرمحمد خان وي چي د ناظم دوست محمد خان پلار و. وګ: د همدې اثر د (۲۴٦مخ) شجره.

شیردل خان که شخص کهنسال کار دیده بود و از معتبران حضور امیر کبیر بازمانده باوجود افغان بودن چنان ذکی و عاقل و رموز فهم و دربار دیده بود که سزاوار تحسین است و خصوص در غیرت و شجاعت و دلاوری کمی و کوتاهی به او شان نبود[۵]".

وایي چي شاغاسي شېردل خان له سردار محمدابراهیم خان څخه ناراضه و[٦] ځکه چي د ده مشورو ته يې غوږ نه نیوه. شاغاسي يې "فتنه انگیز افغان کوهی" باله[۷]. د شاغاسي شېردل خان مشورو ته د سردار محمدابراهیم خان د نه پاملرنو نتیجه وه چي کابل ته يې د سردار عبدالرحمن خان د راتگ زمینه برابره کړه. کابل ته د عبدالرحمن خان بریالی راتگ د شېردل خان له پاره یوه لويه بدنامي وه خو د ده له وسه هیڅ هم نه وه پوره. سردار محمدابراهیم يې په خوله پیاز هم نه میده کول ځکه نو شاغاسي د ژمي په زمرین یخ کي کندهار ته د تگ بندوبست وکړ. خپل زوی شاغاسي خوشدل خان يې له سردار محمدابراهیم سره په کابل کي پرېښوو او پخپله کندهار ته رهي سو، چي د کابل جریانات د امیر شېرعلي خان تر غوږه ور ورسوي[۸].

امیر شېرعلیخان په ۱۲۹۰ھ ق = ۱۸۷۳ع کال خپل زوی شهزاده عبدالله جان د ولیعهد په توگه وټاکه او د هیواد ټولو والیانو ته يې امر وکړ، چي د دې ټاکني له امله جشنونه جوړ کړي. د امیر زوی محمدیعقوب خان، چي د دې ټاکني له امله خوابدی و، په هرات کي د جشن مراسم پر ځای نه کړل. امیر د خپل دربار معتمدسپین ږیری شاغاسي شېر دل خان ورولېږه، چي دلاسا يې کړي او کابل ته يې ورسره راولي. شاغاسي شېردل خان په دغه مأموریت کي بریالی نه سو او محمدیعقوب خان له پلار څخه نور تضمینونه وغوښتل. محمدیعقوب خان له څه مودې خوابدی وروسته پلار ته تسلیم سو او کابل ته ورغی خو پلار بندي کړ. دې کار د ده سکنی ورور

[۵] هماغه اثر، ۱۹۷مخ.
[٦] هماغه اثر، ۲۱۰مخ.
[۷] هماغه اثر، ۲۱۴مخ.
[۸] پادشاهان متاخر، ۲۱۷مخ.

سردار محمدایوب خان ډېر وخښماوه. امیر شېرعلیخان شاغاسي شېردل خان او څو نور معتمدین هرات ته ولېږل چي د سردار محمدایوب خان اعمال تر څارني لاندي ونیسي. سردار محمد ایوب خان د هرات په سیاوشان کي شاغاسي ونیو او ځنځیر پېچ یې هرات ته بوت او له هغه ځایه یې د کوهسان سیمي ته بندي ولېږی. سردار محمدایوب خان تر یو لږ جنګي مانورو وروسته له پلار سره د مقابلې توان په ځان کي ونه لید او مشهد ته وتښتېد. د محمدایوب خان تر تېښتي وروسته د ده ځینو پلویانو غوښتل چي شاغاسي شېردل خان په هماغه بندیخانه کي ووژني، ځکه شاغاسي ټول هغه کسان پېژندل چي له سردار محمدایوب خان سره ملګري ول او هغوی بېرېدل چي ښایي شاغاسي به هغوی امیر ته وروپېژني. خو د ایوب خان د پلویانو په دې تصمیم باندي مهدي قلیخان (مشهور په خان آقا جمشیدي) خبر سو، خپل ورور یې له اوو سوو تنو سره د شاغاسي شېردل ژغورني ته ولېږی. هغوی شاغاسي له بنده راویوست او کشک ته یې بوت. له هغه ځایه یې د اولسي خلکو په ملاتړ پر هرات برید وکړ، دغه ښار یې ونیو او کله چي د امیر له خوا لېږل سوی سپهسالار حسین علیخان ور ورسېد، ښار یې هغه ته ورتسلیم کړ او پخپله شاغاسي د امیر په فرمان کابل ته وغوښتل سو[۹]. شاغاسي شېردل خان په ۱۲۹۱هـ ق = ۱۸۷۴ع کال د شمالي ولایاتو د حکمران په توګه وټاکل سو او په همدغه کال د امیر له خوا ده ته د (لويناب) لقب او زوی خوشدل خان ته یې د (کمکي) ناب لقب وَرکول سو.

شاغاسي شېردل خان لويناب تر ۱۲۹۵هـ ق =۱۸۷۸ع کال ورّاندي په مزارشریف کي مړ سو او د حضرت شاه ولایتمآب په روضه کي ښخ دئ.

---

[۹] سراج ۲/ ۱۹۵– ۱۹۶مخونه.

لویناب شیردل خان

خوشدل خان لويناب[1]

خوشدل خان د لويناب شېردل خان زوی و، چې د ۱۸۴۴م کال په شاوخوا کې زېږېدلی و. پلار يې د امير شېرعليخان شاغاسي او دی پخپله د امير حبيب الله خان د ګراني ماندينې ميرېزی ورور و. د خوشدل خان مور (سايره جانه) نومېدله او د امير دوست محمدخان لور وه.

خوشدل خان يو وخت د ترکستان د والي په توګه وظيفه درلوده. ده په هغه ډله کې برخه اخيستې وه، چې په ۱۸۷۸م کال کې کابل ته د روسي هيئت د بدرګې له پاره ټاکله سوې وه، او کله چې کابل ته د انګرېزانو بدبخته سفير کيو ناري (L.Cavagnari) راتلی، خوشدل خان يې په بدرګه ورسره ملګری و.

لويناب خوشدل خان په ټولو هغو جګړو کې چې د امير شېرعليخان او سردار عبدالرحمن خان تر منځ سوي وې، د امير شېرعليخان له لښکرو سره ملګری و. امير شېرعليخان چې په ۱۲۹٦هـ ق =۱۸۷۹ع له کابله بلخ ته ولاړ چې له روسي دولت څخه له انګرېزانو سره د جګړې په برخه کې مرسته تر لاسه کړي. هورې د وطن له درده د مرګي خوږ ورولوېده. دی لا وفات سوئ نه و، چې زوی يې سردار محمدابراهيم.خان تخته پل ته ځان ورساوه چې د هغه ځای لښکر د ځان مله کړي خو لښکرو ورسره مخالفت وکړ او دی د هزاره جات له لاري مخ پر کابل رارهي سو. په دغه وخت کې امير شېرعليخان په مزارشريف کې وفات سو (۲۹ صفر ۱۲۹٦هـ ق = ۲۲ فبروري ۱۸۷۹ع). د ده له مرګ سره په ټول شمال کې اړودوړ پېښ سو. د تخته پل لښکرو د لويناب خوشدل خان کور چور کړ. لويناب يې له

---

[1] امير شېرعليخان په ۱۸۷۴ع کال کې شاغاسي شېردل خان ته د لويناب او د ده زوی خوشدل خان ته د کمکي ناب لقب ورکړ (پېبنليک، ۲۰۱مخ). خوشدل خان ته د پلار تر مړيني وروسته د لويناب لقب ورکړه سوی دئ.

شاغاسي محمدشاه خان سره یو ځای بندي کړ. خو امیر محمدیعقوب خان تر خپل جلوس (ربیع الثانی ۱۲۹٦ه ق = مارچ ۱۸۷۹ع) وروسته لویناب خوشدل خان په کابل کي پر خپله وظیفه مقرر کړ[۲]. څو میاشتي وروسته خوشدل خان لویناب له غازي سردار محمدایوب خان سره ملګری سو. کله چي غازي سردار له هرات څخه مخ پر کندهار باندي له انګرېزانو سره د غزا په نیت را رهي سو، لویناب شېردل خان ورسره ملګری و، او د لودویک ادمک له خولې چي د لښکر دوهم قوماندان ګڼل کېدی[۳]. کله چي تر غزا وروسته غازي سردار د انګرېزانو د درانه پوځ له لاسه د ۱۲۹۷ه ق کال د روژې پر ۱۴مه د کندهار په باباولي کي ماته وخوړه او هرات ته پر شا سو، هورې یې خپلي قواوي له سره تنظیم کړې او له خپلو وفادارو سرتېرو سره یې مخ پر کندهار ونیو. په دغه وخت کي کندهار د انګرېزانو له خوا امیر عبدالرحمن خان ته ور تسلیم سوی و. غازي سردار چي کندهار ته روانېدی، په هرات کي یې خپل وراره موسی خان د امیر محمدیعقوب خان زوی د حکومت مشر وټاکه او لویناب خوشدل خان یې د هغه د مرستیال په توګه ورسره پرېښود[۴]. د غازي سردار لښکرو د امیر عبدالرحمن لښکرو ته ماته ورکړه او کندهار بیا د غازي ایوب خان لاس ته ورغی خو دا وار امیر عبدالرحمن پخپله له یوه مجهز لښکر سره کندهار ته راغی او د غازي ایوب لښکرو ته یې د کندهار زاړه ښار ته نږدې ماته ورکړه. تر دغي جګړې وروسته چي غازي ایوب خان بیا مخ پر هرات رهي سو او ورپسې پارس ته ولاړ، لویناب خوشدل خان هم ور سره ملګری و. دوی په تهران کي اوسېدل. علامه حبیبي لیکي چي څه موده وروسته غازي سردار د میمنې د والي دلاورخان په غوښتنه له تهرانه پټ مشهد ته ولاړ (۱۰ربیع الاول ۱۳۰۱ه ق). له غازي سردار سره جنرال پرویز شاه خان، خوشدل خان لویناب، سردار محمدهاشم خان، قاضي عبدالسلام خان، عبدالله خان ناصر او احمدعلیخان ملګري وه. مګر دغه ډله د ایران حکومت د انګرېزانو په

---

[۲] تاریخ سیاسی افغانستان، ۳۱۱ مخ.

[۳] هو از هو ان افغانستان، ۱۸۰ مخ.

[۴] مهدي فرخ، تاریخ سیاسي افغانستان، ۳۸۹مخ، ۱۳۷۱ش.

غوښتنه ونیول او په قوچاق کي یې نظربند کړه[۵] خوشدل خان لویناب په پای کي له غازي سردار سره هندوستان ته وکوچېد. هورې د ۱۹۰۴ع کال تر جولای پوري پاته سو. په همدغه کال د اګسټ په میاشت کي له خپلو پنځو ورونو او یو زیات شمېر خپلوانو سره خپل هیواد ته راستون سو. دا وخت په افغانستان کي د امیرحبیب الله خان د پاچهۍ دریم کال و. امیر د دغه کال د لوی اختر په میاشت کي یو چاپي فرمان خپور کړ او په هغه کي یې د دولتي چارو د ښه انتظام په مقصد ځیني ټاکني وکړې، چي په هغو کي خوشدل خان لویناب د کابل د نائب الحکومه په توګه مقرر سوئ و[۶]. دغه وخت ورته د امیر له خوا د معتمد الدوله لقب هم ورکړه سو.

لویناب خوشدل خان د شورا د خاص مجلس غړی او د امیر حبیب الله خان سلاکار و. په ۱۹۱٦ ع کال کي د کندهار د والي په توګه وټاکل سو. پر دغه وظیفه باندي د امیر امان الله خان د پاچهۍ تر لومړي کال پوري پاته سو. د ۱۲۹۸ش کال په حمل کي (فبروري ۱۹۱۹ع) چي صدراعظم سردار عبدالقدوس خان اعتمادالدوله د خپلواکۍ د جګړې له پاره د کندهار د جبهې د قوماندان په توګه وټاکل سو او کندهار ته ورسید، لویناب خوشدل خان یې له وظیفې ګوښه کړ.

د خوشدل خان نوم د دېوان عالي په هغو غړو کي سته، چي د محمدولي خان دروازي او محمود سامي د محاکمې په باب د نادرخان د پاچهۍ په پیل کي جوړ سوی و[۷].

---

[۵] پېښلیک، ۲۰۷مخ.

[۶] پېښلیک، ۲۲۱مخ.

[۷] وګ: محاکمهٔ ... محمدولی خان و محمود سامی، ص۲٦، چاپ ۱۳۸۳ش.



شاغاسي خوشدل خان لويناب

د شاغاسي شېردل خان لوڼي

د شاغاسي شېردل خان پنځه لوڼي پاته سوې :

- تاجور سلطانه (کوکوجانه) : په سردار محمدعلي خان محمدزي واده وه. د کندهار پخوانی نائب الحکومه محمدیونس خان او محمدولي جان يې زامن وو.

- سرور سلطانه (علیاحضرته) د سراج الملت والدین امیر حبیب الله خان ملکه او د امیر امان الله خان مور وه[1]. د امان الله خان په پاچا کېدو او په دولتي مقاماتو کي د بارکزیو په مقرریو کي د دې ښځي لوی لاس و. کله چي د سقوي اغتشاش له امله امان الله خان له تخته لاس پر سو او کندهار ته ولاړ، علیاحضرته د کندهار د خلکو د ملاتړ له امله کورپه کور وګرزېدله. د وخت روحانیونو ته پخپله ورغله او د کابل په بیا نیولو کي یې له هغوی څخه مرسته وغوښتله. ما (هوتک) د خپلو مشرانو له خولې اورېدلي وه، چي علیاحضرته په کندهار کي د عمرجان صاحبزاده جامع ته پخپله په بګۍ کي ورغله او له هغه څخه یې د مرستي غوښتنه وکړه.

---

[1] سرور سلطانه په ۱۲۹۴هـ ق =۱۸۷۷ع کال زېږېدلې او په پنځلس کلنۍ کي یې له سردار حبیب الله خان (وروسته امیر حبیب الله خان) سره واده وکړ. (وګ : پېښليک، ۲۱۲مخ). امیر حبیب الله خان چي پر تخت کښېنوست، د دې له پاره چي د حنفي شرع پر خلاف یې عمل نه وي کړی، خپلي څلور تنې ښځي یې طلاق کړلې چي یوه یې د هرات د نائب الحکومه سعدالدین خان بارکزي لور وه، دوهمه یې د یوسفعلي خان بدخشاني لور، دریمه د ملک لنډي خان منګل لور او څلرمه یې د تاجوخان ساکزي لور وه. څلور تنې یې منکوحه پرېښوولې چي په هغو کي یوه سرور سلطانه د امان الله خان مور. بله یې علیا جناب د سردار یوسف خان لور د محمدنادر خان خور او د شهزاده اسدالله جان مور، دریمه یې صاحب جمال خانم د محمد عثمان خان صافي لور د شهزاده عنایت الله خان مور او څلرمه یې علیا رتبه د امیر شېرعلیخان د زوی محمد ابراهیم خان لور وه. (وګ : تاریخ سیاسی افغانستان، ۴۲۷مخ).

نوموړي د امير د ملاتړ په خاطر يو سفر هم وکړ. دا مطلب مي وروسته د پولادا په کتاب (Reform & Rebellion in Afghanistan۱۹۱۹-۱۹۲۹) ولووست[۲]. په دغه کتاب (۳۸مخ) کي د ميجر واک فرېزر د يوه محرمانه ليک په حواله، چي د هندوستان د سکرتري آف سټېټ په نامه يې کښلی و، د امان الله خان مور علياحضرتي ته د (دلچسپه زړه ورباز) The interesting old eagle لقب ورکړی و[۳].

علياحضرت ته په ۱۹۲۹ع کال د مې په مياشت کي له خپل زوی امان الله خان سره يو ځای بمبئي ته ولاړه او له هغه ځايه ايټاليې ته ورسېده (جون ۱۹۲۹غ). دا تر ۱۹۳۵ع کال پوري په اروپا کي پاته سوه او زياتره به په روم کي د امان الله خان په کور کي اوسېدله خو کله کله به د سويټزرلينډ د منټرو (Montreux) ښار او برلين ته هم تلله. وروسته يې استانبول ته کډه وکړه او په ۱۹٦۵ع کال په دغه ښار کي مړه سوه[۴].

له سرورسلطاني ښځه پر امان الله خان سربېره ځلور لوڼي پاته سوې چي صفورا (قمرالبنات) يې د سپهسالارشاه محمودخان مېرمن، صفيه (ثمرسراج) يې د مارشال شاه وليخان مېرمن، سايره بيګم (سراج البنات) يې د والي علي احمدخان مېرمن او رضيه جانه يې د سردار حسن جان مېرمن وه[۵].

- بي بي همدم : د امير شېرعليخان د زوی شهزاده عبدالله جان (وليعهد) نامزده وه.
- خاورجانه
- زينب جانه

---

[۲] وګ : عمرجان صاحبزاده، د ليکونکي ناچاپ اثر.

[۳] ميجر فرېزر هغه انګرېز افسر و، چي امان الله خان او د هغه ډله يې په کښتۍ کي له بمبئي څخه تر اروپا پوري بدرګه کړه. دی د (Wak Fraser) په نامه باندي مشهور سوی و او (wak) د (William Archibald Kenneth) لنډ شکل و. (وګ: پولادا، ۳۸مخ).

[۴] ادمک، ۲۵۷مخ.

[۵] سردار حسن جان د امير دوست محمد خان زوی و.

علیا حضرت سرور سلطانه

۱- سرور سلطانه (علیا حضرته)
۲- سایره بیگم (سراج البنات)
۳- صفیه سلطان (ثمر السراج)
۴- رضیه سلطان (نور السراج)
۵- صفورا سلطان (قمر البنات)

علي احمدخان والی

علي احمد خان د لویناب خوشدل خان زوی، د لویناب شېردل خان لمسی، د میردادخان کړوسی، د بازارخان کوسی او د یاسین خان کودی و. مور یې د امیر دوست محمد خان لور وه. علي احمد خان د ۱۸۸۳ع کال په شاوخوا کې زېږېدلی و. لودویک ادمک وایي چې د هند په مري (Murree) کې یې تعلیم کړی و. پښتو یې مورنۍ ژبه وه او په پارسي، انګرېزي او اردو ژبو ډېر ښه پوهېدی. کله چې علامه محمود طرزي د سراج الاخبار جریدې خپرول پیل کړل، علي احمدخان یې د سرنګران په توګه وټاکه. علي احمدخان له سردار عنایت الله خان سره هند ته د سفر ملګري کړې وه. په ۱۹۰۵ کال د ملکي شاغاسي په توګه وټاکل سو. په ۱۹۰۷ع کې یې له امیر حبیب الله خان سره د هند سفر وکړ او وایي چې په همدغه کال چې امیر هرات ته په دوره ولاړ، علي احمد خان یې ملګری و. په ۱۹۱۵ع کال ننګرهار ته ولېږل سو، چې شبقدر ته نزدې د مومندو په پاڅون کې د افغانانو د ګډون په باب څېړنه وکړي او هڅه وکړي چې په راتلونکي کې افغانان له هغوی سره یو ځای نه سي. ویل کېږي چې د ۱۹۱۹ع کال په فبروري کې په خپلو وظایفو کې د پاته راتلو له امله د امیر له خوا وترټل سو.

کله چې امیرامان الله خان د پلار تر وژل کېدو وروسته په کابل د پاچهۍ اعلان وکړ، علي احمدخان په جلال آباد کې سردار نصرالله خان ته چې هغه هم د سلطنت اعلان کړی و، خپل بیعت ورکړ او په هغه غونډه کې یې له ولولو ډکه وینا کړې وه چې د سردار نصرالله خان په ملاتړ په جلال آباد کې جوړه سوې وه. وایي چې امیر امان الله د دغي وینا له امله ورځخه ډېر خوابدی و. کله چې سردار نصرالله خان د امیر امان الله خان په ګټه د خپل سلطنت تر اعلان تېر سو او امان الله خان ته یې بیعت ورکړ، علي احمدخان د امان الله خان د عسکرو له خوا بندي سو خو د امان الله خان د مور

علیاحضرتي په کوښښ ډېر ژر له بنده خوشي سو او د دربار په اراکینو کي شامل سو.

د ۱۹۱۹ع کال په جون کي د هغه هیئت د مشر په توګه وټاکل سو، چي له انګلیسانو سره د خبرو له پاره جوړ سوی و.

د همدې کال په اګسټ کي د کورنیو چارو وزیر (ناظر ملکی) سو او په دغه وخت کي په کابل کي اوازه وه، چي علي احمدخان د سپټمبر په میاشت کي له کابله بخارا ته ولاړ چي د هغه ځای د امیر لور د امان الله خان له پاره وغواړي[1] خو د همدې کال په نومبر کي تش لاس راستون سو. کابل ته تر راتګ وروسته یې د امان الله له خور سره واده وکړ. تر دغي خپلوۍ وروسته یې له امیر سره مناسبات خړپړ سول. امیر په کور کي نظر بند وساتې او د دولت یوولس لکه روپۍ باقیداري، چي د علي احمدخان پر غاړه پاته وه، ځني وغوښتله او ویل کېدل چي علي احمدخان د اړیکو په دې خړپړ تیا کي د جنرال غلام نبي خان لاس شامل ګڼه او له جنرال سره یې مناسبات دومره وران سول، چي یو وخت خو یې په سم مجلس کي توري سره وکښلې.

علي احمدخان د ۱۹۲۳ع کال په پای کي له نظربندۍ څخه خوشي سو او په دا بل کال (۱۹۲۴ع) د منګلو د بغاوت پر مهال جلال آباد ته د تنظیمیه رئیس په توګه واستول سو. ده هورې وکولای سول چي د مومندو او اپرېدیو یو لوی لښکر راغونډ کړي او د منګلو بغاوت په مات کړي. ده ته د دغي سوبې له امله د (تاج افغان) لقب ورکړه سو او کابل ته تر راستنېدو وروسته د کابل ولایت چاري هم ور وسپارل سوې.

والي علي احمدخان له امیر امان الله خان سره اروپا ته د هغه په تاریخي سفر کي ملګری و. له اروپا څخه تر راستنېدلو وروسته له کاره بیکاره سو او د ۱۹۲۸ع کال تر ډسمبر پوري یې کومه دنده پر غاړه نه درلوده. په دغه کال د شینوارو شورښ پېښ سو او امیر دی د یوه لښکر په مشرۍ هغه لور ته واستاوه. خو امیر ته داسي اطلاعات ورسېدل چي والي علي احمدخان د ننګرهار له قومي مشرانو سره د خپل ځان د پاچهۍ په باب رغېدلی و. والي علي احمدخان که څه هم امان الله ته ډاډ ورکړ، چي دا کار

---

[1] دا خبره لودویک ادمک کړې ده، ۱۱۵مخ.

يې د يوې جنګي خدعې (ruse) په توګه کړی و، خو بيا هم د امير په زړه کې ناولی لاس وهل کېدی او پر والي علي احمدخان باندې نور باور له لاسه ورکړی و.

په ۱۹۲۹ع (جنوري) کې چې د سقاو زوی، حبيب الله کلکاني کابل ونيو، والي علي احمد خان د خوګيانيو او غلجيو قومونه سره راغونډ کړل او پر کابل يې مارش وکړ، خو په جګړلک کې يې د سقوي لښکرو له لاسه ماته وخوړه او د هندوستان له لارې يې ځان کندهار ته ورساوه. هورې يې د امان الله خان سره يو ځای د کابل د نيولو په پلان کې عملي برخه واخيستله خو له هغه لښکر سره ملګری نه سو، چې د کابل د نيولو په نيت له کندهاره راووت. وايي چې زوی يې نوراحمدجان په دغه لښکرکښې کې کلات ته نږدې شهيد سو. موږ ته معلومه ده، چې دې لښکر تر غزني پورې برياليتوب پر مختګ وکړ، خو هورې د ځينو استعماري شبکو د مرموزو فعاليتو له امله امير امان الله خان د ملت تر منځ د کورنۍ جګړې د اور بلېدو په بيه د خپلې پاچهۍ دوام ته حاضر نه سو او له هغې څخه لاس پر سر سو او له هيواده ووت (۴ جوزا ۱۳۰۸ ش = جولای ۱۹۲۹ع). والي علي احمد خان په کندهار کې د کابل د نيولو له پاره هڅې وکړې خو دا وار يوازې پاته سو او د سقوي سپاهيانو لاس ته ورغی. سمدلاسه يې له مولوي عبدالواسع کاکړ او ملا عبدالاحد پوپلزي سره کابل ته واستاوه. هورې د ۱۹۲۹ع کال په جولای کې په توپ کې والوزول سو[۲].

---

[۲] دکتور خليل الله ورادبارش د خپل کتاب (اميرحبيب الله کلکانی، مردی در حريق تاريخ) په ۱۸۲ - ۱۸۳مخونو کې د فيض محمد (کاتب؟) په حواله ليکي چې د سقوي لښکرو سپه سالار پردل چې پر کندهار باندې بريد کاوه، د ښار د تسليمۍ په کار کې ورسره احمد علي خان لودين مرسته کړې وه. ښاغلي کانديد اکادميسن سيستاني هم د دکتور خليل الله ورادبارش دغه خبره پخپل کتاب (علامه محمود طرزی، شاه امان الله و روحانيت متنفذ، ص ۵۷) کې نقل کړې ده. داخبره ما ته د تأمل وړ ښکاري. ځکه اروانباد احمدعليخان لودين (۱۹۳۸ع مړ) به د اماني دولت په باب ځيني اعتراضونه درلودل، خو دی د نادرخان د ټيم سړی و، او طبيعي وه چې له سقوي واکدارانو سره يې جوړه نه وه. ده د امان الله خان په پاچهي کې د جلال آباد او کوهستان حکومتونه کړي وه او په چين او برلين کې يې د افغانستان د نماينده په توګه کار کړی و. پلار او ←

